خراسان غږ

19 ګڼه

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندويه اداره يې وړاندې کوي

نولسمه ګڼه / 19 شعبان 1444هـ

ملا هبة اخوند د شريعت په

تله کې

د آی ايس آی

جنګي چرګان

مرداري خوري او مښوکي څنډي

ديوبنديان څوک دي ؟

صوفيان مشرکان دي

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي
خراسان غږ مجله 19 مه گڼه
شعبان 1444 هـ

51 د پاکستان مرکزي جمیعت اهل حدیث، دهغوي عقيده او ژوندليک
65 طالبان د کفري استخباراتو نيابتي جگړه‌ماران
84 پېښو څارل

3 د آی ایس آی جنگي چرگان مرداري خوري او مښوکې څنډي

ديني برخه

7 شـــــعبا ن

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد.
بېشکه الله سبحانه وتعالى فرمايي: (نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دين بشپړ کامل کړ، او خپل نعمت مې پر تاسي پوره کړ، او اسلام مې ستاسو لپاره د دين په توگه وټاکه) [المائدة آية: ٣]، او...

10 د تصوف د بنياد په ړنگولو سره شرافت حاصلول

(نيل التشرف بهدم أساس التصوف)
دا د مسلمانانو ترمنځه يو اتفاقي مقام او حيثيت لري، چې يو شي څومره ډير قيمتي او ناياب وي، نو د هغې شي دښمنان او لوټ کونکي هم ډېر او بې شماره وي، بعينه دغه مثال د اسلام د خوږ او محبوب دين باره کې هم وړاندې کولی شو، لکه څنگه چې دغه دين...

سياسي برخه

19 ديوبنديان څوک دي

دخراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! موږ د لوی الله عزوجل په فضل او نصرت تل دا هڅه کړې او کوو يې چې مسلمانانو ته د اسلام حقيقي بڼه وښايو .
تاسې پوهېږئ لکه څنگه چې د سياست په ميدان کې د نظام او حکومتدارۍ په چوکاټ کې...

31 ملا هبة اخوند د شريعت په تله کې

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:
عزتمندو مسلمانانو ورونو!
انسان الله عزوجل مدني الطبع پيدا کړی دی، په اجتماع او ټولنه کې ژوند کوي، نو د انسانانو لپاره يو حاکم، امير او زعيم پکار وي، ترڅو د ديني تقاضاؤ...

ادبي برخه

50 شعر ۱ (ته يې پنځلې د ځالرو وهه)
70 شعر ۲ (له هر طرفه اورم شروع دي اوازې د فتحې)
71 مهاجر زلمی (عبدلله عادل)

د آی ایس آی
جنګي چرګان
مردارې خوري او مښوکې ځنډي

د آی ایس آی مداریانو (جنرالانو) په طالبانو داسې عجیبه لوبه کړې ، بیخې یې ترې تریخې ویستلي ، د پاکستان په مقابل کې هیڅ د غصې او کرکې احساس نه لري . ډیرى خلکو دا فکر کاوه چې که طالبان واک ته ورسیږي نو له پاکستانه خو به حد اقل د خپلو هغه بربنډو مشرانو پوښتنه وکړي چې پاکستان په امریکا وپلورل ، تر لږه خو به دومره غیرت ولري که ورځخه پوښتنه ونه شي کړای نو ورسره خو به خپل روابط قطعه کړي . خو هغسې ونه شوه ، او ولې هغسې وشي ، طالبان خو د پاکستان زر خرید غلامان دي ، چې څه د پاکستان خوښه وي همغسې ورسره کوي ، کله به یې دغسې په زنځیرونو ترې او تحقیروي.

او کله به یې بیا داسې ټیټ سر او لاس په نامه ځان ته دروي

دوی ته خپلې باداري (isi) داسې روزنه ورکړې چې په هر حالات کې پاکستان ته وفاداره دي، د دوی شعار هم (سب سې پهلا کستان) دی .

پاکستان په ډیر هنر خپله سیاسي لوبه روانه کړې ، کله د ټي ټي پي سره مذاکرات او کله له ټي ټي پي سره په ملاتړ له طالبانو شکایات، ټول ددې سیاسي لوبې مختلف اړخونه دي ، هسې خو ماشومان هم په دې پوهیږي چې افغانستان اوس د پاکستان پنځمه صوبه ده ، چې صوبایي ګورنر یې دلته د سفیر په نامه میشت وي ، دلته یوه ټاکنه او یوه ګمارنه هم د (isi) له اجازې او امر پرته نه وي،په افغانستان د طالبانو په نامه د وزیرانو ، رئیسانو او نورو چارپایانو په شکل موظف شوي چورواکي یې ټول راپور خپلې باداري (isi) ته ورکوي ، کله یې کوز ورغواړي ، هلته ترې په اسلام اباد کې دوی ته د ورسپارل شویو ماموریتونو د ترسراوي په اړه حساب غواړي

او کله بیا هغوی د مختلفو هئتونو په نامه راځي د زړو ماموریتونو راپورنه ترې ترلاسه کوي او نوي وظایف ورسپاري چې په همدې هدف یې کله فاحشه باداره رباني کهر رادرومي تر څو ددوی غوړونه ورتاو کړي او کله بیا د استخباراتو او فوځ چارواکي راځي چې دوی خپلو مسولیتونو ته متوجه کړي=

دافغانستان په نامه د پاکستان د پنځمې صوبې چې د پاکستان د نورو صوبو سره په کرښه کومې جګړې طرحه کیږي دا ټولې د ذهنیت سازۍ په هدف ترسره کیږي، نور خو لوی او واړه په دې پوهیږي چې غوا توره ده او شیدې یې سپینې دي.

خو راځو دې ته چې دا د (isi) جنګي چرګان چې کله د همدې باداري په امر د کمونستو چینایانو سره وزرونه جنګوي.

کله یې بیا ټول په ټوله په ناټو، چین او روس پلوري، خو دا جنګي چرګان دا هره مرداري خوري خو مښوکي ځنډي، په ډیره سپین سترګی بیا له هر څه منکریږي او خپل هر کفر ته توجیه لټوي.

یو چارواکی یې وایي چې که دلته کفار شراب څښي که زنا کوي که نوره هره ناروا کوي نو دوی پرې کار نه ورلري، دوی به یې امنیت ساتي. بل یې بیا په اجرت دزنا د جواز په اړه څرګندونې کوي.

خو موتکي یې بیا مښوکه ځنډي او وایي تاسې ولې دلته جنګ کوئ دلته خو نه زنا شته او نه شراب.

ملایعقوب یې وایي دلته لا هم اشغال شته او دوی د ازادۍ د درواغجنو ډنډورو وهلو باوجود ورته په مرو سترګو ګوري.

خو موتکي یې مښوکې ته ځنډ ورکړي او وایي چې دا ملک آزاد دي،

اشغال ختم دی بیا نو ولې جنګیږئ، حال دا چې نظامي، اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، فکري او ډول، ډول اشغال له مخکې لس چنده زیات شوی.

هلته یې ټول چارواکي په یوه خوله وایي چې رافضي مشرکین ددوی ورونه دي، دوی په یو وخت هم سنیان او هم شیعه ګان دي، د دواړو ترمنځ کوم فرق ته قائل نه دي، خو هلته یې بیا موتکې مښوکه وښندې او وایي نه دلته الحاد او بې دیني شته او نه دلته شرک شته تاسې ولې جنګیږئ.

دوی ته روافض او دا نور قبوریان، اغاخانیان او نور مشرکان، مشرکان نه بلکې مؤمنان ښکاري.

د بوتانو، مندرونو او درمسالونو په ساتنه کې یې مرداري وینې مشرکانو سره یو ځای بهیږي خو بیا وایي شرک نه شته.

دوی ته اوس له کفر او شرک کولو څخه وروسته هره ګناه، ګناه نه ښکاري، هلته د ایران ملي سرود ته په تعظیم لاس په نامه ودریږي.

خو بیرته بیا مښوکې وښندې او وایي چې نه موږ خو مجاهدین او د الله داسې مؤمنان بندګان یو چې بل سیال مو نه شته.

له یوه لوري د سکولر اتاترک د تصویر د سیوري لاندې د ترکیې د دیموکراتیک نظام کفري اصولو او فرهنګ ته ټیټ سرونه اعترافات کوي.

ددوی د دیموکراسۍ د ورځې د لمانځنې په مراسمو کې د دیموکراسۍ په دفاع کې مردار شوي شهیدان بولي او ورته دعاوې کوي.

خو چې لږ رادیخوا شي له دې مرداري خوړلو وروسته به مښوکي وخندي او وایي به چې نه ، موږ خو د اسلامي نظام حامیان او د اسلامي شریعت راوستونکي غازیان یو.

له یوه لوري د ایغور د څلویښت میلونه مسلمانانو له یرغمل نیونکو او د شرقي ترکستان د اشغالګرو چینایانو سره د خپلو عزتونو او ارزښتونو په معامله ، کړسنده خندا ګانو او د ایغور په مومنو تور سرو جنسي تیري کونکو چینایانو ته د ډالیو په ورکولو بوخت دي .

خو بل لور ته بیا له دې ګندګۍ له خوړلو وروسته مښوکي څندي او وایي چې موږ به فلسطین ازادوو، موږ د اندلس د ازادۍ اتلان ، موږ د بخارا او ثمرقند غازیان او موږ د ټولې نړۍ فاتحان یو.

نو ځکه موږ وایو چې (isi) د خپل ډیران دا جنګي چرګان داسې روزلي چې د هري ګندګۍ له خوراک وروسته مښوکي څندي چې ګوندي د دوی خو ډیر پاک خواره او ډیر متقیان خلک دي، په دې خوشاله دي چې ګنې په ټوله دنیا همدا منلي او ښاغلي دي ، همدا مجاهدین هم دي ، فاتحان هم دي او غازیان هم دي .

شعبان

ذهنونه روښانه کول په هغه
بدعاتو چې خلک يې د شعبان د
مياشتې په پنځلسمه تر سره کوي

شعبان | ذهنونه روښانه کول په هغه بدعاتو چې خلک يې د شعبان د مياشتې په پنځلسمه تر سره کوي

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، أمابعد:
بېشکه الله سبحانه وتعالى فرمايي: (نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دين بشپړ کامل کړ، او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړ، او اسلام مې ستاسو لپاره د دين په توګه وټاکه) [المائدة آية: ٣]، او رسول الله ﷺ فرمايي: «چا چې زموږ پدې دين کې يو داسې نوى کار پيدا کړو چې له دين څخه نه وو نو هغه مردود دى» [متفق عليه]، او رَدٌّ: په معنى د مردود سره دى.
د الله په دين کې د وروستيو بدعاتو له جملې څخه هغه عبادات هم دي چې د شعبان په پنځلسمه خلکو له ځانه جوړ کړل، لکه د شعبان د مياشتې نيمايي (پنځلسمه شپه) د نفلونو لپاره ځانګړې کول، يا د پنځلسمې نېټې ورځ د روژې لپاره ځانګړې کول، يا پدې ورځ کې د څو معلومو سورتونو تلاوت کول، يا هغه لمونځ تر سره کول چې دوى ورته (صلاة الرغائب) وايي، او بل ته يې (د ميلاد لمونځ) وايي، او بل ته يې (د بېزارۍ لمونځ) وايي، يا د څراغونو بلول او د حلوى ويشل .... او داسې نور چې د همدې ورځ په مناسبت يې خلک پېژني.
او دا ټول هغه څه دي چې د الله له لوري پرې هېڅ دليل نشته! او د دې لپاره له موضوعي او سختو ضعيفو احاديثو پرته بل هېڅ اساس نشته، او د مسئلې په اړه د علماوو ځيني اقوال په لاندې ډول دي:
امام قرطبي رحمه الله وايي: ”د شعبان د مياشتې د نيمې شپې په اړه هيڅ معتبر حديث نشته؛ نه د هغې د فضيلت په هکله، او نه هم په دې کې د ټاکل شوې مودې په لغوه کولو“ [الجامع لأحكام القرآن].
امام ابوبکر الطرطوشي المغربي وايي: ”ابن وضاح له زيد بن أسلم څخه روايت کوي هغه وايي: موږ له خپلو مشائخو او فقهاوو هېڅ يو تن نه ليدلى چې د شعبان د مياشتې نيمايي شپې ته يې کوم اعتبار ورکړى وي، او د مکحول حديث ته يې هم پام نه دى کړى، او نه يې تر نورو ورځو غوره ګڼلې“ [الحوادث والبدع للطرطوشي]
علّامة ابن القيم رحمه الله فرمايي: ”او له موضوعي احاديثو څخه: د شعبان د پنځلسمې شپې د لمانځه په هکله احاديث هم دي“ [المنار المنيف في الصحيح والضعيف].

حافظ ابن دحية رحمه الله وايي: "د جرح او تعديل والا خلکو ويلي دي: د شعبان د پنځلسمي په احاديثو کې هيڅ صحيح حديث نشته، نو اى د الله بندګانو له هغه جوړونکو څخه ځان وساتئ چې هغه تاسو ته يو حديث روايت کوي او د نيکۍ په ځاى کې يې کاروي، نو نيکي خو بايد د رسول الله ﷺ لخوا جائز کړى شوې وي، او کله چې د دې دروغجن والى ثابت شو نو له جواز څخه ووتلو،

او د دې کاروونکى د شيطان له خدمتګارانو څخه دى ځکه چې هغه څه رسول الله ﷺ ته د حديث په توګه منسوبوي چې د الله له طرفه پرې هېڅ دليل نشته" [الباعث على إنكار البدع والحوادث لأبي شامة المقدسي].

امام شوکاني رحمه الله وايي: "مَجَد په المختصر کې ويلي دي: د شعبان مياشتې د پنځلسمي شپې د لمانځه په هکله حديث باطل دى، او د هغه په څېر نورو امامانو هم دېته ورته خبره کړې ده" [تحفة الذاكرين].

امام نووي رحمه الله فرمايي: "او دغه دوه لمونځونه – صلاة الرغائب او د شعبان د پنځلسمي لمونځ يې مراد دى – له ډېرو بدو او قبيحو بدعاتو څخه دي" [المجموع].

د محترمو علماوو له دغه ويناوو څخه وروسته؛

له دغو ويناوو وروسته محترمو علماوو؛ اى زما مسلمانه وروره تاته څرګنده شوه چې د شعبان د مياشتې په پنځلسمه (د شعبان په نيمايي) شپه او يا پدې ورځ پورې کوم عبادت ځانګړى کول روا نه دي.

سره لدې چې په عموم کې د شعبان د مياشتې فضيلت شته، او په دې مبارکه مياشت کې د رسول الله ﷺ د روژې نيولو اهتمام هم ثابت دى، د مؤمنانو له مور عائشې ـ رضي الله عنها ـ څخه روايت دى هغه وايي: "رسول الله ﷺ په يوه مياشت کې هم پرته د شعبان له مياشتې زياته روژه نه ده نيولې" [متفق عليه]، له أسامه ابن زيد ـ رضي الله عنه ـ څخه روايت دى هغه وايي: ما وويل: اى د الله رسوله ﷺ، ما نه يې ليدلى چې په ټولو مياشتو کې دې دومره روژې نيولې وي لکه په شعبان کې چې يې نيسې؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا هغه مياشت ده چې خلکو له پامه غورځولې ده، د رجب او رمضان ترمنځه ده، او دا هغه مياشت ده چې پدې کې الله رب العلمين ته پورته أعمال ور خېژولى شي، نو زه دا خوښوم چې زما عملونه په داسې حال کې پورته شي چې زه روژه يم. [رواه النسائي حسن حديث دى].

اى الله ته مو د سنتو له پيروانو وګرځوه او له بدعتيانو څخه مو مه ګرځوه.

د تصوف د بنیاد په ړنګولو
سره شرافت حاصلول

(نيل التشرف بهدم أساس التصوف)

دا د مسلمانانو ترمنځه يو اتفاقي مقام اوحيثيت لري، چې يو شي څومره ډير قيمتي او ناياب وي، نو د هغې شي دښمانان او لوټ کونکې هم ډير او بې شماره وي، بعينه دغه مثال د اسلام د خوږ او محبوب دين باره کې هم وړاندې کولی شو، لکه څنګه چې دغه دين ډير قيمتي او عندالله قدرمند او د مرتبې والا دين دی، نو فلهذا شيطان لعين د دې د لوټ کولو او خرابولو پوره کوشش شروع کړی دی او د دې لپاره يې مختلف انسي شيطانان هم په کار اچولي دي او بيا دغه د الله سبحانه وتعالی دښمن خپله د دښمنۍ طريقه اوکيفيت دا په هر عصر او زمانه کې په مختلفو صورتونو او شکلونو سره کوي، کوشش يې همدا وي چې خلک د هغه دين نه چې الله ته قبول او منظور ګرځېدلې او الله تبارک وتعالی پرې د خپلې رضا اعلان کړی، د الله بنده ګان له هغې څخه راوګرځوي او په کفر او شرک کې ورننباسي، د هغه د دې مذموم فعل قصد او ارادي نه مونږ ته زموږ خالق او معبود برحق داسې خبر راکوي. قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ثُمَّ لَءَاتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ

ژباړه: ابليس وويل: نو څنګه چې تا زه په ګمراهۍ کې اخته کړی يم، زه به خامخا اوس دغه انسانانو ته ستا د سمې او نيغې لارې په سر باندې کينم؛ بيا به ضرور راتګ کوم دوی ته (په وسوسو او شبهاتو او شکونو سره) د مخې د دوی څخه او د شاه د دوی څخه. د دوی د ښي لورې او له چپ لور څخه، ته به د دوی څخه زياتره شکر ايستونکي ونه مومې. خو داچې شيطان په هردور او زمانه کې په دې کې پاتې راغلی چې د الله د راليږلي دين او شريعت نه خلق په شعوري بول سره واړوي، نو راولګيد او له دې لارې يې کارواخست چې په هغوی کې يې د دين او شريعت د أجر ثواب او فضيلت په نوم داسې ايجادات وکړل چې په هغوی يې د هغوی اديان ورخراب کړل که تاسې قرآن او حديث ته وګورئ نو د شيطان د دې بدې کړنې تور او کرغيرن تاريخ يې صفا ذکر کړی دی. (ذکر بدء التاريخ لغارة

الشيطان المرّيخ)

او همدا د شيطان د دې حسيسې طريقې د ايجاد تاريخ دی، چې الله تبارک وتعالی ورته په خپل مقدس کتاب کې په [سُورَةُ البَقَرَة ٢١٣] کريمه کې ذکر کړی، فرمايي: {كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وٰحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهم الكتاب بالحق ليحكم بين الناس فيما اختلفوا فيه }ژباړه: په اول وخت کې ټول خلك په يوه لاره روان وو (يعنې د خپل رب عبادت به يې کاوه، عقيدې يې د توحيد وې، شرک په کې نه و، بيا چې کله د دوی په عقيدو کې شرک او نور عقيدوي خرابوالی رامنځ ته شو نو الله دې خلکوته په دغه وخت اوزمانه کې پيغمبران وليږل چې زيري ورکوونکي شي (هغه چاته چې هغوی توحيد منونکی او په حق باندې روان وي) او ويره ورکونکي شي (هغه چاته چې هغوی شرک کونکې وي او په باطل باندی روان وي) او له هغو سره يو ځای يې حق کتابونه وليږل، تر څو هغه اختلافونه چې د حق په باب کې د خلکو تر منځ راغلي و، فيصله کړي. (التفسير والوضوح على أن المراد فى هذه الاية هم قوم نوح) دا چې د دې آيت نه مراد همدا د نوح عليه السلام د قوم زمانه ده راشئ او دا هم له مفسرينو څخه واورئ مشهور مفسر امام ابن کثير رحمه الله د دې آيت په تفسير کې په [١/٢٢٥] کې فرمايي:

(عن ابن عباس، قال: كان بين نوح وآدم عشرة قرون، كلهم على شريعة من الحق، فاختلفوا، فبعث الله النبيين مبشرين ومنذرين.)

ژباړه: فرمايي د آدم او نوح عليهما السلام ترمنځه لس پيړۍ تيرې شوې، چې تردې دمه دغه ټول خلک په حق شريعت باندې عمل کونکي وو، نو بيا دوی د حق مخالفت شروع کړ، نو الله تبارک وتعالی انبياء راوليږل چې صالحينو ته زيري ورکونکي شي او باطل پرستو ته ويره ورکونکي.

بيا ابن کثير رحمه الله دابن عباس رضی الله عنهما نه بل قول ذکر کوي چې هغه فرمايي: چې دغه انسانان تردې دمه ټول کافر وو چې بيا الله تعالی له هغې بعد انبياء راوليږل خو بيا بيرته ابن کثير رحمه الله په دې قول ردّ کوي فرمايي: (والقول الأول عن ابن عباس أصح سندا ومعنى، لأن الناس كانوا على ملة آدم حتى عبدوا الأصنام، فبعث الله إليهم نوحا عليه السلام، فكان أول رسول

بعثه الله إلى أهل الأرض)

ژباړه: فرمايي: او اول قول دابن عباس رضی الله عنهما نه سنداً او معناً دواړو طريقو سره ډير صحيح دی او هغه داچې دغه انسانان ټول د آدم عليه السلام په راوړې ملت باندې روان وو تردې چې دوی د بتانو عبادت شروع کړ، نو پس بيا الله تبارک وتعالی نوح عليه السلام د رسول او نبي په حيثيت او صفت سره د دعوت دپاره دوی ته راوليږه نو دغه نوح عليه السلام اول هغه رسول دی چې الله تبارک وتعالی د ځمکې والاوو ته را استولی دی، دا شو عزتمندو د شرک د ايجاد تاريخ اوس راشئ او دا هم په علم کې راولئ چې د شرک د دغه تاريخ د ايجاد کيفت او طريقه په مسلمانانو کې څنګه شوي او شيطان دغه کار ته په کومه طريقه او کيفيت سره راتلل کولې شي نو داهم واورئ (النبأو الحذروالتبعيد)

(من ذكر كيفية عداوة ابليس العنيد)

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې د ابن عباسٍ رضي اللَّهُ عنْهُمَا، نه نقل کړي چې هغه د ودّ، سواع، يغوث او يعوق کوم چې سورت نوح کې الله تبارک وتعالی د قوم نوح د باطلو معبودانو په صفت کې ذکر کړي، ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي: (صَارَتِ الْأَوْثَانُ الَّتِي كَانَتْ فِي قَوْمِ نُوحٍ فِي الْعَرَبِ بَعْدُ أَمَّا وَدٌّ كَانَتْ لِكَلْبٍ بِدَوْمَةِ الْجَنْدَلِ وَأَمَّا سُوَاعٌ كَانَتْ لِهُذَيْلٍ وَأَمَّا يَغُوثُ فَكَانَتْ لِمُرَادٍ ثُمَّ لِبَنِي غُطَيْفٍ بِالْجَوْفِ عِنْدَ سَبَإٍ وَأَمَّا يَعُوقُ فَكَانَتْ لِهَمْدَانَ وَأَمَّا نَسْرٌ فَكَانَتْ لِحِمْيَرَ لِآلِ ذِي الْكَلَاعِ) ژباړه: يعنې دغه بوتان چې قوم نوح يې عبادت کولو دا بيا وروسته عربو ته رانقل شو نو کوم چې ودّ بوت و دا د عربو د کلب قبيلې لپاره و، چې په دومة الجندل مقام کې و او هغو به يې عبادت کاوه،

او کوم چې سواع بوت و، نو دا د عربو د هذيل قبيلې والاو په برخه رسيدلی و، هغو به يې عبادت کاوه، او کوم چې يغوث بوت و نو دا اول د مراد قبيلې د عربو و، بيا د بني غطيف قبيلې والاو وګرځيده، چې د سباء مقام سره نصب و، او کوم چې يعوق بوت و، نو دا د همدان قبيلې د عربو و، د هغې به يې عبادت کاوه او کوم چې نسر بوت و، نو دا په عربو کې د حِمير دال ذی الکلاع قبيلې رسيدلی و هغوی به يې عبادت کولو.

بيا ابن عباس رضی الله عنهما د دې تاريخ او کيفيت ذکر کوي او فرمايي: (أَسْمَاءُ رِجَالٍ صَالِحِينَ مِنْ قَوْمِ نُوحٍ، فَلَمَّا هَلَكُوا أَوْحَى الشَّيْطَانُ إِلَى قَوْمِهِمْ أَنِ انْصِبُوا إِلَى مَجَالِسِهِمُ الَّتِي كَانُوا يَجْلِسُونَ أَنْصَابًا وَسَمُّوهَا بِأَسْمَائِهِمْ، فَفَعَلُوا فَلَمْ تُعْبَدْ حَتَّى إِذَا هَلَكَ أُولَئِكَ، وَتَنَسَّخَ الْعِلْمُ عُبِدَتْ) ژباړه: فرمايي دا اصل کې د نوح عليه السلام د قوم صالح انسانان وو، نو چې کله هغوی وفات شو نو شيطان د دوی قوم او اولادې ته دا وسوسه ورواچوله، چې د دوی شکلونه يعنې د دوی په شکل او صورت بتان جوړ کړي او په کومو ځايو نو کې به چې هغوی عبادت ذکر او دعا ته کيناستل هلته يې ودروي او د هغوی په نومونو يې ونوموي، نو قوم يې هم همداسې وکړل خو عبادت يې ورته تر هغه ونه کړ، چې ترڅو دغه پيړۍ هلاکه شوه او صحيح علم ختم شو، نو بيا يې له هغې بعد عبادت شروع شوو.

وګوره صحيح البخاري سورت نوح باب ودا ولا سواعا ولا يغوث ويعوق [رقم الاثر ۴۵۶۹]

دغه ډول رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د مشرکانو د قبر پرستۍ او بوت پرستۍ د ايجاد تاريخ او کيفيت همدا ذکر کړی، صحيح البخاري کې په کتاب الجنائز کې په [۱۳۴۱] باندې د عايشې مور رضی الله عنها څخه روايت دی، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيبيانو ام سلمې او ام حبيبې رضی الله عنهما، د هغې کنيسی چې ماريه يې نوم وو او دوی په حبشو کې ليدلې وه، د هغې د حسن او په هغې کې د تصويرانو ذکر د نبي صلی الله عليه وسلم په حضور کې وکړ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل أ: ولَئِكِ إِذَا مَاتَ مِنْهُمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّورَةَ، أُولَئِكِ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ.

ژباړه: فرمايي دا هغه خلک وو، چې کله به له دوی څخه کوم صالح انسان وفات شو نو دوی به يې په قبر مسجد جوړ کړ بيا به يې په دې مسجد کې د دې صالح انسان شکل او صورت جوړ کړ، همدا خلک د الله په نزد شرترينه مخلوق دی.

(تشخيص المرض ببدء المقصود والغرض)

عزتمندو مسلمانانو ورونو او خويندو! غرض مو له دې تفصيلي مقدمې او طويل تمهيد څخه هغه دادی چې د دين دښمنان هيڅ کله او په هيڅ وخت کې هم دا نه شي کولی چې هغوی ستا د دين احکام ستا په وړاندې بدل کړي او ته ورته خاموش ووسې او يا شرک او بدعات د شرک او بدعاتو په نوم شروع کړي او مسلمان دي ورسره دا هر څه ومني، نه هرګز نه، بلکه هغوی دغه کار ته په هغه لاره راتاوېږي، په کومه لار چې شيطان د نوح عليه السلام قوم ته راغی او شرک يې ورته د اجر او ثواب په نيت وروښوده او هغوی يې هم درونه استقبال او هرکلی وکړ، تر دې چې اوس نو دادی پيړۍ، پيړۍ تيرې شوې، خو شرک ختم نه شو، د شيطان دغه پاليسي او ستراتيژي په اسلام کې د اسلام په نوم د اسلام هغه ټولو دښمنانو په عمل کې راوستي کومې چې نن د مختلفو فرقو ډلو او طائفو په صورت کې موجودې دي، ځانونو ته مسلمانان وايي بلکه بعضې لا په کې دولِايتونو او کرامتونو دعوې هم کوي او عوام مسلمانان يې هم د زړه له تله مني او په احترام ورته قائل دي او په منځ کې دغه عوام له دې څخه خبر نه دي، چې دا څوک دي، که خبرشي چې دا د الله عزّوجلّ او د هغه د رسول د راوړي شريعت څومره مخالفت کونکي او د هغې سره په کوم مقدار او انداز کې په ضد او ټکر کې واقع دي، نو فکر نه کوم چې بيا به دغه باطل پرست د مسلمانانو په کلي او منطقه کې سورې ولري، خو مونږ مخکې دغه وضاحت وکړ چې دغه باطل پرست مشرکان او د شرک دعوت کونکي د اسلام په لباس او د هغې د احکامو په عمل کولو سره ځانونه راښکاره کوي، تر څو د دې په مټ آسماني دين او شريعت فاسد کړي او بيا دې هدف ته په رسيدو کې ظاهرا کامياب شوي ځکه دي چې بيرته د ځانونو د دفاع لپاره يې همدا عوام مسلمانان د سپر او ډال پشان

رامخکښې کړي.

د دې لنډ مثال او نقد ثبوت عبد الله بن سبأ دی کوم چې د اهل علمو د تحقیق موافق د اصل څخه یهودي وو، چې په ابن سودا سره هم مشهور دی، کله چې هغه د مسلمانانو په منځ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهل البیت سره د محبت په اظهار سره خپل شهرت ترلاسه کړ او په دې خه مطمئن شو چې اوس مې مسلمانانو کې طرف دار او دفاع کونکي پیداشو، نو بیا یې د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما توهین شروع کړ.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په الصارم المسلول کې ذکر کړی

چې کله علي رضی الله عنه د هغه په دې کار او عقیده خبر شوو نو راویې غوښته د دې لپاره چې قتل یې کړي، نو خپله په مسلمانانو کې داسې خلک د علي رضی الله عنه مخې ته د ابن سباء د قتل مانع شول چې هغوی د دې زهریله ښامار او لړم ظاهر باندې دوکه شوي وو او د حقیقت څخه یې خبر نه وو او علي رضی الله عنه ته یې وفرمایل: تقتل رجلا یدعو إلی حبکم أهلِ البیت؟

ژباړه: آیا ته داسې سړی وژنې چې هغه ستاسو داهل بیت محبت ته خلک دعوت کوي [۱/۵۸۴]

نو نتیجه داشوه چې همدا سبب شو د دې چې دغه د الله او د هغه د رسول او د مسلمانانو دښمن د مرګ نه وژغورل شو، خو د ده په بقا کې تاوان هم وګوری، تاوان داشو چې وروسته د هغه دغه نظریه یو مستقل اعتقاد او مسلک وګرځېده چې نن د ځمکې تقریباً نیمه یا د نیمې لږه کمه برخه د دې شرکي او کفري اعتقاد حاملین، داعیین او مبلغین دي، چې د رافضیت په نوم سره شهرت لري چې مونږ دغه تفصیل په بل مقام کې کړی دی.

الغرض؛ داسې ډلې او فرقې خو زیاتې دي، چې هغوی د اسلام د لباس او پردې نه لاندې خپل کفریات او شرکیات رامخ ته کړي، خو زمونږ هدف اوس فعلاً د تصوف نه تولیدشوي د صوفیانو د اجماعي عقائدو، اعمالو او مختلقو عباداتو تردید کول دي او مقصود مو په دې سره هغه دادی چې غواړو هغه مسلمانان چې د دوی د عقیدې مسلک او هدف نه خبر نه دي، چې هغوی خبر شي او د

دوی څخه ځانونه لرې وساتي د دې لپاره چې یو خو به زمونږ دعوتي ذمه عند الله فارغه شي ان شاء الله او بل دا چې دغه مسلمانان عوام چې د تصوف په کید، چال او مکر کې ګیر شوي له هغې نه ازاد او د کتاب او سنت تابعداریې وګرځي ترڅو د ابدي ذلت او بربادۍ نه بچ او ابدي کامیابي راحت او خوشحالي یې په نصیب شي، نو په دې مناسبت سره راځو او د تصوف ابتدایي مباحث ذکر کوو ترڅو د دې ډلې او فرقې په معرفت او پېژندنه کې سهولت رامنځ ته شي.

(حكايةُ التكلف)

(التي نقلت في تعاريف التصوف)

د تصوف مسلك ته منسوب شخص ته صوفي ویل کیږي، دا نوم د دې له وجهې نه بیانسبتي شي لکه: مدني، قریشي، افغاني، کابلي... وغیره اوس دا خبره چې د صوفي اصل ماده د اشتقاق څه ده، راځو او دا ذکر کوو د دې باره کې په خپله د تصوف والاو نه هم مختلف اقوال نقل دي، چې که د هغې باره کې فکر وکړای شي نو د محض تکلف نه بغیر د بل نوم حق نه لري.

متقدم صوفي علي الهجویري خو په کې دومره اضطراب ښکاره کړی تردې چې هغه په خپله رساله [کشف المحجوب ص ۲۳۰] کې چې اصل د دې کتاب اردو کې دی، عربي ته ترجمه شوی، ویلې یې دي چې: (إن اشتقاق هذا الاسم لا يصح من مقتضى اللغة في أي معنى , لأن هذا الاسم أعظم من أن يكون له جنس ليشتق منه)

ژباړه: وایي بې شکه اشتقاق د دې اسم که په هره معنی وي د لغت په اعتبار سره صحیح نه دی، ځکه دا نوم ډیرلوي دی، د دې نه چې دا دې یو جنس ولري چې د هغې څخه دې مشتق وګڼل شي، سبحان الله د تعجب خبره ده هسې انسان حیران شي چې ایا رښتیا هم دا تصوف دومره معتبر او عندالله مرضي دی، چې هیڅ کلمه او لغت حق د دې نه لري، چې د دې نوم لپاره اصل وګرځي. همدغه ډول بل صوفي بلکه د صوفیانو قطب عبدالکریم قشیري هم لیکي (ليس يشهد لهذا الاسم من حيث العربية قياس ولا اشتقاق)

ژباړه: دې نوم ته په عربي لغت کې هیڅ داسې څه کلمه نشته چې قیاس یا اشتقاق یې ترینه وکړای شي.

[الرسالة القشيريه ۲/۵۵۰]

نو عزتمندو! سره له دې چې د تصوف کلمه کې د لغت اصل او اشتقاق متعلق صوفیان هم په دې معترف پاتې شوي، چې دغه لفظ د اشتقاق لپاره اصل اصیل نه لري، خو بیا هم د دې لفظ د اشتقاق متعلق مختلف اقوال نقل دي، د دې اقوالو متعلق به د شیخ الاسلام رحمه الله هغه عبارت نقل کړو چې د دې اقوالو خلاصه بحث یې په کې په ډېر ښایسته انداز سره کړی دی، هغه فرمایي: فقيل: إنه نسبة إلى " أهل الصفة " و هو غلط؛ لأنه لو كان كذلك لقيل: صُفّي و قيل نسبة إلى الصف المقدم بين يدي الله و هو أيضا غلط؛ فإنه لو كان كذلك لقيل صَفِّي و قيل: نسبة إلى صوفة بن مر بن أد بن طانجة قبيلة من العرب كانوا يجاورون بمكة من الزمن القديم ينسب إليهم النساك و هذا و إن كان موافقا للنسب من جهة اللفظ فإنه ضعيف أيضا؛ لأن هؤلاء غير مشهورين و لا معروفين عند أكثر النساك و لأنه لو نسب النساك إلى هؤلاء لكان هذا النسب في زمن الصحابة و التابعين وتابعيهم أولى و لأن غالب من تكلم باسم " الصوفي " لا يعرف هذه القبيلة و لا يرضى أن يكون مضافا إلى قبيلة في الجاهلية لا وجود لها في الإسلام

ژباړه: فرمایي: ویل شوي چې دا صوفي یا تصوف لفظ دا نسبت دی اهل صفه وو ته، خو دا قول غلط دی، ځکه که داسې وای، نو بیا به صُفّی ویل کیده نه صوفي، بیا فرمایي: او ویل شوي چې دا نسبت هغه صف اول ته دی چې الله ته ولاړ وي، خو دا نسبت هم غلط دی ځکه که داسې وي، نو بیا به صَفِّی ویل کیده صوفي به نه ویل کیده، بیا فرمایي: او دا هم ویل شوي چې دا نسبت دی خالص والي ته د الله په مخلوق کې (یعنې د الله خاص او خالص بنده ګان) خو دا نسبت هم (د لغت په اعتبار سره) غلط دی، ځکه که داسې وي، نو بیا به صفوي ویل کیده نه صوفي بیا فرمایي او ویل شوي چې دا نسبت صوفه بن أد بن طانجه ته دی، چې دا د عربو یوه قبیله وه چې هغوی په پخوا زمانه کې مکه کې د (کعبې) مجاورت کولو چې د عبادت کونکو نسبت په دې بنیاد سره اوس دوی ته کیږي، خو دا نسبت اګر چې د لفظ په اعتبار سره خو موافق دی، خو دغه (رأیه د اصل په اعتبار سره) ضعیفه ده، ځکه چې هغوی د ډېرو عبادت کونکو په نزد معروف او مشهور نه دي، بل که چرته عبادت کونکي دوی ته منسوب کیدلی نو بیا به (د دې زمانې د عبادت کونکو په نسبت) دغه نسبت ډېر أولی وي، چې دوی ته دغه نسبت د صحابه او تابعینو او د تبع تابعینو په زمانه کې کیدلی او بل دا چې غالب دا ده چې اول چې چا د صوفي په کلمه تکلم کړی، هغه خپله دا قبیله نه پیژندله او نه په دې راضي کیده، چې د هغه دې نسبت داسې قبیلې د جاهلیت ته وشي، چې په اسلام کې یې د سره وجود نه وي راغلی او بیا فرمایي: و قيل: – و هو المعروف – إنه نسبة إلى لُبس الصُّوف؛

او ویل شوي او دا د منلو وړ خبره ده چې دغه د صوفي کلمې نسبت دا د وړۍ اغوستلو ته شوی. [مجموع الفتاوى ۱۱/۷].

(القول الواضح)

(فی تعیین التعریف الراجح)

عزتمندو! د تصوف د لغوي تعریفاتو دغه واړه مجموعه تاسې ولیده چې د دې ټولو تعریفاتو ټکر او مخالفت د عربِ د اصل لغت سره واقع کیده خو په دې کې د عربیت اسلوبو او قواعدو ته نږدی دا ؤ کوم چې شیخ الاسلام رحمه الله مناسب وګرځاوه چې د دې نه مراد دی، دغه اخري تعریف شي، ځکه چې دغه په دې جمله مشتقاتو کې څه ناڅه اصلیت لري، چې هغه نسبت د وړۍ لباس اغوستنې ته دی.

او همدغه رأیه د علامه ابن خلدون رحمه الله هم ده هغه هم په جمله اقوالو کې راجح همدا ګرځولې فرمایي : (و الأظهر إن قيل بالاشتقاق أنه من الصوف وهم في الغالب مختصون بلبسه لما كانوا عليه من مخالفة الناس في لبس فاخر الثياب إلى لبس الصوف) [تاریخ بن خلدون ۱/۶۱۱]

ژباړه: او ډېره ښکاره دا ده چې که د دې (تصوف) په اشتقاق کې وویل شي چې دا د (وړۍ) نه مأخوذ دی او دغه صوفیان غالباً خاص کړی شوی و په اغوستو د وړۍ د دې وجې نه چې د هغې د (وړۍ) په اغوستو کې د هغه خلکو مخالفت دی چې هغوی د وړۍ په نسبت سره قیمتي او عمده لباس اغوندي، تاریخ ابن خلدون [۱/۶۱۱] نو چونکې په جمله اقوالو کې د صوف نه اشتقاق د تصوف د لفظ د عربیت د لغت په اعتبار سره په نسبت د نورو تعریفاتو ډېر نږدی او موافق دی، نو ځکه دغه قول راجح ښکاري، بل خپله د تصوف بعضو

مشرانو هم دا د لغت په لحاظ سره راجح ګرځولی، مشهور صوفي ابو بکر کلابازي په التعرف لمذهب أهل التصوف کتاب [۱/۲۵] کې د دې په اشتقاق کې اقوال ذکر کوي او بیا لیکي (وإن جعل مأخذه من الصوف استقام اللفظ وصحت العبارة من حيث اللغة)

ژباړه: خو که چرته د دغې (تصوف د کلمې) مأخذ د صوف (وړۍ) وګرځول شي نو لفظ به روغ پاتې شي او عبارت به د لغت له مخه صحيح شي.

او همدا قول د بعضو نورو صوفیانو په نزد هم راجح دی، لکه طوسی ابو طالب المکي سهروردي او ابو المفاخر یحیی باخرزی یعنې د دوی نظر هم دا دی چې دا دې له صوف (وړۍ) څخه مأخوذ شي سره له دې چې په دې کلي اتفاق هم نه شته لکه څنګه چې دا مخکې عبارتونو کې تیره شوه.

(الربط والصِلّة في ذكر المناسبة والعلة)

الغرض بیا په دې اشتقاق کې ربط او مناسبت اشاره او فائده دا ښودل شوې چې همدا تقریباً علة مرجحه د دې دی، چې تصوف دی د صوف څخه أخذ کړای شي څکه چې د (وړۍ) په اخستولو کې د دنیا د لذت او خوندونو مخالفت وي نو د تصوف مسلک والا هم دا اعتقاد لري، چې دوی د دنیا د خوندونو او د هغې د لذتونو غم او پروا نه کوي، بلکه دوی عاجزي کونکي او د دنیا نه مکمل بې پروا دي، لکه په دغه ربط صوفي کالاباذي په التعرف ۱/۲۵ کې تصریح کړې ده ،خو دا بیا بیله خبره ده چې د (وړۍ) د اغوستو څه خاص فضلیت او د دنیا نه په دغه نوع بې رغبتۍ کولو په کتاب او سنت کې څه ترغیب هم وجود لري او که نه چې دغه وضاحت به ان شاء الله په خپل مقام کې ذکر شي، خو راځو او د دوی د دغه مقصود خلاصه مفهوم به د تصوف په اصطلاحي معنا کې ذکر کړو ان شاءالله او دغه ټول وروسته به بیا په خپل مناسب مقام کې د دوی د دې نظر وضاحت د شرعي دلائلو محکمې ته هم وړاندې کړو ان شاء الله، نو راځو او د تصوف اصطلاحي تعریف ذکر کوو.

(الإيضاح في ضوء الإصطلاح)

نو یاده دې وي چې د لغوي تعریف نه زیات اختلاف د دې کلمې په اصطلاحي تعریف کې منقول دی بلکه که زه دادعوی وکړم چې تصوف له سره اصطلاحي تعریف نه لري، نو دا به بې ځایه نه وي، څکه هر چا چې له دوی څخه په دې باب کې د وخت او زمانې دصوفیانو کردار ته کتلي نو هماغه یې ورته دتعریف برخه ګرځولې. همداوجه ده چې دتصوف په هیڅ کتاب کې څوک دانه شي ثابتولی چې دتصوف یوداسې تعریف شوی وي، چې دجمله صوفیانو په هغې اتفاق وي، همدا وجه ده چې

دتصوف امام عبدالکریم قشیري په خپله رساله الرسالة القشیریة ۲/۵۵۱ کې دمتقدمینو صوفیانو نه تقریباً پنځوس تعریفه ذکر کړي.

بل مشهور صوفي ابونصر سراج الطوسی په کتاب اللمع ص۴۷ کی لیکی أن تعريفاتِه تتجاوز مائةَ تعريف

ژباړه: بې شکه دتصوف تعریفونه دسلو ۱۰۰ نه زیاتیږي، بل مشهور فارسي صوفي قطب الدین ابو المظفر المروزي په مناقب الصوفیه کې چې فارسی لغت کې لیکل شوي، په صفحه ۳۱ کی دشلو نه زیات تعریفونه کړي.

بلکه خپله مشهور صوفي سهروردي نه دتصوف دتعریف متعلق په عوارف المعارف ۵۷ کې نقل دي، هغه وایی : وأقوال المشائخ في ماهية التصوف تزيد على ألف قول

ژباړه: یعنی دمشایخو اقوال چې کوم دتصوف دماهیت متعلق نکردی ،نو هغه تقریبا د زرو ۱۰۰۰ څخه زیات دي.

اوحامدي نه نقل دي هغه وایي (الأقوال المأثورة في التصوف قيل: أنها زَهاءُ ألفين) ژباړه: نقل شوی اقوال چې دتصوف دتعریف متعلق دي، نو ویل شوي چې هغه د دوه زره ۲۰۰۰ په مقدار اقوال دي.

نو عزتمندو مسلمانانو وررونو! لکه څنګه چې معلومه شوه چې اصطلاحي تعریفات دتصوف دزرګونو په مقدار دي، نو د ټولو ذکر کول اسان هم نه دي او فایده هم نه لري خو البته مونږ به بتوفیق الله تعالی ددی مختلفو تعریفاتو څخه یو څو رانقل کړو، چې دموجوده طائفې دلا خه معرفت اود درک الاصلية په باره کې آسانی رامنځ ته شي، نو راځو او اول دمشهورصوفي

عبدالکريم قشيري کتاب ته چې دالرسالة القشيرة په نوم ده دهغې نه یو څو اصطلاحي تعریفات ذکر کوو هغه په ۲/۴۴۲ او ۴۳ کی وایی

وقال حمدون القصار: إصحَب الصوفية فإن للقبيح عندهم وجوها من المعاذير وليس للحسن عندهم كبير موقع يعظمونك به. ژباړه: حمدون قصار ويلي چې دصوفيانو سره اوسيږه ددی دپاره چې دبدو کارونو دپاره هغوئ سره دعذرونو ډير وجوهات شته اود ښو کارونو دپاره هغوئ سره داسې لوي چانس نه شته چې دهغی په وجه ستا احترام وکړي.

داشو یو تعریف ،بل داسې کوي.

وقال الجنيد: التصوف عَنوة لا صلح فيها.

وقال أيضا: هم أهل بيت واحد لا يدخل فيهم غيرهم.

ژباړه: او همدا ډول جنيد ويلي چې تصوف داسې جګړه ده چې صلح په کی نه شته او دایی هم ويلي چې دتصوف والاو مثال د یو کور دخلقو دی ددوئ نه بغير بل څوک نه ورداخليږي.

اوبیا قشیری لیکي: وقال أيضا: التصوف ذكر مع اجتماع ووجد مع استماع وعمل مع اتباع .

ژباړه: اوجنيد داهم ويلي چې تصوف هغه ذکر ته وایي چې په اجتماعي شکل سره کيږي اوهغه رقص ته وایي چې دسماع وخت کې کيږي او هغه عمل ته وایي چې اتباع پکی وي. قشيرى بيا ليکي:

وقال أيضا: الصوفي كالأرض يطرح عليها كل قبيح ولا يخرج منها إلا كل مليح

ژباړه: اوجنيد داهم ويلي چې دصوفي مثال دهغه ځمکې دی ، چې هر ناپاک شی پری غورزول کيږي او نه راوځي دهغې نه مګر ترش مالګين (ښوره ناک) .

قشيري بيا ليکي:

وقال أيضا: إنه كالأرض يطؤها البرُّ والفاجر وكالسحاب يظل كلَ شيء وكالقطر يُسقى كلَ شيء.

ژباړه: او جنيد داهم ويلي چې دصوفي مثال د هغې ځمکې دی چې نيک او بد دواړه قسمه خلق پرې ګرځي او دهغی وريځ په شان دی چې په هرڅه سیوری کوي او دهغه باران په شان دی چې هرڅه ته اوبه ورکوي ٬

بیا قشيري صوفي ليکي:

و قال إذا رأيت الصوفي يعني بظاهره فاعلم أن باطنه خراب.

ژباړه: او جنيد دا هم وويل چې کله دې هم صوفي په ظاهره کې خه وليده نو پوه شه يقيني چې باطن يې خراب دی

بیا قشيري ليکي:

وقال سهل بن عبد الله: الصوفي من يُرىٰ دمه هدرا ومُلكه مباحا

ژباړه : فرمايي سهل بن عبد الله وايي چې صوفي هغه چاته وايي چې وينه يې بې بدلې او مال يې مباح ګڼلی شي، قشيري بل تعريف نقل کوي ليکي:

وقال النوري: نعت الصوفي الكون عند العدم والإيثار عند الوجود.

ژباړه: د صوفي صفت دا دی چې دا د نشت والي په وخت کې لرونکي او د وجود په وخت کې ايثار کونکي ته وايي.

بالاخره دا يې ليکلي چې قال بعضهم: التصوف إسقاط الجاه وسَواد الوجه في الدنيا والآخرة

ژباړه: وايي بعضو ويلي چې تصوف د مرتبې سقوط او په دنيا او آخرت کې د مخ توروالي ته وايي دا شو يو څو تعريفات د هغه تعريفونو څخه چې قشيري نقل کړي وو اوس راشئ د يو څو نورو صوفيانو نه هم د تصوف او صوفي معرفت واورئ بل مشهور صوفي على الهَجويري د شبلی نه په كشف المحجوب رساله کې په ص۲۳۱ کې

نقل کړي چې هغه ويلي : التصوف شرك لأنه صيانة القلب عن الغير ولا غير.

ژباړه: التصوف داشرک ته وايي ځکه په دې کې زړه (د الله نه بغير) د بل نه بچ ساتل کيږي او بل شته نه غير د الله نه چې دې کې اشاره ده وحدة الوجود ته چې ردّ پرې په خپل ځاې کې راروان دی ان شاء الله تعالی .

بل د هندوستان مشهور صوفي فريدالدين عطار په أسرار الأولياء کې په ص ۱۲۸ او ۱۲۹ کې ليکلي چې (إن التصوف أن لا يَبْقى في مُلك شيءولا يبقى وجودك في مكان

ژباړه: او تصوف دې ته وايي چې ستا په اختيار کې هيڅ هم پاتې نه شي او وجود دې په هيڅ مکان کې پاتې نه شي بيا دا هم وايي:

و إن أهل التصوف يقيمون صلواتِهم على العرش يوميا

ژباړه: د تصوف والا خپل ورځني (پنجګانه) لمونځونه

په عرش باندې کوي او بيا وايي إن الصوفي من لا يخفى على قلبه شيء .

بې شکه صوفي هغه ته وايي چې په زړه يې هيڅ هم پټ پاتې نه شي بل دې صوفي عطار دجنيد نه به تذکرة الأولياء صفحه ۱۹۲ کې د صوفي تعريف داسې نقل کړی د دغه کتاب عبارت په اردو کې دې خو موږ به يې دلته پښتو ژباړه وليکو ،ليکي چې صوفي هغه چاته ويلی شي چې زړه يې د دنيا دمحبت نه لکه د ابراهيم د زړه غوندې سالم وي او د الله په اوامرو باندې په عمل کولو او هغې ته منقاد کيدو د اسماعيل غوندې وي او غم يې غم د داود غوندې او فقر يې په شان د فقر د عيسى وي او صبر يې پشان د صبر د ايوب وي او د مناجات په وخت کې يې شوق د موسیٰ او اخلاص يې په شان د اخلاص د محمد وي.

الغرض دغه قدر او اندازه تعريفات ذکر کول به کافي وي، ځکه د ټولو نقلول موضوع بې حده اوږدوي ،ځکه هغه له شماره وتلي، لکه دا خبره مونږ مخکې ذکر کړه نو که دلته مونږ په دې تعريفاتو باندې د هر تعريف د الفاظو نه د راوتليو معناګانو وضاحت او شرح کوو او بيا يې د کتاب او سنت سره مقايسه کوو چې د هغې سره موافق دي که مخالف!! نو دغه بحث پرېږدو چې دغه به وروسته ان شاء الله تعالى تفصيلي د دوی د عقايدو په بحث کې په خپل خپل ځای کې ذکر شي.

(إجتناء الخُصاصة في ذكر الخلاصة)

خو خلاصه غرض دا چې تردې ځايه د دې تفصيل نه دا درې خبرې معلومې شوې :

۱: صوفيان د تصوف لپاره ترننه داسې يوشرعي او اصطلاحي تعريف نه لري، لکه د نورو اشياؤ غوندې چې د دوی ترمنځه اتفاقي وي خو بس چې هر چاته د خپلو او خپلو مشايخو او پيرانو د وجدونو او سماع ګانو وغيره مراقبو په وجه کوم نظر جوړ شوی، هماغه يې تصوف ته تعريف ګرځولی ، بلکه دې باب کې چې دوی د قطبانو او اکابرينو د.يو ، يو کس نه هم دی ، باب کې کوم متعدد تعريفونه ذکر دي، هغه تعريفونه هم خپلو کې يو له بل نه مخالف او متضاد تعريفات دي، چې هر تعريف يې د بل تعريف نه اصلاً مختلف دي، هيڅ ربط او توافق د بل سره نه لري، اګر چې متأخرينو ددوی څخه خپل کوششونه کړي چې څه توافق په کې ثابت کړي، خو کاميابي يې نه ده نصيب شوې، چې دا خبره د تصوف د کتابونو د مطالعې او د صوفيانو د مختلفو نظريو نه روښانه ثابتيږي.

۲: دويمه خبر هغه داده چې تصوف دا يو مستقل مذهب او مسلک دی د خاص نظريې او عقيدې مالک او حامي مسلک دی، که څه هم فرعي اعمال يې ترمنځه مختلف دي، خو اصول او اعتقاد يې مشترک دی اګر چې نوعيت او شکل يې د اعتقاد او اصولو هم فرق لري، چې دغه به د دوی د عقيدې په تفصيل کې ذکر شي ان شاء الله تعالى

۳: د دې مختلفو تعريفاتو څخه دوی دا هم ثابتول غواړي چې دوی په دې اعتقاد او اعمالو کې د انبياء او صحابه کرامو اتباع کونکي دي .

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! د تصوف اړوند د رواني سلسلې لومړۍ برخه مو ولوسته ، ان شاء الله د دغه سلسلې دويمه برخه به د خراسان غږ مجلې په شلمه ګڼه کې ولولئ ، په دې هيله چې دا لړۍ له پيله تر پايه تعقيب کړئ او تر نورو يې هم ورسوئ .

دیوبندیان
څوک دي ؟

ديوبنديان
څوک دي

دخراسان غـړ مجلې درنو لوستونکو !مـوږ د لـوي الله عزوجـل پـه فضل او نـصرت تـل دا هڅـه کـړې او کـوو يـې چـې مسـلمانانو تـه د اسـلام حقيقـي بڼـه وښـايو .

تاسـې پوهيـږئ لکـه څنګـه چـې د سياسـت پـه ميدان کـې د نظـام او حکومتـدارۍ پـه چوکاټ کـې د جهاد او مبـارزې پـه لارو کـې کفـارو د خپلو توطيو او دسيسـو پـه پايله کـې ډير کلـه دوی د لاس پوڅـو طاغـوتي نظامونـو پـه لاس جـوړ شـوي تنظيمونـه ، سـياسي خوځښـتونه ، ډلې ، ټيلـې او ګوندونـه ، د خپلـو موخـو د ترلاسـه کولـو او پـه اسـلامي خـاوره او اسـلامي امـت د خپـل فزيکـي او معنـوي اشـغال د دوامـداره سـاتلو پـه هـدف تـل حمايـه کـړي ، دوی تـه يـې شـخصيت سـازي کـړې ، دوی سره يـې هـر اړخيـزې مرسـتې کـړې او دوی يـې تـل د حقيقـي اسـلامي نظـام پـه خـلاف ودرولي او جنګـولي دغسـې يـې نـو د مذهبـي ډلـو او عقايـدو پـه نامـه هـم ډيـرې فکـري مکتبونـه ، مذهبـي صنفونـه د اسـلام د خدمـت پـه نامـه د قـران او سـنت مقابلـې کـې ودرولي ،ومـو غوغتـل چـې د مجلـې د همـدې ګڼـې څخـه ددغـه راز فرقـو ، ډلـو ټپلـو او تنظيمونـو لـه عقائـدو ، اهدافـو ، پلانونـو او ددوی ترشـا د کفـارو د دسائسـو او توطيـو څخـه پـرده پورتـه کـړو چـې پـه همـدې لـړ کـې د(صوفيانـو ، بريلويانـو او ديوبنديانـو) د تاريخـي پـس منظـر ، ددوی د عقيـدوي انحرافاتـو او نـورو بـې لاريـو پـه اړه مـو پـه خراسـان غـړ مجلـه کـې د لـوی اللـه عزوجـل پـه فضل سلسـلـه واري لـړۍ پيل کـړې.

راځـئ ! تاسـې ددې لـړۍ پـه لومړنـۍ کـړۍ کـې پـه همدغـه سلسـله کـې د ديوبنديانـو د هـر اړخيـزې پيژندنـې پـه اړه لومړنـۍ برخـه ولولـئ او دا لـړۍ ترپايـه تعقيـب کـړئ .

مقدمة

تثليج الصدور بترديد عبّاد القباب والقبور

الحمدللـه الـوهاب الـذي أمـر باتبـاع الحــق والصواب ومهّـد لحصوله جميع الوسـائل والأسـباب ثـم جعلـه باعثـا لخـير العاقبـة وحسـن المـآب ونجـاةً مـن الـذل والعـذاب والمهانـة والمُـصاب والصــلاة والسـلام عـلى مــن بعـث بالسـيف والكتـاب لإخـراج العبـاد مـن الـشرك إلى عبـادة رب العبـاد والأربـاب وعـلى آلـه الطيبـين وأصحابـه ذوي السـبق والألبـاب. أمابعــــد:

دا چـې د ديـن دښـمنان او د شـيطان ډلـه لـه دې عاجـزه شـوې چـې د مسـلمانانو ديـن د کفـر او دښـمنۍ لـه لارې ختـم او نابـود کـړي نـو راولړيـدل او د دې لپـاره يـې د اسـلام د دعـوه کونکـو او بزرګانـو پـه لبـاس کـې داسـې څيـرې او مخونـه د مسـلمانانو منـځ تـه رانښـتل چـې د هغـې پـه مـټ او مرسـته يـې خپـل اهـداف ترلاسـه کـړل. د ديـن دښـمنانو همېشـه، پـه هـر وخـت او زمـان کـې د مقتضـی الحـال موافـق همـدا لار اختيـار کـړې. کـه تاسـو د صحابـهوو زمانـې تـه زيـر شـئ نـو کلـه چـې اسـلام خپـور شـو، د فتوحاتـو لـړۍ وغځيـده، کفـر پـه هـر ځـای کـې لـه ماتـې او شکسـت سره مـخ شـو نـو پـوخ يقيـن يـې راغـی چـې اوس د اسـلام پـه بچـو غلبـه مونـدل، د هغـوی شـوکت او جماعـت ختمـول، ديـن او عقيـده خرابـول يـې ممکـن نـه دي نـو راولړيـدل او د عبداللـه بـن سـباء پـه نـوم چـې دا پـه ابـن سـوداء هـم مشـهور وو، د أهـل علمـو د تحقيـق موافـق دا يهـودي الأصـل وو. د اسـلام ديـن د فاسـدولو او خرابولـو لپـاره يـې ځـان مسـلمان ښـکاره کـړی وو. [مجمـوع الفتـاوی 4/518، الملـل والنحـل 1/155، الفـرق بيـن الفـرق ص144] لـه دې املـه چـې کلـه هغـه د رسـول اللـه ﷺ لـه اهـل البيـت سره د محبـت د اظهـار پـه سـبب، مسـلمانانو کـې شـهرت ترلاسـه کـړ او پـه دې ښـه مطمئـن شـو چـې اوس مـې مسـلمانانو کـې پلويـان او دفـاع کونکـي پيـدا شـول نـو بيـا يـې د أبـو بکـر او عمـر

رضی الله عنهما توهین پیل کړ خو کله چې علي رضی الله عنه خبر شوو نو راویې غوښت، د دې لپاره چې قتل یې کړي نو په مسلمانانو کې داسې خلک د علي رضی الله عنه په وړاندې د ابن سباء د قتل مانع شول چې هغوی د دې ښامار او لړم په ظاهر دوکه شوي وه او له حقیقت څخه یې نا خبره وه او علي رضی الله عنه ته یې وفرمایل: تقتل رجلا یدعو إلی حبکم أهل البیت؟ ژباړه: آیا ته داسې سړی وژنې چې هغه ستاسو د اهل بیتو محبت ته خلک رابولي. [الصارم المسلول ج1/ص584] نو همدا یې لامل شو چې دا د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو دښمن له مرګ څخه وژغورل شو خو تاوان دا وشو چې وروسته د هغه دا نظریه یو مستقله عقیده او مسلک وګرځید چې نن تقریبا د ځمکې نیمه او یا له نیمې یو څه کمه برخه مسلمانانو ته منسوب خلک؛ د دې شرکي او کفري عقیدې حاملین، داعیین او مبلغین دي چې د رافضیت په نوم شهرت لري.

بیا دغه حال د ټولو هغو باطلو فرقوو (ډلو) دی چې د اسلام او مسلمان په نوم یې په مسلمانانو کې د خپل شهرت د استقبال او دفاع لپاره، د ځای او سیمې عام مسلمانان د ډال او سپر په څېر ښکار کړي دي چې له هغو باطلو ډلو څخه یوه ډله چې اوس مهال په هند، پاکستان او افغانستان کې د حق پرستو، بزرګانو او حتی د اولیاء الله په نوم یادیږي. هغه د (دیوبندي عقائدو او اصولو پیروان) دي چې ځانونو ته یې د إمام أبو حنیفه رحمه الله له نوم څخه سپر او ډال جوړ کړی او د دې نوم په تخصیص کولو سره یې په هغو نورو باطلو ډلو هم ردونه کوي چې هغوی هم ځانته احناف وایي. لکه: بریلویان، پنجپیریان او نور... الغرض دغه د دیوبندي عقائدو حاملین د دیوبندیانو په نوم مشهور دي، د یادې ډلې مرکزي عقائد قبر پرستي، پیر پرستي، غالي تصوف، وحدة الوجود او داسې نور شرکي عقائد دي چې په دې غوریدلي سلسله کې به یې په اړه ان شاء الله تعالی تفصیلي معلومات ترلاسه کړئ خو مونږ دلته په مقدمه کې چې په نوم د (تثلیج الصدور، بتردید عبّاد القباب والقبور) ده، د لوی الله عزوجل په توفیق، اختصارا د دوی متعلق دا وضاحت کوو چې دوی ځان ته احناف وایي او حال دا چې دوی احناف نه دي. د أهل السنة والجماعة لقب یې ځان ته خاص کړی خو حال دا چې دوی أشاعره او ماتریدیان دي. د أهل السنة والجماعة له عقیدې سره د دوی عقائد ښکاره په تضاد او ټکر کې واقع دي چې له کتاب او سنت څخه باخبره په دې کې هیڅ شک نه کوي نو د دوی په اړه باید دا څو خبرې چې دغه سلسلې له پیل وړاندې لوستونکو ته معلومې وي نو مناسب ګڼو چې دغه بحثونه په دې څو عنوانونو کې ذکر شي إن شاء الله تعالی.

اول: عرض الصحیفة في مختصر تعارف الإمام أبي حنیفة

په دې عنوان کې به مونږ بتوفیق الله تعالی دا خبره ثابته کړو چې إمام أبو حنیفه رحمه الله د أمت مسلمه ترمنځ یو ستر دیني او مقبول إمام او عالم دی، کومه فقه چې محترم إمام ته منسوبه ده په هغې کې رسا او خطا دواړه قسمه مسائل موجود دي او دا د هر مجتهد صفت دی چې هغه په ځینو مسئلو، احکامو او فتوو کې مصیب (په حق) وي او په ځینو کې به خطاء کیږي خو په دواړو حالاتو کې مأجور (د اجر مستحق) وي. تفصیل به تر نوموړي عنوان لاندې ملاحظه کړئ، ان شاء الله...

.

دويم: ”التحقيق المزيد في وجوب الإتباع وحرمة التقليد“

په دي عنوان کي مونږ بإذن الله وتوفيقه دا خبره ثابتوو چي کوم خلک د إمام أبو حنيفه رحمه الله د تقليد د وجوب او فرضيت دعوې کوي، دوى په خطا دي بلکي له تقليد څخه خپله د دين إمامانو هم خلک په کلکه منع کړي دي. تفصيل به تر نومووړي عنوان لاندي ملاحظه کړئ، ان شاء الله... .

دريم: ”الدلائل القويّة على أن الديوبنديين ليسوا من الحنفيّة“

په دي عنوان کي به بإذن الله وتوفيقه دا خبره په دلائلو ثابته کړو چي ديوبنديان أحناف نه بلکي غالي (غلو کوونکي) قبر پرست او د وحدت الوجود د غلطي عقيدي حاملين، مبلغين او داعيان دي. تفصيل به تر نومووړي عنوان لاندي ملاحظه کړئ، ان شاء الله... .

څلورم: ”الإحضار بدلائل ولاء القوم مع أهل الهنود والكفار“

په دي عنوان کي به مونږ د لوى الله په توفيق دا ثابته کړو چي د ديوبند مشائخ او اکابر دوى له کفارو او مشرکانو سره د براءت او عداوت په باب کي هم پاتي راغلي دي بلکي د براءت پرځاى يي ورسره د ممنوعه ولاء (حرامه دوستي) داسي شواهد موجود دي چي د لړ ايمان خاوند هم ورته ګوته په غاښ پاتي کيږي چي تفصيل به تر نومووړي عنوان لاندي ووينئ ان شاء الله... .

پنځم: ”حصول المقام المسعود، بترديد عقيدة وحدة الوجود“

په دي عنوان کي د لوى الله په خاص توفيق د ديوبندي اکابرينو او مشرانو د وحدة الوجود د عقيدي لړلو ثبوتونه او شواهد ذکر کوو او بيا پري رد کوو. تفصيل به تر نومووړي عنوان لاندي ملاحظه کړئ، ان شاء الله... .

شپږم: ”النصح الجميل، بتحذير العوام عن إتباع أهل القبور و التعطيل“

دي عنوان کي به د لوى الله په فضل او توفيق سره د خپل هغه مسلمان ولس د بيدارولو او هغوى ته له تنبيه ورکولو سره، سره خپله ذمه فارغه کړو، کوم چي بي علمه، بي تحقيقه د ديوبندي عقائدو، د ديوبندي اکابرينو او شيخانو د پيروى او تقليد دعوې کوي او په حقيقت خبر نه دي چي دوى په چا پسي روان دي؛ د هغوى عقائد له کتاب او سنت څخه بلکل مخالف او له هغو سره په ټکر دي. تفصيل به تر نومووړي عنوان لاندي ملاحظه کړئ، ان شاء الله...

نو راځو او د لوى الله په توفيق د دي عنوانو د بحثونو په تفصيل پيل کوو.

[(عرض الصحيفة في مختصر تعارف الإمام أبي حنيفة)]

په دي کي شک نشته چي إمام أبو حنيفه رحمه الله د أمت يو ستر ديني شخصيت، متبحر عالم، د قوي اجتهاد او راسخي ملکي خاوند او مجتهد انسان تير شوى دى. د الله رحمتونه دي پري وي.

موصوف إمام د هجري نبوي په اتياوم 80 کال زيږيدلى، په يو سل او پنځوسم 150 هجري کال وفات شوى، د موصوف إمام مناقب ډير زيات دي، د أهل السنة والجماعة له إمامانو څخه يو فقيه إمام دى، خپل نوم يي نعمان او د پلار نوم يي ثابت دى، أبو حنيفه يي اسم کنيه ده، د هغه رحمه الله او د هغه د شاګردانو د علومو او ديني سعيو، اجتهاداتو او فتواو څخه إمام رحمه الله ته منسوب مسلک او مذهب هم وجود ته راغلى چي د أهل السنة والجماعة له مذاهبو څخه يو مذهب ګڼل کيږي چي د حنفي مذهب په نوم سره د مسلمانانو ترمنځ شهرت لري. که څه هم دا د موصوف إمام او د هغه د شاګردانو د علمي سعيو، اجتهادونو او فتاوو له مجموعي څخه مرتب شوى مذهب دى نو په دي اساس خطاء او رساء دواړه قسمه مسائل په کي موجود دي او دا نه يوازي په دي مذهب کي بلکي دا د ټولو مذاهبو په فقه او کتابونو کي موجود دي بلکي په دي أمت کي له رسول الله ﷺ څخه بغير د هر أمتي شعار او نښه دا ده چي په أقوالو، فتواو او ځوابونو کي به يي له ثواب سره، سره خطاء هم موجوده وي خو مجتهد او مفتي چي کله د دليل په بناء فتوه او ځواب ورکوي خو فهم يي له هغي څخه مقصود اخستلو کي د خطاء ښکار شي نو دغه إمام، مجتهد، مفتى او عالم بيا هم د يو أجر مستحق

ګرځـي، متفـق عليـه صحيـح حديـث کـې راغلـي عمرو بن العاص -رضي الله عنه- فرمايـي: بيشـکه نبـي صلى الله عليه وسلم وفرمايـل: (إذا اجتهد الحاكم فأصاب فله أجران, وإذا اجتهد فأخطأ فله أجر) ژبـاړه: کلـه چـې حاکـم کوښـښ وکـړي او بيـا وروسـته لـه دې اجتهـاد څخـه دا پـه فيصلـه او حکـم کـې حـق تـه ورسـيږي نـو د ده لپاره دوه اجره دي او کلـه چـې اجتهـاد (کوښـښ) وکـړي خـو حکـم کـې خطـا شي نـو بيـا ورتـه يـو اجـر دی.

نـو عزتمنـدو! دا پـه شريعـت کـې مونږ تـه يـوه اساسي قاعـده وښـودل شـوه چـې مجتهـد معـذور وي نـو د مجتهـد لفظ يـا نـوم هغـه کـس لـه دې برخې خارجـوي چـې هغـه پـه بـې علمی سره فتـوې ورکـوي ځکـه پـه شريعـت کې د داسـې چـا مـدح نـه بلکـې ذم (بـدي) ذکـر شـوی چـې پـه بـې علمـي سره فتـوې او ځوابونـه ورکـوي، د داسـې خلکـو پـه اړه حديـث کـې راغلـي: (فَسُـئِلُوا فَأَفْتَـوْا بِغَـيْرِ عِلْـمٍ فَضَلُّـوا وَأَضَلُّـوا). [صحيـح البخـاري رقـم الحديـث 99] ژبـاړه: کلـه چـې پوښـتنه ورڅخـه وشي نـو پـه ناپوهـی سره فتـوا ورکـوي نـو خپلـه هـم ګمـراه کـول او نـور يـې هـم ګمـراه کـړل.

الغـرض مجتهدينـو تـه اللـه سـبحانه وتعالـی دغـه کرأمـت او اعـزاز ورکـړی چـې د هغـوی پـه هـر حـال کـې اجـر پـه برخـه دی نـو د هيـڅ انسـان چـې ځـان تـه مسـلمان وايـي دا حـق نـه جوړيـږي چـې هغـه راولګيـږي او د أمـت لـه مجتهدينـو څخـه د يـو مجتهد سـپکاوی وکـړي او ووايـي مثـلا چـې فلانـی مجتهـد داسـې او داسـې و چـې د فـلاني حديـث خـلاف يـې کـړی. نـه بلکـې هـر کلـه چـې درتـه معلومـه شـوه، سـتا حـق يـوازې همـدا دی چـې هغـه معـذور وګڼـه. مثـلا د إمـام أبـو حنيفـه رحمـه اللـه يـوه فتـوی د حديـث خـلاف ده نـو تـه هغـه فتـوی پريـږده او پـه حديـث بانـدې عمـل وکـړه. همـدا د إمـام أبـو حنيفـه رحمـه اللـه بلکـې د ټولـو إمامانـو وصيـت او نصيحـت دی. لـه ټولـو څخـه نقـل دي چـې کلـه هـم د دوی کـوم قـول او فتـوی د کتـاب او سـنت خـلاف وي، پـه هغـې بـه تلـل نـه کـوئ بلکـې پـه کتـاب او سـنت بـه عمـل کـوئ. [(رفـع المـلام عـن أئمـة الاعـلام ص8)، (القـول المفيـد للشـوکاني ص55)]

لـه تـول وړانـدې د څلـورو مشـهورو امامانـو أقـوال ذکـر کـوو کـوم چـې پـه هغـو کـې يـې لـه خپـل تقليـد څخـه منـع کـړې:

لمـړی- امـام ابـو حنيفـه رحمـة اللـه عليـه:

لـه امـام ابـو حنيفـه رحمـه اللـه څخـه د تقليـد پـه اړه مختلـف أقـوال نقـل دي خـو د ټولـو مقصـد همـدا دی چـې د قـرآن کريـم او د نبـي عليـه السـلام د حديـث پـر مقابـل کـې بايـد زموږ خبـره ونـه منـل شي.

لمـړی قـول: "إذا صـح الحديـث فهـو مذهبـي" [رد المختـار علـى الـدر المختار مقدمـه ج١/ص١٦٦ ـ ابـن عابديـن في "الحاشـية" ج1/ص63] ژبـاړه: کلـه چـې حديـث صحيـح شـو نـو همدغـه (صحيـح حديـث) زمـا مذهـب دی.

دويـم قـول: "لا يحـل لأحـد أن يأخـذ بقولنـا مـا لم يعلـم مـن أيـن أخذنـاه". [ابـن عابديـن في "حاشـيته علـى البحـر الرائـق" ج6/ص293 ـ ابـن القيـم في إعـلام الموقعيـن؛ ج٢/ص٣٠٩] ژبـاړه: د هيـڅ چـا لپاره روا نـه ده چـې زموږ

قول واخلي تر څو چې دا معلوم نه کړي چې موږ دا قول له کوم ځای څخه اخيستی.

او په يو روايت کې دا دي: (حرام على من لم يعرف دليلي أن يفتي بكلامي) ژباړه: څوک چې زما دليل ونه پيژني په هغه دا حرام دي چې زما پر خبره فتوه ورکړي.

او په بل روايت کې ورسره دا هم دي: (فإننا بشر نقول القول اليوم ونرجع عنه غدا) ژباړه: يقينا موږ انسانان يو، نن يوه خبره وکړو او سبا ترې بيا رجوع وکړو.

او په بل روايت کې دا هم دي چې امام ابو يوسف ته يې وويل : (ويحك يا يعقوب (هو أبو يوسف) لا تكتب كل ما تسمع مني فإني قد أرى الرأي اليوم وأتركه غدا وأرى الرأي غدا وأتركه بعد غد) ژباړه: اي يعقوبه! (دا ابو يوسف و) تباه شې ته هر هغه څه مه ليکه چې له ما څخه يې اورې ځکه چې زه نن پر يوه رايه يم او سبا ورڅخه رجوع کوم او سبا پر يوه رايه يم او بل سبا ورڅخه رجوع کوم (هغه پريږدم).

دريم قول: "إذا قلت قولا يخالف كتاب الله تعالى وخبر الرسول صلى الله عليه وسلم فاتركوا قولي" [ابن عبد البر في الجامع؛ ايقاظ همم أولي الأبصار للاقتداء بسيد المهاجرين والانصار؛ ج١/ص٦٢] ژباړه: که چيرې زه کومه خبره وکړم او هغه د الله تعالی له کتاب سره مخالفه وي او يا هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث سره خلاف وي نو زما قول او خبره پريږدئ.

دويم- امام مالک رحمة الله عليه:

له امام مالک څخه هم په دې اړه نقل دي چې هغه فرمايي: "إنما أنا بشرٌ أُخطئ وأصيب؛ فانظروا في رأيي؛ فكلُّ ما وافق الكتاب والسُّنة؛ فخذوه، وما لم يوافق الكتاب والسُّنة؛ فاتركوه" [الإحكام في أصول الأحكام، ج6/ص294] ژباړه: زه خو يو انسان يم، هم تيروځم او هم حق ته رسيږم نو تاسو زما په رايه کې وګورئ نو هر هغه څه چې له کتاب (قران کريم) او سنت (نبوي احاديث) سره سمون خوري نو وايې خلئ او هر هغه څه چې له کتاب او سنت سره يې سمون نه خوړ نو پر يې ږدئ.

دريم- امام شافعي رحمة الله عليه:

له امام شافعي رحمه الله څخه هم په دې اړه نقل دي چې هغه فرمايي: "إذا وجدتم في كتابي خلافَ سنة رسولِ الله صلى الله عليه وسلم فقولوا بسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم، ودعوا ما قلت" [ذم الكلام وأهله، ج3/ص16 - رقم388-؛ الاحتجاج بالشافعي - للخطيب البغدادي 49 - مختصر المؤمل؛ ص 47، رقم 97] ژباړه: که چيرې تاسو زما په کتاب کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنت مخالفت ومومئ نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر سنت قول (او عمل) وکړئ او هغه څه پريږدئ چې ما ويلي وي.

بل ځای فرمايي: "إذا رأيتموني أقول قولا وقد صح عن النبي صلى الله عليه وسلم خلافه فاعلموا أن عقلي قد ذهب" [الهروي في ذم الكلام ج٣/ص٤٧ والخطيب في الاحتجاج بالشافعي ج٢/٨ص والنووي في المجموع ج١/ص٦٣] ژباړه: که تاسو زه وليدم چې زه يوه خبره کوم او حال دا چې د نبي عليه السلام څخه د هغه پر خلاف کوم څه (فعل، قول، تقرير) ثابت شي نو پوه شئ چې زما عقل له منځه تللی دی.

څلورم "امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه"

له امام احمد رحمه الله څخه هم په دې اړه نقل دي چې هغه فرمايي: "رأي الأوزاعي ورأي مالكٍ ورأي أبي حنيفة كلُّه رأي، وهو عندي سواء، وإنما الحُجَّةُ في الآثار"[جامع بيان العلم وفضله ج2/ص290، رقم 1100 - وابن عبدالبر في الجامع ج٢/ص١٤٩] ژباړه: د أوزاعي رايه، د مالک رايه او د ابو حنيفه رايه دا ټولې رايې دي او دا زما په نزد برابرې دي خو حجت (دليل) يوازې په أحاديثو کې دی.

بل ځای فرمايي: "لا تقلدني ولا تقلد مالكا ولا الشافعي ولا الأوزاعي ولا الثوري وخذ من حيث أخذوا" [إعلام الموقعين ج2/ص302] ژباړه: زما تقليد (بې دليله خبره منل) مه کوه، د مالک، شافعي، أوزاعي او د ثوري تقليد هم مه کوه او د هغه ځای څخه واخله (دين واخله) چې دوی ترې اخيستی و.

بل ځای وايي: "مَنْ رَدَّ حديثَ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم؛ فهو على شفا هلكة" [الفقيه والمتفقه ج1/ص316، رقم 280؛ مناقب الإمام

أحمد، لابن الجوزي ص182] ژباړه: څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث رد کړي نو هغه د هلاکت د کندې پر غاړه ولاړ دی.

دغه ډول شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله د أمت د مجتهدینو او أئمه وو په اړه خپله رساله [رفع الملام عن أئمة الأعلام] کې په دې برخه خه بحث کړی، هغه د ترک الحدیث او یا هم د مجتهدینو او علماوو د هغو فتاوو چې د حدیث خلاف وي، د دې لپاره لس سببونه او علتونه ذکر کړي، مقصود یې دا دی چې دغه اسباب کله باعث د دې شي چې د انسان فتوی او اجتهاد د کتاب او سنت څخه خطا او مخالف واقع کیږي چې په دې ټولو صورتونو کې هغه معذور حسابیږي نو فرمایي: وإذا كان الترك يكون لبعض هذه الأسباب؛ فإذا جاء حديث صحيح فيه تحليل أو تحريم أو حكم؛ فلا يجوز أن يعتقد أن التارك له من العلماء الذين وصفنا أسباب تركهم يعاقب؛ لكونه حلل الحرام, أو حرم الحلال؛ أو حكم بغير ما أنزل الله. وكذلك إن كان في الحديث وعيد على فعل: من لعنة أو غضب أو عذاب ونحو ذلك؛ فلا يجوز أن يقال: إن ذلك العالم الذي أباح هذا, أو فعله, داخل في هذا الوعيد.

ژباړه: نو کله چې د کوم حدیث پریښودل د بعضې دغو اسبابو په وجه وي او بیا چې کله یو صحیح حدیث راشي، په هغې کې تحلیل، تحریم او یا کوم حکم شوی وي نو بیا جائز نه ده چې دا عقیده وساتي چې د حدیث پریښودونکي عالم چې د پریښودو اسباب یې مونږ بیان کړل؛ به پرې رانیولی شي. له دې امله چې حلال یې حرام کړل یا



یې حرام حلال کړل او یا یې حکم بغیر ما أنزل الله وکړ او همدا ډول که چېرته په یو حدیث کې په یو کار وعید راغلی وي د لعنت، غضب او عذاب په صورت کې نو جائز نه دي چې وویل شي چې دي فلاني عالم دا شی مباح کړی او یا یې دا کار کړی نو دا په دې وعید کې داخل دی.

بیا وروسته شیخ الاسلام رحمه الله تقریبا دا اعتقاد د مجتهدینو په اړه د مسلمانانو ترمنځ یو اتفاقي اعتقاد ګرځولی، موصوف فرمایي: وهذا مما لا نعلم بين الأمة فيه خلافا, إلا شيئا يحكى عن بعض معتزلة بغداد, مثل المريسي وأضرابه: أنهم زعموا أن المخطئ من المجتهدين يعاقب على خطئه.

ژباړه: او دغه چې ما ذکر کړ، دا هغه څه دي چې مونږ ته د دې په اتفاق کې د أمت تر منځ هیڅ اختلاف نه دی معلوم خو لږ هغه څه چې دي باب کې د بغداد له ځینو معتزله وو څخه حکایت کیږي لکه مریسي او هغه ته ورته له نورو څخه چې هغوی دا وایي؛ له مجتهدینو څخه خطاء کیدونکي به هم په خپلې خطاء نیول کیږي.

بیا شیخ الإسلام فرمایي: وهذا لأن لحوق الوعيد لمن فعل المحرم مشروط بعلمه بالتحريم؛ أو بتمكنه من العلم بالتحريم؛ فإن من نشأ ببادية أو كان حديث عهد بالإسلام, وفعل شيئا من المحرمات غير عالم بتحريمها, لم يأثم, ولم يحد, وإن لم يستند في استحلاله إلى دليل شرعي. فمن لم يبلغه الحديث المحرم, واستند في الإباحة إلى دليل شرعي, أولى أن يكون معذورا. [رفع الملام عن أئمة الأعلام

ص37] ژباړه: او دا (مـا چـې اتفاقـي اعتقـاد ذکـر کـړ دا صحيـح دی) ځکـه چـې د وعيـد پيوسـتوالي (مسـتحقيت) د هغـه چـا لپـاره چـې يـو حـرام کار کـوي، د دې شرط دا دی چـې دا بـه د هغـه حرمـت ځخـه خـبر وي او يـا د هغـه د حرامـوالي علـم حاصلولـو قـدرت بـه لـري، نـو کـه څـوک پـه يـوه صحـرا کـې لـوی شي او يـا نـوی يـې اسـلام راوړی وي او دا څـه حـرام کارونـه وکـړي چـې د هغـې کارونـو پـه حرمـت خـبر نـه وي نـو دا نـه ګناهګارېـږی او نـه بـه حـد ورکولـی شي کـه څـه هـم د دې پـه حـلال والي کـې يـې لـه يـو دليـل څخـه اسـتنباط نـه دی کـړی نـو بيـا هغـه څـوک چـې هغـه تـه د (تحريـم) حـرام والي حديث هـم نـه وي رسـيدلی او (د يـو حـرام کار) مبـاح والي لپـاره لـه يـو شرعـي دليـل څخـه اسـتنباط کونکـی وي نـو دا خـو بيـا ډيـر لائـق دی چـې معـذور وګڼـل شي.

الغـرض إمـام أبـو حنيفـه رحمـه اللـه د أمـت يـو قـدردان مجتهـد دی چـې بـې احترامـي، توهيـن او پـه حـق کـې يـې نـا مناسـب کلـمات حـرام دي. دا لا څـه بلکـې کـه چيـرې يـو د سـم منهج او عقيـدې يـو عـام عـالم او مفتـي هـم لـه يـو دليـل څخـه پـه يـوه مسـأله او فتـوه ورکولـو کـې خطـا شي نـو پـه هغـه توهيـن آميـز رد حـرام دی نـو د إمـام أبـو حنيفـه، يـا إمـام شـافعي، يـا إمـام مالـک او إمـام احمـد بـن حنبـل رحمهـم اللـه او يـا هـم د أمـت بـل إمـام او عـالم، د هغـوی سـپکاوی او توهيـن خـو قطعـا حـرام دی، دا بـه لا څـوک وي چـې بـشر وي او نبـي هـم نـه وي او بيـا دې د هغـه د معصوميـت دعـوه وشي بلکـې لـه أئمـه وو څخـه پـه اتفـاق سره غـوره او افضـل خلـک هغـه د رسـول اللـه صلـى اللـه اليـه وسـلم صحابـه کـرام وو د حديثـو او آثـارو پـه کتابونـو کې داسـې لسـګونه مقامـات مخـې تـه راځـي چـې هغـوی لـه بعضـې دلائلـو څخـه پـه اسـتنباط او فتـوو ورکولـو کـې خطـا شـوي دي نـو دا د بـشر پـه حـق کـې نقـص او توهيـن نـه بلکـې پـه دې سره د اللـه تبـارک وتعالـى د نبـي او امتـي ترمنـځ توپيـر ثابتـوي، واللـه اعلـم.

[(التحقيق المزيد في وجوب الاتباع وحرمة التقليد)]

دا د إمـام أبـو حنيفـه رحمـه اللـه متعلـق مختـصر خـبره وه، اوس راشـئ او دا بحـث هـم لـړ وګـورئ، کـوم چـې د إمـام أبـو حنيفـه رحمـه اللـه د تقليـد متعلـق دی نـو د دې بـاب پـه پيـل کـې دا وګـورئ چـې پـه کتـاب او سـنت کـې اللـه تبـارک وتعالـى او د هغـه رسـول عليـه الصـلاة والسـلام هيڅکلـه هـم پـه تقليـد امـر نـه دی کـړی او د اهـل علمـو لـه اقوالـو څخـه هـم همـدا خـبره ثابتيـږي چـې تقليـد يـو بدعـت، حـرام او نـوی پيـدا شـوی شـی دی. [(کما في جامـع بيـان العلم وفضلـه 2ج/975ص ابـن عبـد البـر)، او (الإنصـاف للدهلـوي ص97 الـى 99)، (إعـلام الموقعيـن 2ج/145ص)]

دغـه ډول د لغـت د اصطلاحـي معنـا لـه مخـې هـم تقليـد نـاکاره او مذمـوم عمـل تـه ويلـى شي چـې عبـارت د (قبـول قـول الغيـر بـلا دليـل) څخـه يعنـي لـه دليـل پرتـه د بـل چـا خـبر منلـو تـه وايـي او دا تقريبـا د لغـت بې شـماره کتابونـه دغـه معنـا د تقليـد ذکـر کـړې. [جبـل الحديـد أمـام زبـد التقليـد تفصيـلا] و [القـول المفيـد ص43]

هـو کـه اوس څـوک دا اعـتراض وکـړي چـې لـه پخـوا زمانـو څخـه دا دی مسـلمانان تقليدونـه کـوي نـو دا څنګـه حـرام کار دی نـو دا دومـره د أمـت لويـه برخـه چـې تقليد کونکـي دي حتـى چـې لـوی، لـوی محدثيـن او فقهـاء پـه کـې شـامل دي نـو اوس د دوی پـه اړه څـه فتـوی ده چـې آيـا دوی ټـول د حـرام، بدعـت او د نـا جائـز کار مرتکبيـن دي؟

الجواب بعون الله الوهاب:

لمـړی ځـواب: لمـړی دا خـبره ذهـن کـې کښـينوئ چـې حـق پـه ډيـروالي او کـثرت سره نـه پيژنـدل کيـږي بلکـې حـق پـه دليـل سره پيژنـدل کيـږي کـه ډيروالـى د حـق معيـار وګرځـي نـو بيـا خـو اکثريـت پـه دنيـا کـې هـر وخـت او هـره زمانـه کـې د باطـل پرسـتو وي حتـى چـې قـرآن هـم لـه اکثريـت څخـه پـه متعـددو مقاماتـو کـې شـکايت، ګيلـه او پـه هغـوی ردونـه کـړي دي. اللـه تعالـى فرمايـي:
وَإِن تُطِـعْ أَكْـثَرَ مَـن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّـوكَ عَن سَـبِيلِ اللَّـهِ [سُـورَةُ الأنعَـام: 116]

ژبـاړه: او اې محمـد صلـى اللـه عليـه وسـلم کـه تـه پـه ځمکـه کـې د اکـثرو خلکـو تابعـداري وکـړې نـو دوی بـه تـا د اللـه لاري څخـه واړوي.

وَمَـا يُؤْمِـنُ أَكْثَرُهُـم بِاللَّـهِ إِلَّا وَهُـم مُّشْرِكُـونَ [سُـورَةُ يُوسُـف: 106]

ژبـاړه: زياتـره لـه دوی څخـه اللـه نـه منـي او کـه يـې منـي، خـو پـه دې ډول چـې لـه هغـه سره نـور شريکـوي.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ. [سُورَةُ البَقَرَة: 243] ژباړه: خو زیاتره خلک شکر نه اداء کوي.

وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَسِقُونَ. [سُورَةُ المَائِدَة: 81] ژباړه: مګر له هغوی څخه زیاتره خلک د الله له اطاعت څخه وتلي دي.

وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ. [سُورَةُ المَائِدَة: 103] ژباړه: او له هغو څخه زیاتره ناپوهان دي.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ. [سُورَةُ الأنعَام: 37] ژباړه: او له هغو څخه زیاتره خلک په ناپوهۍ کښې اخته دي.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ. [سُورَةُ الأنعَام: 111] ژباړه: خو زیاتره خلک د ناپوهۍ خبرې کوي.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ. [سُورَةُ المؤمن/غافر: 59] ژباړه: خو زیاتره خلک ایمان نه راوړي.

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَرِهُونَ. [سُورَةُ الزُّخرُف: 78] ژباړه: خو ستاسې څخه زیاتره حق بد ګڼي.

او داسې نور ګڼ شمیر آیاتونه شتون لري چې پکې د اکثرو خلکو مذمت او بدي بیان شوې.

دویم ځواب: د مقلدینو دا خبره چې لوی، لوی محدثین او فقهاء مقلدین و، دا خبره هم غلطه او مردوده خبره ده ځکه مخکې زمانه د علم او فقاهت د حدیثو د تدریس او د تدوین زمانه وه، اصول ډیر عجیبه وو، تحقیق سره رغبت بې حده ډیر وو، هر شاګرد به د استاذ په درس کې تفصیل او د هغه فتواو او د سوال ځواب ته دلائل کتل چې زما استاذ او شیخ چې مثلا دغه خبره وکړه دا یې په کوم دلیل کړې نو چې دلیل به پیدا شو نو دغه شاګرد به هم د استاذ دغه مسأله چې په دلیل بناء وه خپله فتوه وګرځوله او علمي اتفاق به یې ورسره په همدې کې راغی، ځینو به چې له کوم شیخ او استاذ څخه درس حاصل کړ نو خلکو به هغه نسبت د استاذ لور ته د شاګردۍ له امله کولو. [الإنصاف ص76]

چې وروستیو خلکو بیا له دې څخه تعبیر په تقلید سره وکړ او حال دا چې هغوی په خپله تقلید رد کړی او مذموم یې ګڼلی دی، د دې ډیر مثالونه دي، د ټولو ذکر کول به دې مقام کې اختصار په تطویل بدل کړي خو د یو څو اهل علمو هغه صریح اقوال به درته رانقل کړو چې هغوی په تقلید رد او له هغې څخه نفرت کړی او له ځان څخه یې نفی کړې.

لمړی: إمام محمد بن الحسن الشیبانی چې ټول متاخرین یې د أبو حنیفه رحمه الله له شاګردی سره، سره د هغه مقلد هم ګڼي او حال دا چې هغه خپله فرمایي:

ولو جاز التقليد كان من مضى من قبل أبي حنيفة مثل الحسن البصري وإبراهيم النخعي رحمهما الله أحرى أن يقلدوا. [المبسوط للسرخسي 12/28] ژباړه: که چیرته تقلید جائز وای نو بیا به د هغه چا هم جائز وای چې

له أبوحنيفه څخه مخکې تېر شوي لکه حسن بصرى او ابراهيم نخعي رحمهما الله څکه دوى بيا ډېر لائق وو (له أبو حنيفه څخه) چې تقليد يې شوى واي.

دويم: أبو جعفر الطحاوي رحمه الله چې دا هم خلک د إمام أبو حنيفه رحمه الله مقلد يادوي خو هغه خپله فرمايي چې ما سره أبو عبيد بن جرثومة علمي مذاکره کوله نو ما د هغه د پوښتنې په مهال هغه ته ځوابونه ورکول نو يوه ورځ يې راڅخه پوښتنه وکړه او ما ځواب ورکړ نو راته يې وفرمايل: دا خو د أبو حنيفه مسائل نه دي نو ما ورته ځواب کې وويل: (أو كل ما قاله أبو حنيفة أقول به) آيا چې أبو حنيفه هر څه ويلي وي نو زه به هماغه وايم؟ نو بيا راته أبو عبيد وفرمايل: (ما ظننتك إلا مقلدا) ما خو گمان نه کولو په تا مگر د مقلد نو بيا ورته ما وويل: (وهل يقلد إلا عصبي) او تقليد نه کوي مگر تعصب کونکى انسان. نو بيا راته أبوعبيد دا خبره وکړه: (أو غبي) او يا يې غبي (بې عقل) انسان کوي. بيا راوي فرمايي: د أبو عبيد او إمام طحاوي رحمهما الله دغه جمله د هوا په څېر والوته او د خلکو ترمنځ يو ضرب المثل وگرځيد حتى چې خلکو حفظ کړه. [لسان الميزان ج1/ص280]

دريم: شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله، دغه ډول له خلکو تاسو اورئ چې شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه الله هم د احمد بن حنبل رحمه الله مقلد گڼي او حال دا چې هغه له تقليد څخه سخت انکار کړى د هغه متعلق د هغه خپل شاگرد ابن القيم رحمه الله فرمايي: ولقد أنكر بعض المقلدين على شيخ الإسلام في تدريسه بمدرسة ابن الحنبلي وهي وقف على الحنابلة، والمجتهد ليس منهم، فقال: إنما أتناول ما أتناوله منها على معرفتي بمذهب أحمد، لا على تقليدي له. [اعلام الموقعين ج2/ص170]

ژباړه: ځينو مقلدينو په شيخ الإسلام رحمه الله اعتراض وکړ چې ته د حنابله وو په مدرسه کې تدريس کوې او هغه خو د حنابله وو مقلدينو مدرسه ده نو مجتهد خو مقلد نه وي (چې دا د بدعتيانو هميشه په اهل حقو اعتراض وي چې تاسو چې تقليد هم نه کوئ او مجتهدين هم نه ياست نو اخر څه ياست؟) نو ابن القيم فرمايي شيخ الإسلام ورته وفرمايل: زه چې درس ورکوم نو دا د إمام احمد رحمه الله د مذهب د معرفت او په هغه د علم په سبب درس ورکوم نه د هغه د تقليد په سبب.

څلورم: إبن القيم رحمه الله چې دا هم خلک مقلد يادوي او حال دا چې هغه د تقليد په رد او حرمت څلور ټوکه ضخيم کتاب ليکلى چې د إعلام الموقعين په نوم شهرت لري.

پنځم: دغه ډول علامه أبو عمر عبد البر القرطبي رحمه الله هم خلک مقلد گڼي خو هغه خپله په خپل کتاب (جامع بيان العلم وفضله) کې د تقليد په حرمت ترديد او فساد باندې باب ترلى او د تقليد حرمت او مذمت يې له کتاب او سنت څخه ثابت کړى. فرمايي: باب فساد التقليد ونفيه والفرق بين التقليد والإتباع؛ قد ذم الله تبارك وتعالى التقليد في غير موضع من كتابه فقال: {اتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله} [جامع بيان الفضل والعلم ج2/

ص975]

ژباړه: باب ثابت دی په بیان د فساد د تقلید او په نفي د هغې کې او په فرق د إتباع او د تقلید کې او بې شکه الله تبارک وتعالی په خپل کتاب کې په ډېرو ځایونو کې د تقلید قباحت بیان کړی، الله تعالی فرمايي: دوی نیولي دي خپل ملایان او پیران شارعان د دین، بغیر له الله څخه.

شپږم: إمام نووي رحمه الله چې مقلدین يې د شافعي رحمه الله مقلد ګڼي خپله فرمايي: أتبعنا الشافعی دون غیره لأنا وجدنا قوله أرجح الأقوال وأعدلها لا أنا قلدناه. [مجموع شرح المهذب ج1/ص43]

ژباړه: مونږ د بل إمام پر ځای د إمام شافعي إتباع ځکه کوو چې مونږ د هغه قول په أقوالو کې راجح او عدل والا موندلی، داسې نه چې مونږ د هغه تقلید کوو.

اووم: د محدثینو په اړه له ابن تیمیه رحمه الله څخه پوښتنه شوې: هل البخاري؛ ومسلم؛ وأبو داود؛ والترمذي؛ والنسائي؛ وإبن ماجه؛ وأبو داود الطیالسی؛ والدارمي والبزار؛ والدارقطني؛ والبيهقي؛ وابن خزيمة؛ وأبو يعلى الموصلي هل كان هؤلاء مجتهدين لم يقلدوا أحدا من الأئمة؛ أم كانوا مقلدين؟

نو هغه ځواب ورکوي او فرمايي: الحمد لله رب العالمين، أما البخاري؛ وأبو داود فإماما في الفقه من أهل الاجتهاد. وأما مسلم؛ والترمذي؛ والنسائي؛ وإبن ماجه؛ وإبن خزيمة؛ وأبو يعلى؛ والبزار؛ ونحوهم؛ فهم على مذهب أهل الحديث ليسوا مقلدين لواحد بعينه من العلماء ولا هم من الأئمة المجتهدين على الإطلاق بل هم يميلون إلى قول أئمة الحديث كالشافعي؛ وأحمد؛ وإسحاق؛ وأبي عبيد؛ وأمثالهم. ومنهم من له اختصاص ببعض الأئمة كاختصاص أبي داود ونحوه بأحمد بن حنبل وهم إلى مذاهب أهل الحجاز - كمالك وأمثاله - أميل منهم إلى مذاهب أهل العراق - كأبي حنيفة والثوري - وأما أبو داود الطيالسى فأقدم من هؤلاء كلهم من طبقة يحيى بن سعيد القطان؛ ويزيد بن هارون الواسطي وعبد الله بن داود. ووكيع بن الجراح؛ وعبد الله بن إدريس؛ ومعاذ بن معاذ؛ وحفص بن غياث؛ وعبد الرحمن بن مهدي وأمثال هؤلاء من طبقة شيوخ الإمام أحمد. وهؤلاء كلهم يعظمون السنة والحديث. [مجموع الفتاوى ج20/ص41] عزتمندو! د دې عبارت مختصر مقصود او خلاصه مفهوم دا دی چې دغه محدثین واړه متبعین وو مقلدین نه وو.

دریم ځواب: کله مونږ د إمام أبو حنیفه رحمه الله مذهب ته د منسوبو خلکو ډیروالی او کثرت وګورو نو دغه کثرت اتفاقي کثرت او ډیروالی هم نه دی بلکې دوی په خپلو کې هم د ډېرو شدیدو اختلافاتو ښکار شوې ډلې دي او هره یوه ډله ځانته حنفیان بولي او بله ډله باطله ګڼي، د دې کثرت او انتشار عمده سبب هغه تاسو (جبل الحدید) کتاب کې د (الأقوال الحقة والصریحة فی نشر مذهب أبي حنیفة) تر عنوان لاندې کتلی شئ خو دلته به يوازې د هغو ډلو ذکر په لنډیز سره وکړو چې هغوی ځانونه احناف ګڼي او د حنفي فقهې د منلو دعوې کوي که څه هم د دوی د دې دعوې حقیقت به وروسته ان شاء الله په مستقل عنوان کې ذکر شي.

معتزله ځانونه احناف ګڼي او د حنفي فقهې د تقلید دعوې کوي. [الرفع والتکمیل ص386]

دویمه ډله: د تصوف چې موجوده څومره شاخونه او څانګې شتون لري اکثر له دوی څخه ځانونو ته احناف وايي او د حنفي فقهې د تقلید دعوې کوي.

دریمه ډله: بریلیان چې د جلي او بدیهي شرک مرتکبین دي او خپلو کې بیا په څو برخو ویشل شوي لکه: سیفیان او نور ځانونه احناف ګڼي او د حنفي فقهې د منلو دعوې کوي.

څلورمه ډله: قادیانیان صراحة چغې وهي چې مونږ احناف یو، د حنفي مذهب د منلو دعوې کوي. [(ملفوظات مرزا غلام احمد قادیانی لعنة الله علیه 2ج/33ص)، (سیرة المهدي 2ج/49ص)]

پنځمه ډله: پنجپیریان دوی هم د حنفي مذهب دعوې کوي او حنفي فقه مخکې مخکې کوي.

شپږمه ډله: کلامیه چې دوی هم د حنفي مذهب او حنفي فقهې د منلو دعوې کوي. [الرفع وتکمیل ص385]

اوومه ډله: مرجئة دا هم هغه ډله ده چې ځان ته احناف وايي او دا بیا تقریبا دولس ډلو باندې تقسیم دي چې دغه ټول د حنفي مذهب او د دې مذهب د فقهې د منلو دعوې کوي. [الرفع والتکمیل ص386] و [غنیة الطالبین 1ج/50ص]

اتمه ډله: ځیني شیعه هم د حنفي

مذهب د تقلید او د دې مذهب د فقهې د منلو دعوې کوي. [الرفع والتکمیل ص386]

علامه عبدالحی اللکهنوی رحمه الله فرمایي: وبالجملة فالحنفية لها فروع باعتبار اختلاف العقيدة فمنهم الشيعة ومنهم المعتزلة ومنهم المرجئة. [الرفع والتکمیل ص386] ژباړه: او په ټوله کې احناف د عقیدې په اعتبار سره بېرې فرعې (ډلې او څانګې) لري چې ځینې له هغو څخه شیعه‌ګان او ځینې معتزله او ځینې مرجئه دي.

علامه تاج الدین سبکي هم په (طبقات الشافعیه) کې فرمایي: ونبغ من الحنفیة طائفة أشربوا في قلوبهم الإعتزال والتشیع. [ج4/ ص209] ژباړه: او په احنافو کې ځینې داسې طائفې هم را ښکاره شوې چې په زړونو کې یې اعتزال او شیعیت ځښل شوی دی.

نهمه ډله: تبلیغیان چې دا هم د دې پورته ذکر شوو ډلو څخه یو مخلوطه او شریکه جوړه شوې ډله ده که څه هم دیوبندیان په کې غالب او اکثر دي چې دوی هم د یوې خاصې نظریې حامیان او داعیان دي.

لسمه ډله: دیوبندیان دوی هم دعوی کوي چې مونږ د إمام أبو حنیفه مقلدین یو خو په دې کتاب کې یې ښه وضاحت شوی چې دوی د هندوستان د تصوف د مشرانو پیروان دي.

الغرض! خلاصه د ځواب دا شوه چې یو خو ډېروالی د افرادو د حق معیار نه دی، بل محدثین او فقهاء کله هم مقلدین نه وو، بل د حنفي مذهب تقلید کونکي نه په خپلو کې د عقیدې په اعتبار سره اتفاق لري او نه په فرعي اعتبار سره بلکې ځینې یې خپلو کې هم د ځینو تکفیر کوي چې دا دلیل دی په دې چې تقلید انسان په تعصب او بغاوت عن الله والرسول مجبوروي ځکه خو دغه تقلید د دین د ځلورو مشهورو إمامانو په شمول د دین نورو إمامانو هم رټل شوی او مذموم اعلان کړی دی. مزید تفصیل لپاره وګورئ. [(القول المفید)، (جبل الحدید)، (جامع بیان العلم وفضله)، (الإنصاف في بیان أسباب الاختلاف) (التفهیمات الإلهیة)]

او اخري فیصله کن خبره چې د دې عنوان مقصود او خلاصه ده، هغه همدا ده چې دیوبندیان هم لکه د دې نورو ذکر شویو باطلو ډلو په څېر قطعاً احناف نه دي چې دغه بحث به باذن الله وتوفیقه په راتلونکي متصل عنوان کې په تفصیل سره ولولئ.

دخراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! ددغه سلسله واري لړۍ دویمه برخه به ان شاء الله په راتلونکې شلمه ګڼه کې ولولئ ، وبالله تعالی التوفیق

ملا هبة اخوند د شریعت په

تله کې

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

عزتمندو مسلمانانو ورونو!

انسان الله عزوجل مدني الطبع پیدا کړی دی، په اجتماع او ټولنه کې ژوند کوي، نو د انسانانو لپاره یو حاکم، امیر او زعیم پکار وي، ترڅو د دیني تقاضاؤ موافق د دوی د ژوند چارې تنظیم کړي. همدې مقصد په پار الله عزوجل آدم علیه السلام پیدا کړ او کله چې الله عزوجل د خپل حکمت موافق آدم علیه السلام د جنت څخه ځمکې ته راکوز کړ، نو د هغه مصالحو ته په کتنې یې ورته د انفرادي او ټولنیز ژوند د تیرولو ځانګړي دیني اصول او دنیاوي علوم هم وروښودل، چې هغه علیه السلام هم ددغه الهي قانون موافق خپل شخصي او ټولنیز ژوند لپاره خلافت جوړ کړ، چې دغه نظام مونږ د ځمکې په سر د انسانانو لمړی اسلامي نظام او خلافت بللی شو.

الله عزوجل فرمایي: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ

إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ (30) وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (31) سورة البقرة.

ژباړه: هغه وخت په زړه کړه چې کله ستا رب ملائکو ته وويل چې زه په ځمکه کې فيصله کونکی ګرځوم، هغو عرض وکړ : ايا ته په ځمکه کې داسې يو څوک فيصله کونکی (خليفه) ټاکې، چې د هغې نظم خراب کړي او وينې توي کړي ؟ ستا له حمد و ثنا سره تسبيح او ستا له پاره سپېڅلي ستاينه خو مونږ کوو، هغه وويل: زه پر هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. له هغه وروسته الله عزوجل آدم عليه السلام ته د ټولو شيانو نومونه وښودل، بيا يې هغه ملائکو ته وړاندې کړل او ويې ويل: که تاسې په خپله خبره کې ريښتيني ياست نو ددې شيانو نومونه راوښيئ.

رئيس المفسرين ابن جرير د عبد الله بن مسعود او عبد الله بن عباس رضي الله عنهم څخه ددې تفسير نقل کوي: إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً مِنِّي يَخْلُفُنِي فِي الْحُكْمِ بَيْنَ خَلْقِي، وَذَلِكَ الْخَلِيفَةُ هُوَ آدَمُ وَمَنْ قَامَ مَقَامَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ وَالْحُكْمِ بِالْعَدْلِ بَيْنَ خَلْقِهِ. [تفسير ابن جرير الطبري ج ١ / ٤٧٩]

ژباړه: زه په ځمکه کې خپل خليفه پيدا کوم، چې زما د مخلوق ترمنځ پريکړې کولو کې به زما نيابت کوي. او دا خليفه آدم عليه السلام دی، او هر هغه څوک چې د الله عزوجل په طاعت او د هغه مخلوق ترمنځ په انصاف سره پريکړې کولو کې د آدم عليه السلام ځای ناستی وي.

مفسر بيضاوي وايي: كان خليفةَ الله في أرضه، وكذلك كل نبي استخلفهم الله في عمارة الأرض وسياسة الناس وتكميل نفوسهم وتنفيذ أمره فيهم. [تفسير البيضاوي ج ١ / ص ٦٨]

ژباړه: آدم عليه السلام په ځمکه کې د الله عزوجل خليفه (حاکم) و، او دغه رنګ الله عزوجل هر نبي د ځمکې آبادولو، د خلکو سياست، ددوی د نفسونو بشپړوالي (تزکيې) او په دوی کې د هغه امر نافذولو لپاره خليفه ګرځوي.

نو پدې آيت کې د خلافت او امارت کبرى وضاحت مفسرينو په انصاف پريکړه کول، شرعي احکامو نافذول، د قضاياؤ تنفيذ او د خلکو چارې اداره کولو سره کړې دی، چې دا يوازې د دعوت، تبليغ، درس تدريس او تعليم تعلم کار ندی، بلکې يو بشپړ سياسي نظام و. که څه هم هغه وخت ددغه نظام چارې دومره پراخه نه وې، خو بيا هم د اسلامي سياستولی بنياد هماغه وخت کيښودل شو او واک يې تر يوې محدودې منطقې پورې نه و بلکې ټولې ځمکې لپاره خليفه و خو د نفوسو د کموالي له امله يې په هغوی خلافت کاوه. چې

دغه نظام په ټولو برخو مشتمل و، ايمانيات (عقائد)، عبادات، معاملات، اخلاقيات، عقوبات او سياسيات. نو هغه ديموکراتان او سيکولران چې هغوی وايي اسلام کې سياسي نظام نشته، يا دين او سياست سره تړاو نه لري، بايد دواړه سره جلا شي، د دوی دعوه بې ځايه ده، ځکه اسلامي سياسي نظام د آدم عليه السلام له مودې پيل شوې دی، او دا د بشري نړۍ لومړی او حقيقي نظام دی، زرګونه کاله تاريخ لري، او په پيړيو پيړيو د خلکو چارې يې بشپړې کړې دي، دغه شان شريعت کې د سياست چارې انبياؤ پورې خاص دي، ابو حازم تابعي وايي ما پنځه کاله د ابو هريره رضي الله عنه سره شاګردي کړې ده، د هغه څخه مې واوريدل چې د نبي عليه السلام دا حديث يې بيانوه: «كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ، أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ» متفق عليه.

ژباړه: د بني اسرائيلو سياست (مشري) به انبياؤ کوله، کله چې به نبي وفات شو نو په ځای به يې بل نبي راتلو، خو زما څخه وروسته بل نبي نه راځي مګر ډير خلفاء به وي. صحابه و، وويل: ته مونږ ته په دې کې څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: د اولني په بيعت پوره والی وکړئ، هغوی ته خپل حقونه ورکړئ، ځکه الله تعالی له هغوی څخه د رعيت په اړه پوښتنه کوي.

حاصل دا شو چې د سياست تګلاره به نبي ټاکي او د محمد رسول الله عليه السلام نه وروسته به خلفاء راځي چې دوی به هم د هغه په پل پل ځي.

لهذا د سياست اصطلاح مطلقاً نه مردود ده او نه مقبول ده، کله چې شرعي سياست شي نو بيا د منلو وړ شوه، او کله چې بدعي سياست او شرکي سياست شي بيا د منلو وړ نه ده.

نو د دغه نظام مقابله اوسني کاغذي او سيکولر نظامونه هيڅکله نه شي کولای، چې سر تر پايه، د مشر څخه نيولي تر کشره پورې ټول د کفارو په لاربښوونو عمل کوي، د بشر د حقيقي منافعو ضد نظام وي، او د ابليسي اساسي قوانينو څخه تشکيل شوی وي، الهي مصالحو څخه انکار، استکبار، مطلق العنانيت د مسلمانانو پر ځای کفارو ګټو ته ژمنتيا، خپل قوم په بل غوره بلل (نيشنلزم)، د اسلام او مسلمانانو عداوت او په ټولنه کې د فحشاء او عرياني استازيتوب يې ځانګړي ارکان وي.

لهذا اسلامي نظام ددې ځمکې اصلي نظام دی، خو وخت په وخت دا نظام د ابليس اولادې لخوا اشغال شوی دی، نو هر وخت مسلمانانو ته د خپل اشغال شوي نظام د آزادۍ په پار د قتال او مبارزې مشروع حق حاصل دی. او دغه مشروعيت په کتاب الله او سنت د رسول الله عليه السلام سره ثابتيږي. او د دې څخه وروسته د عقل او منطق د هر قانون موافق په ټولنه نړۍ کې دا د مسلمانانو مسلم حق دی.

د آدم عليه السلام د مړينې څخه وروسته د اسلامي نظام مشري د هغه زوی شيث عليه السلام ته ورکړل شوې وه او بيا د هغه لمسی أنوش خليفه و. (الکامل لابن الأثير ج ١ / ص ٥٠)

تر دې چې خبره ١٥ پيړۍ ته راورسيده، اسلامي خلافت مفقود و، الله عزوجل د عراق مسلمانانو ته توفيق ورکړ چې اتحاد وکړي، يوه شورى يې جوړه کړه، بيا يې اسلامي دولت رامنځ ته کړ، چې د نړيوالو جهادي قائدينو لخوا په رسميت سره وپيژندل شو، شيخ اسامه يې په دې الفاظو تاييد وکړو:

وهنا ينبغي ذكر أهل الفضل السابقين في باب الوحدة والاجتماع بما هم أهله، فلقد سر المسلمين تسابق عدد من أمراء الجماعات المقاتلة في سبيل الله مع عدد من شيوخ العشائر المرابطة المجاهدة لتوحيد الكلمة تحت كلمة التوحيد فبايعوا الشيخ الفاضل أبا عمر البغدادي أميرا على دولة العراق الإسلامية.“

ژباړه: او دلته د اتحاد او يووالي ته مخکې کيدونکو غوره خلکو ذکر مناسب ده لکه څنګه چې هغو سره ښايي. يقيناً د الله په لار کې جنګيدونکو يو څو ډلو مشرانو د څو مجاهدو قومي مشرانو په شمول د توحيد کلمې په سيوري کې اتحاد ته مخکې والی وکړ، او غوره شيخ ابو عمر بغدادي سره يې د عراق اسلامي دولت په توګه بيعت وکړ.

د القاعدې دويم مشر أيمن ظواهري

هم دغه اقرار وکړ چې اسلامي دولت د اکثره مجاهدینو د اتحاد په نتیجه کې رامنځ ته شوی دی.

"أود أن أوضح أنه ليس هناك شيئ الآن في العراق اسمه القاعدة ولكن تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين اندمج بفضل الله مع غيره من الجماعات الجهادية في دولة العراق الإسلامية حفظها الله وهي إمارة شرعية تقوم على منهج شرعي صحيح ، وتأسست بالشورى وحازت على بيعة أغلب المجاهدين والقبائل في العراق."

ژباړه: غواړم چې یوه نقطه واضحه کړم، دا چې اوس په عراق کې د القاعدې په نوم څه وجود نه لري، بلکې تنظیم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدین د الله په فضل له نورو جماعتونو سره عراق اسلامي دولت کې داخل شوي، الله دې د هغې ساتنه وکړي، او دا داسې شرعي امارت دی، چې په سم شرعي تګلار باندې ولاړ دی، د شورا لخوا تاسیس شوی او د عراق د اکثرو مجاهدینو او قبائلو د بیعت څخه جوړ شوی.

او بیا همدغه متفق علیه دولت د قوي تمکین په صورت کې د خلافت اعلان وکړ، په نړیوالو مسلمانانو یې بیعت لازم وګرځېد. د خراسان مومنانو هم د خلیفة المسلمین أبو بکر البغدادي سره بیعت وکړ.

او د خلافت ویاند په نورو تنظیمونو هم غږ وکړ چې راځئ خلافت سره یوځای شئ، خو طالبانو د ای ایس ای په قومانده او امکاناتو د اسلامي خلافت پرضد جګړه شروع کړه، مجاهدینو پنځه کلن تمکین کې اسلامي نظام قایم کړ، چې طالبان یې له مقابلې څخه عاجزه شو، د پاکستان په توسط امریکا ته یې قطر کې تسلیمي ورکړه او د یو تړون له مخې دواړو د اسلامي دولت په تمکین هجوم راوړ، د امریکا د علني هوایي ملاتړ څخه برخمن طالبان خه په داسې حال کې د اسلامي دولت په تمکین راوخیژول شول چې له مخکې به ورته د اسلامي دولت د مجاهدینو دفاعي سنګرونه امریکایي درنده ګانو خه کلک بمبار کړل .

آخر امریکا هم ورته د کابل واک پرته له ډز او ډوزه وسپاره او دوی هم د فاتحینو پیښې کولې او ډېر په خوشحالی سره یې خپل نظام اسلامي نظام معرفي کړ، نو د طالبانو د شرکي نظام حقیقت خو علماء کرامو تکراراً بیان کړی دی خو راځئ چې نن یوځل بیا د طالبانو د زعیم حال وګورو چې آیا د کومو مقاصدو او مصالحو په پار الله تعالی آدم علیه السلام په ځمکه کې خلیفه ګرځولی و، هغه پکې شته او که نه دا د سیاسي نړۍ یو مرتد حاکم دی ؟ ځکه د زعیم افکار، منهج او څرګندونې د دغه ګوند رسمي منهج ګڼل کیږي.

مسلمانانو ورونو! شاوخوا ۸ میاشتې وړاندې د ۱۴۴۳ هـ ق کال د ذوالحجې په لومړۍ نیټه، طالبانو کابل کې د امریکا په امر د طالب پلوه درباري ملایانو درې زره کسیزه غونډه راوبلله، چې د طالبانو زعیم ملا هبت الله هم ورته راغی او وینا یې وکړه، که څه هم د بیان پرمهال د هغه صورت حال او کیفیت په اړه یې مختلف اقوال دي، خوله هغې تیریږو ، د طالبانو د زعیم وینا اورو او د شریعت په تله یې تلو، ان شاء الله. کله یې چې بیان ته راغواړې، ټول نعره تکبیر چیغې شروع کړې.

د هبت الله اخوند د بیان سرټکي:

د طالبانو د زعیم د بیان خلاصه هم دا وه چې ټول تناقضات وو، اول سر یې له آخر سره ټکر کې و، نه یې مبتدا معلومه وه او نه یې خبر معلوم و، قول یې له عمل سره متضاد و، بیان یې نه په علمي معیار برابر و او نه په شرعي او نه هم د خطابت د اصولو موافق و، موضوعاتو ترمنځ ربط نه و، یوه خبره به د مشرق څخه وه، بلې به یې د مغرب نه

راواخېسته. نه یکې چیرې کتاب وسنت و، یو څو نیمګړي نصوص یې ویلي خو خوار هغه هم غلط ویلي دي. نه یې د اسلامي نظام ځانګړتیاو ته اشاره وکړه، نه یې د شریعت د احکامو تنفیذ په اړه د کوم پرمختګ یادونه وکړه، خو بس ودریده او د خپل شخصیت صفت یې وکړ، د زوی صفت یې وکړ، بعضې مواضعو کې یې د خپلو طالبانو صفتونه وکړل چې اولیاء الله دي، او کله یې ویل چې زیاتې بهانې جوړوي، د بیان موضوع یې نه وه معلومه، مسلمانانو ته ډاډ نه و، مستضعفینو ته ډاډ نه و، اسیرانو ته یکې ډاډ نه و، کفارو ته تهدید نه و، د اسلامي امت په زخمونو دردمند نه و، خو د خپلې چوکۍ په نشه مست و، او یو ساعت شاوخوا وخت یې ونیوه، لاندې ناست درباري ملایانو ورته سرونه خوځول او نعره تکبیر چیغې یې ورته وهلې او بیا سرې ورک شو .

د هبت الله د بیان سرټکي به لومړی راواخلو بیا به تفصیل ته ورننوځو، ان شاء الله. د دغه بیان حاصل دا و چې د شریعت په تعطیل یې اقرار وکړ، وایي تر اوسه طالبانو حدود نه دي نافذ کړي، وایي: [یعني اوسه پورې خو هغه عملي شی چې قصاص او حدود دي د الله پاک، دا خو لا ندي نافذ سوي، دا چې موږ هغه نافذ کړو نو بیا به د دوی عکس العملونه وغیره وي]

دا د طالبانو د زعیم اقرار شو چې دغه یو کال خو د الله تعالی حدود او قصاص احکام معطل وو، نو آیا دا نظام به اسلامي وي ؟ د دې پرته د جزیې حکم، د وینځو غلامانو حکم، د جهاد د ابقاء حکم او د نورو دیني احکامو د تنفیذ یې بیخي یادونه ونه کړه.

په خپل بیان کې یې د خپلو محاکمو حال هم بیان کړ چې محکمو کې سفارشونه روان دي، وایي: [په محکمو کې سفارشتونه روان دي، د یو چا انډیوال بندي شي، د یو چا قومي بندي شي، د یو چا زورور بندي شي، د دې خوا څخه واسطې دي، سفارشتونه دي، آمولي صاحب بندي یې نه کړی، آمولي صاحب بندي یې نه کړی]

ددې راز څخه یې هم پرده پورته کړه چې کابل کې د تیرې دورې بدمعاشان ارتې تنې ګرځي، قطارونه ورپسې روان وي. وایي: [زه خبر شوی یم، چا راته وویل دا په کابل کې یو بدمعاش دی ګرځي، قطارونه ورپسې وي]

په خپله خوله یې خپل نظام د دوه روپو کړ. إن الكذوب قد يصدق. خو دا حقیقت کې الله عزوجل طالبان شرمول ځکه یې ترې داسې خبرې راویستلي دي.

کله هبت الله اخوند د ځان صفتونه کوي: [زه یو سیاسي مشر نه یمه، زه یو رئیس الجمهور نه یمه، زه انتخاباتو والا نه یمه، زه یو دروغجن مشر نه یمه]

کله د کشرانو غیبتونه کوي چې خبره نه مني. بهانې جوړوي، وایي: [یو مولوي صاحب مې راوغوښتی ما ویل ته به کابل ته ولاړ سې، په کندهار کې، داسې مریضي لرم صاحبه، لور مې هم ناجوړه ده]

کله یې اعتراف کوي، چې علماء د امارت څخه خفه دي، وایي د علماؤ او امارت ترمنځ واټن موجود دی. علماء په امارت واورونه کوي. [داسې یو فاصله معلومیږي، لکه د علماؤ او د امارت ترمنځ چې یوه فاصله موجوده ده، علماء واورونه کوي په امارت باندې]

کله د خپل زوی د عِصمت دعوا کوي. [او زما د معصوم زوی روح چې یې لاره کې ولاړې او دا داسې قدرمند و چې رب جل جلاله ته دا وینه ډیره قدرمنده وه]

کله وایي افغاني مرتدینو وژل راباندې سخته بوج و. [که دغه افغانان د دوی سره په څنګونو کې ولاړ وو، دا زه په یقین وایم چې د دوی وژنه زمونږ مقصود نه وه خو دوی سپر ګرځیدلي وو د هغو لپاره، په قطر کې مذاکرات شروع وو دا خبره نږدې سوه چې امریکایان به وځي، پدې شرط به وځي پدې شرط به وځي، زما پدې کې فکر بند وو چې دا امریکایان خو به ځي خو که دغه امریکایان لاړ شي، دغه نور یې پاتې سي او دا بیا موږ سره جنګیږي، موږ ته په میراث باندې یو جنګ پریږدي بیا څو وخت موږ په خپل منځ کې، دغه افغانان یې راته درولي یې، وژنو یې، سخته راباندې بوج وه]

حقاني نیټ ورک او سراج الدین دوی باندې یې کلک رد وکړ چې ورور او خپلوان ټول یې په حکومت کې ودرولي دي: [شخصي مصلحتونه خو دا دي، خپل زوي راوله پکې دروه یې،

ورور راولـه پکـې دروه يـې، قـوم راولـه دروه يـې، بـل راولـه دروه يـې، دلتـه کـور کانـه دي سره جـوړه کـړه، عـام مصلحـت پـه نظـر کـې نسـته].

چـې دغـه رد د طالبانـو سـتر قـاضي عبـد الحکيـم تـه هـم شـامل شـو.

کلـه نړيوالـو تـه داړ ورکـوي چـې د افغانســتان ځخــه بيــرون مونــږ کار نلـرو، بـې غمـه خوبونـه کـوئ، نـور به دربانـدې ځـوک ددې ځـای ځخـه ډز هم ونـه کـړي، وايـي: [کـه زمونـږ د ملـک ګاونډيـان دي، دا دې هيـڅ احسـاس نـه کـوي چـې مونـږ بـه د دوی پـه حـق کـې بـده اراده ولـرو، مـوږ هيـڅ بـده اراده نـه لـرو، مـوږ اسـلام د سـلامتيا نـوم دی، سـلامتيا غـواړو، امـن غـواړو، صلحـه غـواړو، آرام ژونـد غـواړو]

او کلـه بيـا باتـې وهـي چـې ټولـه نړۍ کـې بـه د افغانســتان علـماء شرعـي رهنمايـي او رهـبري کـوي، او اسـلامي نظـام بـه قايمـوي.

خيـر دا ټـول همداسـې دي، مـلا يعقوب باتـې هـم مخکـې مونـږ ذکـر کـړی وی چـې اوزبکسـتان او تاجکسـتان تـه يـې ويـل کـه د امريکايانـو لخـوا درسـپارل شـوي طيـاري مـو راتـه حوالـه نـه کـړې نـو د يـو نَـتْ حسـاب هـم درسره کـوم، خـو ميدان کـې يـې بيـا د خپلـو سـيمو سـاتنه هـم نشـوه کـولای، د امريـکا پـرون تـه خـو هسـې هـم ځـه نـشي ويـلای خـو د پاکسـتان جيټانـو چـې پـه خوسـت او کنـړ بمبـار کاوه نـو بيـا سـرې ورک و، هيـڅ درک يـې نـه و.

کلـه هبـت اللـه وايـي د تيـر جمهوريت قوانينـو کـې لـږې ګوتـې وهـم، نـور هماغـه نافـذوم.

نـو تاسـې بـه د هبـت اللـه د بيـان لنډيـز ځخـه د طالبانـو د نظـام حقيقـت درک کـړی وي، چـې د دوی نظـام کـې حـدود نشـته، محکمـو کـې د هيبـت اللـه پـه اصطـلاح سفارشـتونه (سفارشـونه) دي، د جمهوريـت دوري بعضـې بدمعاشـان اوس هـم ارتـې تنې ګرځـې، حقـاني نيـټ ورک خپـل ورونـه ، وريرونـه اوښـي او د خالـه زامـن ټـول وزيـران ، رئسـان .. کـړي دي . خپـل صفـت او د کشرانـو غيبـت يـې وکـړ، خپـل زوی يـې معصـوم وبالـه، پـدې يـې اقـرار وکـړ چـې علـماء د امـارت ځخـه خفـه دي او ردونـه پـرې کـوي، کلـه وايـي د جمهوريـت قوانيـن د لـږو ګوتـو وهلـو نـه پـس نافـذوم، يعنـې زوړ وضعـي قانـون غـواړي.

راځـو اوس د هبـت اللـه اخونـد وينـا بعضـې نقاطـو تـه پـه يـو ځـه تفصيـل سره اشـاره کـوو. ان شـاء اللـه.

د هبت الله اخوند لفظي خطاياني:

د هبـت اللـه ۴۷ دقيقـې بيـان مونـږ تـه لاس تـه راغـی، متاسـفانه چـې د پـوره بيـان پـه پيـدا کولـو ونـه توانيـدو.

پـه دغـه بيـان کـې د هبـت اللـه لفظـي خطايانـو تـه مختصـره کتنـه کـوو، ترځـو د علـم کچـه يـې واضحـه شي چـې آيـا دا اخونـد د اسـلامي امـت د رهـبرۍ وړتيـا لـري، د دغـه سـتر منصـب لپـاره کافي مقـدار علـم لـري او کـه نـه ؟

خطبه کې د حديث الفاظ خطا وايي:

[قَـالَ: «لِلَّـهِ وَلِكِتَابِـهِ وَلِرَسُـولِهِ وَلِأَئِمَّـةِ الْمُسْـلِمِينَ وَعَامَّتِهِـمْ»] دلتـه يـوه خطـا دا ده چـې ولأئمـة المسـلمين پـر ځـای ولآئمـة المسـلمين وايـي، مَـد ورکـوي. او دويـم ځـل د بيـان پـه ۴۵ دقيقـه کـې يـې بيـا هـم دغـه خطـا تکرار کـړې او وايـي: [نصيحـت چاتـه دی، مـوژ تـه هـم نصيحـت دی، وَلِآئِمـةِ المسـلمين].

دويمـه خطـا يـې پدغـه يـوه جملـه کې دا کـړې ده چـې عامِّتِهـم، ميـم بانـدې يـې شَـد نـدی ويلـی: دا وايـي عامَتِهـم، اصـلا دا لفـظ وعامَّتِهـم دی.

د فقهـې د يـوې قاعـدې عبـارت وايـي، د عبـارت حـال يـې بيخـي ورخـراب کړی، او بيـا د ځـان لپـاره امامـت کـبرى ثابتـوي! نـورې خطايانـې خـو بيخـي زياتـې دي، جِهـاد تـه جَهـاد وايـي، سره ددې چـې جَهـاد صحـرا تـه وايـي. خـو خيـر دغـه بعضـې خطايانـې بـه يـې نه رانيسـو، خـو حـد اقـل دا نصـوص خـو بايـد سـم ووايـي، ولآئمتهـم وعامَتِهـم خـو ونـه وايـي.

دا يـې علمـي کچـه ده خـو طالبـان يـې بيـا پـه صفتونـو نـه مړيـږي چـې زمونـږ اميـر المؤمنيـن (!) مفـسر او شـيخ الحديـث دی.

د هبـت اللـه پـه ژونـد ليـک کـې هـم طالبـان ليکـي: چـې نومـوړی د شرعـي علومـو پـه تيـره د فقـه، اصـول الفقـه، تفسـير او حديثـو پـه تدريـس کـې ځانګـړې مهـارت او اسـتعداد لـري.

طالبـان د اسـلامي خلافـت مجاهدينـو تـه پيغورونـه ورکـوي چـې تاسـې علـماء نـه لـرئ او د نـورو ملايانـو پـه شـمول زمونـږ زعيـم سـتر عـالم دی، شـيخ الحديـث دی، نـو هـر کلـه چـې د سـتر عـالم يـې دا حـال وي نـو تاسـې فکـر وکـړئ چـې د نـورو ملايانـو بـه يـې ځـه حـال وي؟ او د خلافـت مجاهدينـو پرضـد د دغـه درواغجـن

الـزام پـه حقیقت بـه هـم پوهـه شـوي یاسـت چـې دي سره دوی خپـل جـرم پـه مونـږ تپـل غـواړي. همدغـه شـان د رئیـس الـوزراء خـوار عبـارت خـو هـم تاسـي اوریدلـی و چـې هغـه هـم خطبـه خطـا ویلـه. نَحْمُدُه یـي ویـل. الغـرض دعـوه د امامـت کـوئ نـو امامـت لپـاره خـو د علـم لـوړه مستوا پـکار وي. لکـه تاسـي د خلیفة المسلمین ابـو بکـر البغـدادي تقبلـه اللـه بیانات واورئ چـې د هغـه علمیـت، اهلیـت او صلاحیـت انـدازه درتـه وشي. ځکـه خـو شـیخ عدنـاني تقبلـه اللـه یـې پـه [عَالِمٌ عَامِلٌ عَابِدٌ مُجَاهِدٌ] سره سـتاینه کـړې ده.

د یادونـې وړ ده چـې د خلیفـة المسلمین او د هبـت اللـه مقایسـه لـه هـر اړخـه باطلـه ده، ارکان د قیـاس دلتـه نشـته، هبـت اللـه د افغانسـتان پـه سـطحه د بین المللـي شرکـي قوانینـو پـه زنځیرونـو تـړل شـوی د غـلام تنظیـم بـې واکـه مسـؤول دی، او خلیفـة المسـلمین خـو نړیـوال جهـادي رهـبر وي، خـو دا بیلګـه مـو ځکـه وړانـدې کـړه چـې امیـر المؤمنیـن وینـا، علـم او عمـل یـې داسـې وي، نـه داسـې چـې طالبـان هبـت اللـه اخونـد تـه امیـر المؤمنیـن وایـي. او دغـه اخونـد ځانتـه خپلـه هـم امـام وایـي. نـور خـو هبـت اللـه د واک د سـاحې پـه اسـاس د خراسـان ولایـت د والي څخـه هـم لانـدې دی، ځکـه د ده واک پـه یـوازې د افغانسـتان پـه محـدوده سـیمه دی او د ایـمان پـه اسـاس خـو د عـام موحـد څخـه هـم ډېـر ښـکته دی، ولـو کـه دغـه موحـد تـارک د جهـاد هـم وي، ځکـه هبـت اللـه هیـڅ ایـمان نـه لـري او موحـد کـه ګناهـګار هـم وي، د ایـمان نعمـت څخـه خـو برخمـن دی.

مسـلمانانو ورونـو! ډېـره نـادره ده، کلـه هبـت اللـه د امامـت دعـوه کـوي او د ځـان صفتونـه کـوي او کلـه بیـا خپـل حقیقـت پـدې الفاظـو بیانـوي، وایـي: [زه ناپوهـه سـړی یـم، حکومـت حکومـت خـو زه نـه پیژنـم.] انـا اللـه وانـا الیـه راجعـون.

چـې ناپوهـه یـې خـو نااهـل یـې، علـم خـو د امـارت لپـاره مهـم شرط دی. [وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ] چـې کلـه علـم نـه لـري نـو نـا اهلـه یـې او سـتا مـشري د قیامـت د نښـو څخـه یـوه نښـه ده. نبـي علیـه السـلام فرمایـي: [إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ]. ژبـاړه: کلـه چـې کار (واک) نااهلـه تـه وسـپارل شـو نـو د قیامـت انتظـار کـوه. او دغـه رنـګ بـل حدیـث دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ سَنَوَاتٌ خَدَّاعَاتُ، يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ، وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ، وَيُؤْتَمَنُ فِيهَا الْخَائِنُ، وَيُخَوَّنُ فِيهَا الأَمِينُ، وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ" قِيلَ: وَمَا الرُّوَيْبِضَةُ؟ قَالَ: "الرَّجُلُ التَّافِهُ فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ". أخرجـه ابـن ماجـة وسـنده حسـن.

ژبـاړه: رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: زر دی چـې پـه خلکـو بـه دوکـه ورکونکـي کلونـه راشي، دروغجـن بـه پکـې ریښـتوني ګڼـل ګیـږي، او ریښـتوني بـه پکـې دروغجـن ګڼـل کیـږي، خائـن تـه بـه د امیـن پـه سـترګه کتـل کیـږي او امیـن تـه بـه د خائـن پـه سـترګه کتـل کیـږي او رویبضـه بـه پکـې خـبرې کـوي. وویـل شـول: رویبضـه څـه تـه وایـي ؟ هغـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: ناپوهـه انسـان بـه د عامـه خلکـو پـه کارونـو کـې غږیـږي.

دا دی هبـت اللـه پـه خپلـه اقـرار کـوي چـې ناپوهـه یـم، نـو د دغـه ناپوهـه پسـې بـه د روانـو ړنـدو طالبانـو څـه حـال وي ؟ او نـور تاسـې خپلـه لـږ پـدې خـبره فکـر وکـړئ چـې طالبـان بـه څنګـه وتوانیـږي چـې د ناپوهـه کـس پـه قیـادت کـې اسـلامي نظـام قائـم کـړي؟

هـر کلـه چـې رهـبر یـې ناپوهـه دی او حکومـت حکومـت نـه پیژني نـو دا بـه د چـا لخـوا اداره کیـږي ؟ جـواب یـې واضحـه دی او مونـږ تاسـې ټولـو تـه معلـوم دی چـې دغـه شـخص د چـا لخـوا پوهـول کیـږي، کومـه پالیسـي او کـوم منهـج ورتـه ښـودل کیـږي!

دا کـس کلـه ځـان تـه ناپوهـه وایـي خـو کـشران یـې سـتر فقیـه، محـدث او مفـسر بـولي او ډیـره عجیبـه لا دا ده چـې بیـا د ځـان لپـاره امامـت هـم ثابتـوي، او کـشران هـم ورتـه امیـر المؤمنین وایـي، نـو اجتماع النقیضیـن راغـي، هـم ناپوهـه او هـم امـام!! خـو بیـا هـم شریعـت کـې امامـت او خلافت مـترادف اصطلاحـات دي، راځـئ چـې وګـورو دا اخونـد د امامـت پـه تلـه څومـره پـوره خیـژي؟

امـام مـاوردي پـه الأحـکام السـلطانیة کـې د امامـت تعریـف داسـې کـوي: الْإِمَامَةُ: مَوْضُوعَةٌ لِخِلَافَةِ النُّبُوَّةِ فِي حِرَاسَةِ الدِّينِ وَسِيَاسَةِ الدُّنْيَا.

هغـه مـشري چـې د دین پـه سـاتنه او د دنیـاوي چـارو پـه سـمون کـې د نبـوت

نیابت لپاره رامنځ ته شوي وي.

تفْتَازَاني په متن د مَقاصِد الطالبین في علم أصُول عقائد الدّین کې وایي:

الإِمَامَة، وَهِي رئاسة عَامَّة فِي أَمر الدّين وَالدُّنْيَا خلَافَةً عَن النَّبِي [صلی الله عَلَيْهِ وَسلم]

د نبي علیه السلام په نیابت کې د دین او دنیا عامه مشرۍ ته خلافت وایي.

" الإِمَام ": خلَافَة شخص للرسول فِي إِقَامَة قوانين شَرْعِيَّة، وَحفظ حوزة الْإِسْلَام، على وَجه يجب اتِّبَاعه على كَافَّة الْأمة. کتاب التجريد.

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د یو کس نیابت کول، دشرعي قانون په نافذولو او د اسلام حدودو ساتلو کې په داسې طریقه چې تابعداري یې په ټول امت واجب وي.

نو د امامت او د خلافت بنیادي وظائف د دین او دنیا ساتنه ده، دا شرعي سیاست دی، او د کفري نظامونو او د بین الملل په دام کې راګیر شرکي نظامونو سره توپیر یې دا دی چې هغوی فقط دنیاوي چارې د خپل ناقص ذهن موافق سمول غواړي.

اوس به د هبت الله بیان کې هم یو څه تفصیل سره وګورو چې څومره ددین ساتنه یې کړې او څومره یې په شرعي لارو دنیاوي چارې سمې کړې دي.

د هبت الله اخوند اول ناقض:

د شرکي اصولو منلو له امله جهاد معطل کول، د جهاد څخه په زوره ځان بندول، د حربي کفارو سره د سلامتیا او دوستۍ اړیکې قائمول او هغوی ته د امن ډاډینې ورکول:

د طالبانو د زعیم یو ناقض دا دی چې د ملګرو ملتونو شرکي قانون منلو په اساس د سایکس و پیکو پولې ور اخوا ګاونډیو کفارو او مرتدینو ته د امن ډاډینې ورکوي، جهاد یې معطل کړی دی، اقدامي جهاد څخه تعبیر په بده اراده سره کوي او د سلامتۍ ډاډ یې ورکړی دی، دغه اخوند وایي:

[که زمونږ د ملک ګاونډیان دي دا دی هیڅ احساس نه کوي چې مونږ به د دوی په حق کې بده اراده ولرو. مونږ هیڅ بده اراده نه لرو. [مونږ] اسلام د سلامتیا نوم دی سلامتیا غواړو، امن غواړو، صلحه غواړو، آرام ژوند غواړو]

د شرکي اصولو قید مو ځکه ولګوو چې د جهاد تعطیل قباحت ته طالبان د سایکس و پیکو شرکي مادي منلو له امله اړ شوي دي. او تاسې به وګورئ چې د جهاد تعطیل د اسلام څو نواقضو لره مستلزم دی، لکه:

۱.د جهاد څخه ځان بندولو له امله طایفه ممتنعه ګرځیدل.

۲.د سایکس و پیکو کفري قانون منل.

۳.اقدامي جهاد حرام ګڼل.

۴.د حربي کفارو او مرتدو ګاونډیو سره ښې او دوستانه اړیکې قایمول.

۵.د جهاد او مجاهدینو ځپلو په موخه له کفارو څخه کومک اخستل.

۶.د ګاونډي کفارو او مرتدینو پرضد مشروع جهاد څخه په بده اراده، تخریبي ایجنډا او افسادي اعمالو تعبیر کول.

لهذا د جهاد تعطیل کومه وړه موضوع نه ده بلکې دا د طالبانو د سترو نواقضو څخه یو ناقض دی. دوی ځانونه د جهاد څخه په زور بند کړي دي، او طایفه ممتنعه ګرځیدلي دي، نو دوی سره به د صحابه و اتفاقي پریکړې په شان عمل کیږي چې صدیقي دور کې د هغه خلکو پرضد صحابه وو په اجماع سره د ردت فتوه ورکړه چې هغوی ځانونه د زکات ورکولو څخه بند کړي وو.

دغه ډول هبت الله او طالب ملیشې د ځمکې د ویش حقدار د (ملګرو ملتونو) مشران ګڼي. د دوی لخوا د اسلامي امت په وجود د راښکل شوېو وضعي کرښو ساتنه کوي، او د دې پولو وراخوا هر کفر، شرک، ظلم او استبداد ته جواز ورکوي، همدې تعطیل الجهاد له امله دوی د حربیانو امنیت تأمینوي، او کله چې مجاهدین پرې بریدونه کوي نو دوی د خپلو بادارانو کفارو څخه کومک اخلي او د مجاهدینو پرضد جنګیږي.

او همدې تعطیل الجهاد طالبان دې ته اړ کړي چې د ګاونډیو او نړیوالو کفارو سره ښې اړیکې قایم کړي، دوستي ورسره وکړي، او د هغوی پرضد جهاد څخه تعبیر په بده اراده، تخریبي اجنډا او فسادي اعمالو سره وکړي.

نو مونږ وایو ګاونډي حکومتونه څوک دي ؟ منهج او دستور یې څه دی؟ د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو حکومتونه لکه پاکستان، ایران، چین، تاجکستان، اوزبکستان وغیره حربي کفار دي او کفري نظامونه پکې رائج دي. پاکستان کې د برتانیه

انګریزي قانون په مسلمانانو په زور تحمیل شوی، په ایران کې د ابو اللؤلؤ مجوسي د لمسو حکومت دی، ازبکستان او تاجکستان د روسي امپراطورۍ تر اثر لاندې دي، بل خوا چین هغه حربي کافر دی چې هلته په ایغور او نورو مسلمانانو باندې ظلم او ستم روان دی خو د طالبانو زعیم ورته وایي مونږ ستاسې په حق کې هیڅ بده اراده نه لرو، الله عزوجل حکم دا دی چې دغه حربي کفارو سره جنګ وکړئ خو هبت الله اخوند وایي چې مونږ د دوی پرضد قتال نه کوو او ټولو کفارو ته په خپله خوله د امن ډاډ ورکوي، آیا اوس هم دغه شخص ته امیر المؤمنین ویل صحیح دي چې د شریعت روښانه مفاهیمو څخه انکار کوي ؟

راځئ لومړی به د استاذ یاسر څخه واورو چې آیا دغه کفارو ته په اسلام کې سلامتیا شته ؟ استاذ یاسر وایي هغه کفار چې د نړۍ په یو ګوټ کې یې هم مسلمانانو سره جنګ وي نو دا د ټولو مسلمانانو لپاره حربي کافر شو، دی باندې سلام اچول ناروا، تعامل ناروا، تجارت ناروا، دوستي ناروا او صلح ورسره ناروا ده. وژنې به یې او مال یې غنیمت دی. د هغه الفاظ دي:

[با کافر حربی!!! دوستی ناروا است، تجارت ناروا است، تعامل نارواست، همسایه‌گی ناروا است، به او خانه کرایه دادن ناروا است، سر از او چیزی فروختن ناروا است، از او چیزی خریدن ناروا است، با او هر نوع تعامل که با او همکاری کنی در کار تدای از او، ای از نگاه فقه شرعی حرام مطلق است و تمام مذاهب در این مسائل موقف اتفاقی دارند، مسائله اختلافی نیست، یک لشکر میایه، با تفنگ میایه، خانی ته (خانه‌ات را) ویران میسازه، ملکی ته (ملکات را) قبضه میکنه، تمام محرمات‌اته مباح میسازه، زیر پای میکنه پیمال میکنه. در اینجا لهجه اسلام جنگ است، لهجه اسلام تشدد است، لهجه اسلام دفاع است، لهجه اسلام قربانیست، لهجه اسلام در اینجاست که بریش سلام نمیتی با او دوستی نمیکنی، با او معامله نمیکنی، با او تجارت نمیکنی، اینی را کافر حربی میگوید، هر کافر که با مسلمانا در هر گوشی دنیا در جنگ بود، او کافر با تمام مسلمانای دنیا کافر حربی‌ست، مسلمانا در هیچ گوشی دنیا با ای کافر حربی حق ندارد که صلح کنه، حق نداره که معاهده کنه، حق نداره که با همرایش احسان کنه، حق نداره که با همرایش سلام بته، حق نداره که همرایش تجارت کنه، حق نداره که همرایش خرید و فروش کنه، حق نداره که خانه برایش به کرا بته، دشمن است، کافر حربی است، معامله با او معاملی دشمن است، پیدایش (آن را پیدا) کردی میکشی‌اش (قتل میکنی)، سرش رواست، مالش مال غنیمت است، خانم اش ملک یمین (کنیز) اس، در مسئله معامله با کافرها اسلام حکم میکنه که وختی که (وقتیکه) یک لشکر کافر معتدی آمد، با سلاح و تفنگ به وطنات آمد، وطنات را اشغال کرد، جنگ کرد، در اینجه حکم خروج قتال عام است همه مردم قتال میکنه با دشمن معتدی، در اینجه حکم اسلام چیس؟ حکم اسلام جنگ است، تو از صلح گپ میزنی، اینالی (حالا) تو از حد اسلام پایین شدی یا مه از حد اسلام معتزل شدیم، فهم در اینجه است، که ما میگیم که در زمانیکه یک لشکر معتدی به خاک اسلام بیایه، حکم اسلام جنگ است، تو از صلح گپ میزنی، و اسلام به جنگ امر میکنه، اینالی تو مره میگی که مه متشدد استم بخاطر از ای که چرا صلح گپ نمیزنم، مه میگم که تو معیار تشدد و اعتداله نمیشناسی، حکم اسلام فعلا جنگ است، معامله با کافر حربی با معامله با کافر مستأمن فرق دارد، مشکل در ایست که مردمی که یا دینه (دین را) نمیفهمن، یا اصلا مغرض استند میخواین دینه تحریف کنند، احادیث که در حق کافر ذمی آمده، در حق کافر معهد آمده، اوره میاره در حق کافر حربی با تو استعمال میکنند، اینی احکام فقه است، الی بر این کافر تو هر نوع لفظ نرمی را استعمال کنی، ای نرمی در اسلام نارواست، تسلمی‌است، شکست است، ابو لبابة رضی الله عنه را

رسول صلی الله علیه وسلم به کفار بنو قریظه روان کرده بود، او سفیر بود، اونا (آنها) گفت که ما اگر به پیامبر تسلیم شویم با ما چه معامله میکنه؟ ای فقط ایطور اشاره کرد که اگر شما تسلیم شوید، کل تان را سر میبره، توسط امی یک گپ خودش آمد، خود را با پایی مسجد بسته کرد، فامید (فهمید) که خیانت کردیم با پیامبر، تا زمانی که پروردگار با وحی توبی از او را نازل نکرده بود با امو پایی مسجد بسته بود، یعنی به اشاره سر (راز) مسلمان را به کافر فهماندن، صحابه ای را جرم میدانستند، به خطایی از پیش‌اش یک خطا شد، خوده خودش جزاء داد، خوده بسته کرد، تا راپور دادن مجاهد مردم معاش میگره، پیسه میگیره باز هم خوده مسلمان میگه خوده معتدل میگه، اسلامه یاد گرفتن بکار است، دینه باید ملعبه (بازیچه) نسازیم، دینه باید یاد بگیریم و علماء دینه باید نفروشه، اگر از امریکا دالر میگیرند، روی یک بیغیرتی دگه پیسه بگیرند، سر دین فروشی پیسه نگیرند، سر تحریف دین پیسه نگیرند بخاطریکه ای از وسع تان پوره نیست، پروردگار ای دینه حفاظتشه خود ذمه گرفته، ای قران نه کس تحریف کرده میتانه، نه کس در ای دست زده میتانه، نه کم کرده میتانه، نه زیاد کرده میتانه.]

دا د طالبانو د خپل کور ګواهي شوه، نو هبت الله او طالب ملیشې دي د پالرو، موټرو او بنګلو کش او پښ لږ ساعت لپاره شاته کړي او د کتاب او سنت نصوصو کې دي خپل حکم وګوري، چې دوی کوم خوا روان دي، مونږ خو چې د دوی تور مخونو ته سپیني آئینې ونیسو نو دوی خفه کیږي، راځئ د خپلو مشرانو په وینا‌وو خو ځان وتلئ. د استاذ یاسر خبرې دی هر طالب ځو کرت خه په غور سره واوري او بیا دې خپل ګریوان کې سوچ وکړي، نو آیا دا خبره په دوی نه تطبیقیږي، آیا دا ګاونډې کفار لکه چین او اخوا روس وغیره محاربین نه دي ؟ آیا دوی مسلمانانو سره جګړه کې مستقیما شکیل نه دي نو استاذ خو همدا خبره کوي چې د نړۍ په هر ګوټ کې یو کافر مسلمانانو سره په جګړه وي نو دا به د ټولو لپاره حربي وي مګر که چیرې کوم ځای کې د خلیفه په اجازه د معتبرو شرطونو مطابق موقت ډول صلح شوي وي نو یوازې هغه ځای به څه موده جنګ متوقف وي، خو د طالبانو سوله اصلاً سوله نه ده، بلکې دا خو تسلیمي او غلامي ده.

ای طالبانو!

اوس چین، روس، پاکستان، ایران په شمول د آسیا لویه وچه، اروپا، امریکا، آنتراکتیکا او د افریقا لویې وچې ټولو کفارو او مرتدینو سره خو تاسې د بین الملل کفري اصولو مطابق هم سوله نه ده کړې ؟ د ملګرو ملتونو سازمان کې هم د نړۍ ټول هیوادونه خو داخل نه دي، ځکه په نړۍ کې شاوخوا ۲۰۶ هیوادونه دي چې له جملې څخه یې ۱۹۵ هیوادونه د ملګرو ملتونو غړیتوب لري او دا پاتې لس یا یولس هیوادونه د ملګرو ملتونو عضویت نه لري خو طالبان د دغه هیوادونو پرضد هم د جهاد اراده نه لري، تربیت، روزنه او اعداد خو لویه خبره ده، یوازې اراده هم نه لري.

د اسرائیل یهودو، ملحدو چینایانو او روسانو سره جګړه کول خو لرې خبره ده ځکه دا د ملګرو ملتونو عضویت لري، او بیا د دوی څخه وراخوا ناټو سره جګړه کول او بیا امریکا متحده ایالتونو پرضد جګړه کول خو طالبانو ته قطعي حرام ښکاري.

د طالبانو صلح چې غیرشرعي صلح ده، چې علماء کرامو یې بار، بار وضاحت کړی دی، بنیادي علت یې دا دی چې دا صلح د مروجه شرکي ډیپلوماسي په نتیجه کې رامنځ ته شوې ده، د ملګرو ملتونو د قوانینو بنیادي کفري مادې په طالبانو منل شوي دي، خارجي سیاست ترې کفارو لاس کې اخیستې او داخلي نظام کې یې هم ورته کامل صلاحیت نه دی ورکړی، بلکې داخل نظام یې هم د خپلو منافعو لپاره کاروي، د خپل د دفاع دسنګر ګټه ترې پورته کوي، کامل شریعت تطبیق اجازه ورته نه ورکوي نو دا خو صلح نه ده بلکې غلامي او تسلیمي ده، نو دوحه کې دغه تسلیمي طالبانو اول امریکا ته ورکړه او بیا یې د امریکا متحالفینو د ناټو غړو ته ورکړه، مونږ ترې

پوښتنه کوو چې څه سمه ده د ناټو غلامي وکړئ خو روس، چين او اسرائيل سره هم تاسې د دوستۍ، غلامۍ او تسليمۍ تړون لاسليک کړئ؟

که جواب مثبت وي خو صفا يې ووایاست او که انکار کوئ، نو خبره واضحه ده چې اقدام هم درنه نه غواړو يوازې د چين، روس او اسرائيلو خلاف اعداد، تربيت او د طالب خيلو ذهن سازي شروع کړئ. د جبهې جهاد خبره هم درته نه کوو د چيريکي جنګ تیاری ونيسئ؟ خو د قيامت تر سبا پورې هم طالب دغه اراده هم نشي کولای پاتې لا اعداد او بيا اقدام.

او که وایاست چې تاسې روس، چين او اسرائيل سره هم شرعي تړون کړی دی، نو بيا د دغه تړون جزئيات په ډاګه کړئ چې مونږ يې وګورو لکه د دوحې تړون غټې مادې چې رسنيزې شوې او ددغه کفري تړون نور زيات جزئيات او مادې مو پټې ساتلي چې په راښکاره کيدو يې تاسې د کفر په ټولو بندونو د اقرار له تړون څخه په دې دار لرئ چې مسلمانان به مو پره وګڼي حال دا چې د موجوده ښکاره شويو مادو څخه هم ستاسې غلام څرګندیږي او پټې ضميمې هم وخت په وخت راڅرګندیږي او دا ستاسې په مخونو هغه تور داغ دی چې له امله به يې راتلونکي نسلونه هم په تاسې لعنت وايي.

کوم هیوادونه چې د ملګرو ملتونو عضويت نه لري هغوی سره ولې د قتال يا د دښمنۍ يوازې اراده نه لرئ؟ آخر تاسې باندې باعث څه دی؟ خو واضحه خبره ده چې ملګرو ملتونو تاسې د افغانستان په جغرافیه کې د پښو او لاسونو کلک تړلي یاست، او تاسې ته دا اجازه نه درکوي چې هغه کفارو په خلاف هم د جهاد اراده وکړئ چې هغوی د ملګرو ملتونو عضويت نه لري.

بله مهمه خبره دا ده چې نن طالبانو کې خپله هغه منهجي مشکل دی چې پرون استاذ یاسر دا د جمهوريتيانو لوی مشکل باله، چې د ذمي، مستامن او معاهد کفارو احکام په حربي کفارو تطبيقول د جمهوريتيانو لويه خطا وه، نن همدا د طالبانو ستره خطا ده.

په چينايانو، روسانو او د نړۍ په هر کافر باندې د مستامنينو او معاهدينو احکام جاري کوي.

استاذ یاسر وايي دوی ته نرمه ويل حرام دي، شکست او تسليمي ده. او دا توصيه پرون جمهوريتپالو ته وه چې د ډالرو په نشه کې دين مه تحريفوئ نن همدا توصيه طالبانو ته ده که تاسې د امريکا څخه ډالر اخلئ واخلئ خو د دين په نوم يې ترې مه اخلئ، دې ملت ته دا مه ښکاره کوئ چې شکست خوړلي امريکا د اسلامي نظام پياوړتيا په پار هره اونۍ ۴۰ مليون ډالر د نظام چلوني او ۲۰ مليون ډالر د اسلامي خلافت پرضد جګړې لپاره خصوصي درته درکوي!! تاسې دا کانې مه کوئ چې د نصاراو ملايانو او پيرانو په خلکو باندې خپل وضعي او د خواهش موافق احکام د الهي دين په توګه منل چې آخر هم کشران يې راپاڅيدل او سيکولر نظام يې رامنځ ته کړ، ډيموکراسي يې رامنځ ته کړه. سبا به ستاسې کشران هم ټول د سيکولرزم پلويان وي، لکه څنګه چې د سياف، رباني او مسعود پلويانو سره وشول.

مسلمانانو ورونو او خويندو اوس تاسې ووياست چې د استاذ یاسر او د طالبانو پخوانۍ دريځ سم و او که نه نن د هبت الله اخوند سيکولر نظام سم دی؟ مونږ باندې خو زر د خوارجو ټاپې لګوي او ډول، ډول تهمتونه راپورې تړي او د ځان ويستلو کوښښ کوي، خو آيا استاذ ياسر دا خبرې هم د خارجيت، بغاوت او د پرديو د لمسون پايله ده؟ که نه د خليل زاد د خبرې مطابق طالبان نن بدل شوي دي او د جمهوريت د دور پيښې يې شروع کړي دي؟

ای طالبانو! يقيناًچې تاسې بدل شوي ياست ځکه چې هره اونۍ ۶۰ يا ۸۰ مليون ډالر يا زيات وکم چې تاسې ته اوس راځي، آيا دا تاسې ته د واک په تيره دوره کې هم راتلل؟ که نه راتلل نو نن څه علت دی چې امريکا په تاسې مهربانه شوې ده، هغه امريکا چې تاسې يې د ماتولو دعوه هم کوئ، هغه بخيله، وحشي صفته او قاتله امريکا تاسې ته تجهيزات درکوي، ډالر درکوي ترڅو د روپۍ قيمت مو سالم پاتې شي، بانکي نوټونه درته چاپ کوي، آيا امريکا سره ستاسې د اسلامي نظام (!) همدومره غم دی؟ هغه امريکا چې يوې انې پسې يې زړه چوي، خو په تاسې د باران په څير ډالر ورووي!! هغه د بمونو باران

د ډالرو په باران څنګه بدل شو ؟ أليس منكم رجل رشيد.

قدرمندو لوستونکو! د دوحې تړون څخه وروسته د طالبانو په خولو د سعودي، مصر او د پاکستان طاغوتي ملایانو په څیر همدا خبرې زمزمه کیږي چې اسلام د سلامتیا نوم ده، اسلام د امن نوم دی او د دغه شعار تر لاندې حربي کفارو سره مداهنت او موالاتو لرې ته یې زور ورکړی دی!! کوشش کوي چې پدې مسابقه کې د جمهوریت چارواکو څخه هم ځانونه مخکې کړي.

هبت الله هم نن هغه خبرې کوي چې سعودي ملایانو لس او شل کاله مخکې کولې، کچیرې څو کاله طالبان نور هم پاتې شول، تاسې به وګورئ چې ملا برادر، هبت الله، متقي او سراج الدين نه به سیاف، رباني، مجددي او عطاء محمد نور جوړ وي. هبت الله وایي: [اسلام د سلامتیا نوم دی، سلامتیا غواړو، امن غواړو، صلح غواړو، آرام ژوند غواړو]

هو!

اسلام د سلامتیا دین دی خو د چا لپاره ؟ د شرق او غرب، شمال او جنوب هر مسلمان او مومن نارینه او ښځینه لپاره ؟

آیا د حربي کافر لپاره هم د سلامتیا دین دی ؟

نو بیا مو ولې دا شل کاله جګړه کوله ؟

که هغه وخت وطن نظامي اشغال و ، خو نن هم نظامي ،سیاسي، فکري، تعلیمي، ثقافتي او اقتصادي اشغال دی، دوی دې نران شي د کوم کافر خلاف د اقدام اراده خو دې وکړي، خو دا هر څه د قطر پلازمینه دوحه کې ډیزاین شوي دي ، چې طالب مشرانو ته د مذاکراتو په نوم کلونه، کلونه تربیتونه ورکړل شوي دي. ځکه نن هبت الله او کشران یې هم د امن هغه سندرې وایي چې د سعودي، مصر، پاکستان او ایران ملایان یې زمزمه کوي، سرچینه د ټولو یوه ده. سره د دې چې د استاذ یاسر له خولې تاسې واورېدل چې د نړۍ په یو ګوډ کې یو کافر په مسلمانانو برید وکړي نو دا د ټولو مسلمانانو لپاره حربي ګرځي او د ټولو مذاهبو پدې اتفاق دی.

شيخ الاسلام ابن تیمیة وایي:

ژباړه : وَإِذَا دَخَلَ الْعَدُوُّ بِلَادَ الْإِسْلَامِ فَلَا رَيْبَ أَنَّهُ يَجِبُ دَفْعُهُ عَلَى الْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ إذْ بِلَادُ الْإِسْلَامِ كُلُّهَا بِمَنْزِلَةِ الْبَلْدَةِ الْوَاحِدَةِ. [الفتاوی الکبری ج5/ صــ539] ژباړه : کله چې دښمن د اسلام خاورې ته راننوځي نو بې شکه د دې مقابله اول په نږدې خلکو لازم ده او بیا په دوی پسې خلکو.... ځکه د اسلام ملکونه ټول د یو ښار مثال لري.

امام نووي شوافعو له طرفه وایي:

همداسې د طالبانو اولنۍ ځل واکمنې کې هم د چین چیت پوزي کمونستان به ښه داړه د هیئتونو په شکل افغانستان ته راروان وو، چې هم په کې استخباراتي کسان وو او هم نور تجارتي او سیاسي کسان هم

موجود وو، چې بار بار یې کندهار کې ملا محمد عمر سره هم لیدنې شوی وې.

کله چې په 1998 کال د اګست په میاشت کې امریکا خوست کې د اسامه په مرکز توغندي وتوغول، نو یو یې د کندهار د معروف ولسوالۍ په حدودو کې پریوت ، چې دغه توغندي هغه مهال چاودنه ونکړه، بلاخره د چین استخباراتو طالبانو سره رابطه وکړه ، چې زموږ انجنیران درځي او دا ناچاوده توغندی معاینه کوي، چې بیا همداسې وشول ، چین د هر څه کاپي جوړه کړې او جوړوي، دلته هم چینایان د همدې توغندیو کاپي کولو لپاره راغلي وو، ترڅو بشپړ معلومات یې ځان سره ثبت کړي .

دا هغه مهال دی چې روسیه او چین یو طرف دي او امریکا بل طرف دي، ، د طالبانو د هغه وخت رسمي ویاند عبدالحي مطمین په خپل کتاب کې لیکي چې دې وخت کې مشر ملا صاحب وویل د دوه قدرتونو تر مینځ بهتره ده، چې چین سره روابط ټینګ کړو ،چې بیا همداسې د طالبانو او کمونسټو چینایانو رابطې ګرمې شوې او د اول نه تر آخر پورې یو ځل هم طالبانو کمونسټو او ملحدو چینایانو ته دومره ونه ویل چې د یغور د مسلمانانو سره دومره ستر وحشتونه مه کوئ، بلکه دوی سره له همغه اوله ټول غم د افغانستان او خپلې واکمنۍ و او دی، چې الحمدلله دا آرمان یې هم ټول په ټوله د اسلامي خلافت مجاهدینو پوره کیدو ته پرېنښود ، د واکمنۍ په خوند یې پوهه نه کړل ، اوس نو ترې آرام کېده کړې .

چین له طالبانو څخه ځکه حمایت کوي ،چې د چېن مربوط مجاهدین ورته تسلیم کړي او یا یې شهیدان کړي ،په ځانګړې ډول د یغور مجاهدین ، د چین طالبانو سره د اړیکو بل لامل دا دی چې د هند او چین تر منځ اقتصادي مبارزه روانه کړې ، ډیر کله سره ښکر په ښکر شوې هم دي ،د چین هڅه دا ده چې د افغانستان له منابعو څخه د طالبانو په موجودیت کې په خپله نفعه کار واخلي هند او نور اقتصادي هیوادونه دغه کار ته پرېنږدي ، هند بیا له دې منابعو څخه سالمه استفاده نه کولای شی او نه یې چین پرېږدي ، په ځانګړې ډول د چابهار بندر څخه او د طالبانو موجودیت کې بیا چین د هر څه څخه ډیره خه استفاده کولای شي او چې یو ځل یې کومه سیمه د اقتصادي ګونډو لاندې کړه بیا ترې سر نه شي پورته کولای.

د چین له طالبانو څخه له ملاتړه بل هدف دا دی چې افغانستان سره ګډه پوله لري او دا ډار ورسره دې چې

چرته طالبان کمزورې نه شي او له افغانستان څخه چین ته تهدید متوجه نه شي ، دا کوم محدود سرحد چې افغانستان یي چین سره لري یا د چین منافعو ته ترینه خطر و، دا سرحدات له ډیره وخته امارت سره وو، نو ځکه له ډیره وخته طالبانو سره د چین مرستې روانې دي .

د طالبانو او چینایانو روابط هم لکه د نورو په څېر چا څخه پټ نه دي ،طالبان هم خه په ویاړ او افتخار سره د چین په روابطو او اړیکو اعتراف کوي او دا ورته نه کومه د شرم خبره ښکاري نه ورته کومه کفري کړنه ښکاري او نه هم د یغور د میلونونو مسلمانانو سره یي خیانت بولي ، خو راځو دې ته چې چینایان د یغور مسلمانانو سره څه کوي او د هغوی مقابل کې څه انګیزه لري.

شرقي ترکستان چې د چین له اشغاله وروسته یي نوم د چین په سینګیانګ آیالت اوښتی، دچین غرب طرف ته واقع دی، اکثر خلک یي د یغور قوم څخه دي او دین یي اسلام دی ، چې دغه په میلونونو مسلمانان ټول په ټوله چینایانو یرغمل کړي دي .

دوی په زور د دین په پریښودلو اړ کیږي ددوی په لمانځه ، روژه ، ږیرې پریښودلو ، حجاب او د اسلام د نورو احکامو په عملي کولو په کلکه بندیز دی ، له تاریخي

مساجدو او مدارسو یي چینایانو د اسونو طبیلې او د نورو څارو غوجلې جوړې کړي دي ..

د رسمي احصاییو له مخې له څلورو لکو څخه زیات یغوري مسلمانان د اسلام د احکامو د تطبیق له امله بندیان دي ، ۳ میلونه کسان یي بیا د چین له لورې په ډله ایزو کمپونو کې په دې خاطر ساتل کیږي چې خپل اسلامي هویت ترېنه هیر کړي او ملحدین یي کړي له اسلامه توبه وباسي او اسلام هسې یوه رواني ناروغي وبولي او ترینه لاس په سر شي .

هو!

دا پورتـــه انځورونـــه د هغـــه میلونونـــو مســـلمانانو د مظلومیـــت شـــاهدي وایـــي چـــې لـــه ډیـــرو ســـختو محدودیتونـــو لـــه املـــه تـــرې پـــه ډیـــره ســـخته بهـــر راوتـــلي هغـــه چـــې پـــټ پـــه دوی څـــه تیریـــږي او کـــوم وحشـــتونه ورسره تـــرسره کیـــږي نـــو لـــه هغـــې اللـــه خـــبر دی ، دا هغـــه مظلـــوم او محکـــوم مســـلمانان دي چـــې د دوی لـــه قاتلانـــو او د دوی د نامـــوس لوټونکـــو کمونســـتو چینایانـــو ځخـــه طالـــب مرتدیـــن دفـــاع کـــوي هغـــوی سره ښـــه گرمـــه دوســـتانه لـــري ، راشـــه درشـــه ورسره لـــري او سره شریکـــې گټـــې تجارتونـــه او تړونونـــه لـــري .

هو !

د امـــارت مـــشران تـــر دې کچـــې د بـــې غیرتـــۍ او بـــې عزتـــۍ د ذلـــت او پســـتۍ هغـــه کنـــدو تـــه پریوتـــل ، چـــې د یغـــور د مظلومـــو تـــور سرو د عزتونـــو لوټونکـــو تـــه پـــه تحفـــه کـــې جنغـــوزي ورکـــوي او نـــورې ډول ، ډول میـــوې وراســـتوي ،تـــر څـــو د مســـلمانانو د شـــکنجه کولـــو لپـــاره نـــور هـــم تکـــړه او قـــوي شي .

ورونو ! اوس نو قضاوت تاسې وکړئ ، چې چین سره ډیپلوماتیک ، سیاسي او استخباراتي روابط په کار دي او که دوی سره اول قدم کې برائت او دویم قدم کې د یغور د مسلمانانو د دفاع لپاره ورته دا خبرې په کار دي.

: یاد اسلام دعوت قبول کړئ.

یغور مسلمانانو څخه له ظلمونو لاس واخلئ د شرقي ترکستان اشغال پای ته ورسوئ .

او یا جنګ ته تیار شئ چې دا خبرې طالب څه چې د طالب پلار یې هم ورته نه شي کولای .

په ویښه څه چې په خوب کې یې هم ورته د کفارو څښه د ډار له امله نه شي کولای .

نو د طالبانو څخه دې دنړۍ مسلمانان د خیر تمه نه کوي، دوی یوازې په څیرو کې د کفارو سره فرق لري نور نو طالبان هم د کفر د ملت یوه برخه ګرځیدلې ، د بین الملل د قوانینو په منلو سره یې په کفري ملت کې د شمولیت اعتراف هم کړی، نور یې نو سیاست او ان د اداري او نظامي تګلارې په شمول ټول کړه وړه یې د کفارو په څېر دي ..

ایران، هند، چین ،روسیه او نور کفري او طاغوتي ممالک هر یو دلته افغانستان کې خپل اهداف لري، یو یې هم نه غواړي چې بل رقیب یې قوي شي او هر یو یې هغه وخت ښه قوي کېږي، چې افغانستان کې قوي نفوذ ولري او یا افغانستان د خپل ځان تابع کړي ،ځکه له هغه مهاله چې لا اطرافي ساحې طالبانو سره وي هر ملک په طالبانو کې د خپل نفوذ هڅه کوله او ټولو په کې خه پراخه نفوذ کړی .

دا یقیني خبره ده ، چې افغانستان له اقتصادي لحاظه د آسیا زړه دی ، نو ایران ، چین ، هند او روس هغه وخت خپل اقتصاد ښه قوي کولای شي او خپل نور اقتصادي رقیبان ښه ځپلی شي چې په افغانستان کې قوي نفوذ ولري او دا چې طالبان هر کافر سره د نیکو اړیکو طرفداران دي، نو ځکه ورته کفارو هم د دوستۍ لاسونه راغځولي دي، دوستي او حمایت یې کوي او خپلو اهدافو ته پرې ځان رسوي ، او طالبان هم له ډیره وخته همدې مرحلې ته منتظر وو چې د کفارو لاسونه ښکل او بیا یې په سترګو ومښي او د واک او پیسو په بدل کې د دوی ټول اهداف پلي کړي.

نو مسلمانانو ته پکار دي، چې دا چینایان او ورسره همکاران یې که د طالب جامه کې دي او که د ډیموکراتانو جامه کې دي،که د دیپلوماتانو په جامه کې وي او که د تجارانو او نورو درنده ګانو په شکل وي ، داسې عبرتناکې سزاګانې ورکړي چې بیا د یغور مسلمانانو په خلاف کاږه ونه ګوري او دا کار به د رب العالمین په توفیق سره د خلافت مجاهدین کوي لکه څنګه یې چې وکړ او بیا به یې هم تکراروي ان شاء الله .

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! (طالبان د کفري استخباراتو نیابتي جګړه ماران) په نوم ددې تحلیلي مقالې څلورمه برخه چې په کې هندي مشرکینو سره د طالب مرتدینو په اړیکو بحث شوی د مجلې په راتلونکې شلمه ګڼه کې به خپره شي ان شاء الله .

له هر طرف اورم شروع دي اوازې د فتحې
د جګړې شور دی، پکې نغښتې انګازې د فتحې

صبر او کلک استقامت کړه مجاهده وروره
په بدله کې به رب درکړي جایزې د فتحې

څوک چې جګړه کړي د صلیب د امنیت لپاره
فاتحین نه دي دوی خو ویستي جنازې د فتحې

چې د توحید، جهاد په سر باندې تکلیف وګالي
بیا به تمکین کې هله پوه شي په مزې د فتحې

دلته په دین باندې ځوانانو ککرۍ شیندلي
ځکه هر چاته اوس لګیږي اندازې د فتحې

لګیا دي هسک منار د فتحې جوړوي په نړۍ
مجاهدینو ودرولي قوازې د فتحې

له فلیپین تر اندلسه به بیا یو دولت وي
که راکولاوې شوې یوځل بیا دروازې د فتحې

العزائم
مؤسسة العزائم الإعلامية

مهاجر زلمی
عبدالله عادل تقبله الله



مهاجر زلمی

عبدالله عادل تقبله الله

موږ د کوټ په شنه او ښیرازه سیمه کې لا له ډیره وخته د افغاني ضربتیانو، کمانډویانو او نورو حشراتو سره چې امریکایي داړه مارو یې هم ملتیا کوله په جنګ وو، په یاده سیمه له پخوا راهیسې سپیڅلی شریعت نافذ وو، او نبوي تور توغ په کې په شا اوخوا غونډیو او لوړو څوکو وزرې وهلې ، د کوټ سیمه د نړیوالو کفارو په زړه کې د ننوتي غشي په څیر وه ، نو له همدې امله په دغه سیمه به تل جګړه ګرمه وه ،یو وخت جنګ سخت زور واخیست له پوره میاشت کلابندۍ وروسته د دمې له پاره د شینوارو پیښې سیمې ته راغلم، دا سیمه په شریعت اباده او سر سبزه سیمه وه، د اوس په څېر یو عادي مجاهد وم، د هجرت شپې او ورځې مو اکثر په رباط او دشمن سره په اخ او ډب تیرولې ، لا مو بلدتیا له چا سره دومره بلدتیا نه درلوده، فکر مې وکړ زموږ د منطقې یو مجاهد په پیښه کې اوسیږي، د رخصتۍ ورځې به هلته تیرې کړم، بیا به بیرته لاړ شم، له کوټه مخ په پیښه وخوځیدم ، د خړو غوندیو او د لوړو غرونو په لمنو کې په کږو لارو او خوړونو ورتېر شوم ، د مزله له هر پړاوه مې ځانګړې خوند اخیست ، اخر تر پیښې ورسیدم ، ملګری مې پیدا کړ، کور ته ورسره لاړم، د هجرت ژوند له خورا غربت ډک ژوند و، خو په دغه بې وسۍ او غریبۍ کې چې کوم معنویت ، سکون او خواږه وو، هغه بل چرته نه وو، زما ملګري نه حجره درلوده، او نه یې اضافي بستره.

د ورځې له اړخه د شنو بوټو لاندې مو دیره جوړه کړه ،د بوجیو څخه په ګنډل شوي یو درۍ کیناستو ، د غټو ونو ډبرونو ته لا مو تکیه نه وه کړې ، چې د مظبوطې باډۍ یو ښتلی ځلمی ور او د سرو څنو ښتن دنګ ځوان راښکاره شو، په را روانه کې یې د کور دروازې ته مخ کړ، غږ یې کړ : عادله بچیه شین چای درسره راوړه! نور نیغ زموږ په طرف را روان شو، په رارسیدو سره موږ هم ورپورته شو، ښه ګرم او له مینې محبت ډک روغبړ مو ورسره وکړ، کېناستو، له ما یې د کوټ سیمې د تازه حالاتو پوښتنه وکړه، حالات مې ټول ورته تفصیلي بیان کړل، د مجاهدینو د شجاعت او بهادرۍ او د ثبات کیسې مې ورته وکړې، ملګري مې دغه ځلمي ور غازي ته کړل:استاذجي یقیناً هلته ملګرو قوي مقاومت وکړ، شهیدان یې هم ورکړل، خو ساحه یې دښمن ته پرینښوده.

زه د استاذجي ویلو سره نور هم متوجې شوم! چې دا مجاهد چې له خلوصه ډکې خبرې او هره خبره کې مسکا ځانګړې خوند راکوه، د اخلاقو یوه نمونه او عاجزه انسان به څوک وي .

ملګري مې راته معارفي کړ ویل یې: دا د پاکستان(دیر) څخه رامهاجر شوی دی او دلته د مجاهدینو بچو ته درسونه وایي، یو زوی یې خط کې دی او دا بل غوټکی شوی دی دلته مدرسه کې درسونه وایي.

زوی یې عادل راغی د سیلوري چایجوش تر څنګ په بل لاس کې واړه ګیلاسونه هم نیولي وو او زموږ مخې ته یې کیښودل ، پلار یې کړل: خفه کیږئ به نه! د هجرت ژوند دی موږ خپله هم په تورو چایو باندې عادت یو خو اوس دلته صبر کوو، زما لمړنی ځل وو چې له دغه ځلمي ور ځوان

سره مخ شوم، راته يې ډېرې خوږې او ترخې خاطرې بيان کړې، د صبر په تلقين سره يې راته بار ، بار ويل: موږ له پخوا راهيسې مهاجر شوي يو، کنړ دانګام کې مو زيات وخت تير کړی دی، له اوله د تحريک سره ملګري وو خو دلته د هجرت شپې له هغه زياتې فرق کوي، دلته له غربته او فقره ډکه زنده ګي ده ، خو سکون دومره زيات دی چې تعبير يې نشم کولای، دلته چې زه د مجاهدينو خپل منځي محبت وګورم، نو له ما مخکنۍ زنده ګي هيره شي، فکر کوم چې تازه مې له پاکستانه هجرت راکړی دی، دلته دومره لوی ساحې او دومره زيات مجاهدين او د دوی اطاعت او د خپلو اميرانو احترام، چې ګورم نو فکر کوم چې تحريک کې ملګري محدود وو، ساحې هم دومره نه وې، خو اختلافات دومره زيات وو چې خپلو کې به يې يو بل ته د شپې لخوا کمينونه ورکول ، په يو ،بل به يې مرموز بريدونه کول، ټول واک پسې ليوني وو، او دا يې د افرادو ترمنځ ډېره مشهوره وه چې مشران يې د سېمې د طاغوتي هيوادونو استخباراتي شبکو سره لار لري ، او چې زه درته خپل حالت بيان کړم:چې رښتيا خبره کله چې حکيم الله امير صيب شهيد شو نو د هغې نه وروسته ماته تحريک هيڅ خوند نه راکاوه.

دا د الله لوی احسان وو چې دلته خلافت اعلان شو او راغلو.... دې ته ورته زياتې کيسې مې ترې واوريدې:عادل ته يې لاس ونيوه ويل دا په دې عمر وايي خط ته ځم، هغه بل ورور يې چې خط ته لاړ شي بيرته د راتلو نوم نه اخلي ، ټول سنګرونو سره بلد دي، دوی واړه، واړه وو چې موږ له پاکستانه رامهاجر شو، نورې يې هم د تحريک د وختونو زياتې کيسې وکړې، د هغوی خيانتونه، د حکومتونو سره يې دمشرانو روابط او همدا راز ديته ورته بلا کيسې يې وکړې.

ما هم د دوی سره څو ورځې شپې تيرې کړې، شپې به د بل مهاجر حجرې ته تلو، او له ورځې به همدلته د شنو اونو بڼ کې ناست وو.

زما هم دمه جوړه شوې وه ،بيرته ترې کوټ ته لاړم، کله ، کله به د خپل وطندار او استاذ جي له حاله مې د رابېټر له لارې ځان خبراوه .

خو ډير وخت وروسته يې دادې د استاذ جي د مشر زوی له قلمه د استاذ جي او دده د کشر ورور عادل د هجرت د سختيو ، کړاونو ، قربانيو ، جنګونو او شهادتونو دا کيسه لولم :

موږ واړه ، واړه وو، زموږ پلار د تحريک سره وو او جهاد يې کاوه، موږ د ډير په سيمه کې اوسيدو کله چې زما پلار هلته وپيژندل شو ،نو زموږ په کور د پاکستان حکومت لخوا چاپه ووهل شوه، د الله احسان وو چې زما پلار الله په خاص فضل سره د دوی څخه بچ کړ، نو پلار مې د هجرت کولو تصميم ونيوه، او د افغانستان په طرف يې د خوځيدو تکل وکړ، عادل هم وړوکی وو ،خپل نوم يې عبدالله و، مکتب يې لا دريم صنف ته رسولی و، په ټولو ورونو کې ذهين او چُست هلک و، خو نور مو هلته ګوزاره ګرانه شوه، درسونه هر څه مو پريښودل، کورونه او مالونه مو خپلوانو ته وسپارل ، موږ ترې پټ ووتو، باجوړ ته لاړو او بيا چې هلته ګوزاره نوره هم سخته شوه د زياتو مهاجرينو په شمول کنړ سيمې ته راکډه شو، هلته زموږ تر څنګ نور په سلګونه مخلص مهاجرين راجمع وو، وخت مو ښه روان و، څه موده وروسته مو د افغان حکومت سره د دانګام په سيمه کې درانه جنګونه راغلل، خو زموږ د تحريک مشرانو د جنګ اجازه نه کوله، ويل به يې چې د دوی سره موږ معاهده کړې ده او يو بل ته څه نه وايو، ماته هم عجيبه ښکاره شوه ، چې دا خو مرتدين دي دوی سره څنګه معاهده وشي دا نو کومه کيسه ده چې د امارت والا د پاکستان حکومت سره معاهده لري او افغانستان کې جنګيږي او موږ يې بيا د افغانستان ملي امنيت سره لرو او لازمه ده چې پاکستان کې وجنګيږو ، بس ځانونه راته کرايي عسکر ښکاريدل په هر صورت عادل په مدرسه کې وو درسونه يې ويل، خو مجاهدينو سره به تشکيلونو ته هم تللو او

په سختو سنګرونو کې به پاتې کېده ،

دلته هم زموږ زیاته موده وشوه، وخت په وخت به مې پلار له تحریک څخه سر ټکاوه، زړه یې ور موړ کړی وو، ځکه چې هغه ته دا مالومه شوې وه چې زموږ جنګ په عقیده نه دی بنا، بلکې زموږ مشران موږ د پردو ګټو لپاره جنګوي، او کوم وخت چې د قربانۍ وو نو پوره قرباني مو ورکړې ده ، نو اوس دلته پاتې کېدل هم د ځان او بچو سره ظلم دی، دا وخت هم تیرېده، چې په تور دره کې د خلافت او د بیعت د اعلان ګنګوسی خپر شو، ځینې اورکزي مجاهدین د باجوړ او دیر ملګرو سره په رابطه کې وو، نو د دینه مخکې موږ هم د اسلامي دولت تر عنوان لاندې شام او عراق کې جنګونه او د هغوی عقیده تعقیبوله، او خبر شوي وو چې دا خلک د عقیدې له اړخه مؤحدین دي، بل پلو په تور دره کې د خلافت بنیاد کې هم د حافظ سعید او د شیخ مقبول نوم یاېده چې دغه یې په سر کې ولاړ دي، زموږ هم تنده اوج ته رسېدلې وه، د یو سپیڅلي او پاک نظام ارمانجن وو، همغه وو چې رب العلمین د نورو زیاتو مهاجرینو تر څنګ موږ ته هم خراسان ته د هجرت او بیعت کولو توفیق راکړ، کېدن راغلو خراسان ته، دغه وخت کې هم عادل وړوکی وو، د ډز او سنګر نه وو، پېښه کې چې یوه لویه مدرسه وه او هلته د اسلامي خلافت د نصاب تر چتر لاندې درسونه ویل کېده نو عادل همالته مدرسه کې داخله وکړه، پلار مې استاذ وو، او زه دلته د پلار مشر زوی ګڼل کېدم، د کور کارونه او سنګرونه راپاتې وو، اکثر وخت به مو په جنجال شګه کې د افغاني کماندویانو سره لاس او ګریوان وو، د رب مدد وو چې دښمن د بې پیلوټه طیارو، او مختلف النوعه چورلکو په سیورې کې هم رامخې ته کېدای نشو، تر دې چې موږ په دغه خطونو کې زیات شهیدان هم ورکړي وو.

عادل چې له مخکې د جنګ او د سنګر شوقي وو هر وخت به یې پلار ته ویل چې معسکر ته ځم بس دی درسونه، خو پلار ورباندې کوشش کاوه چې د خلافت اسلامي نصاب پوره کړي او بیا یې معسکر ته واستوي، خو عادل نه منله، نو هماغه وو چې عادل باندې د سنګر مینه دومره غالبه وه چې مدرسه یې ورته پرېښوده، معسکر ته لاړ، او د تاسیسي دوره یې وکړه، د فراغت نه پس کور ته راغی خو دلته هم ورته کیناستلو هیڅ خوند نه ورکاوه، بل طرف د کفري ائتلاف زور هم دومره حد ته رسېدلی وو چې زموږ له ولکې بعضې ساحې ووتې، موږ هم اُغز ته کډه شو، هلته به عادل هم اکثره وخت خط کې وو، خو په دې یې هم قناعت نه کاوه، د عادل زړه ګرم جنګونه غوښتل چې ګرم میدان ته ورښکته شو، یا شهیدان شو، او یا د الله په دښمنانو خپل زړه یخ کړو،(دا خبره په یقین سره ثابته ده چې د کامل ایمان خاوندان همېش غواړي چې د خپل دښمن سره په ګرم میدان کې لاس په لاس شي او یو فیصله کن جنګ ورسره وکړي، او دا هغه وخت وي چې کله یې نوی هجرت کړی وي او یا هم د جنګ له میدانه زیات وخت لیرې پاتې شوی وي.

هو! دا خبره حقه ده، خو زموږ جنګ د یو نظام لپاره جنګ دی چې هغه اسلامي شریعت پلی کول دي، او دا نظام د با استعداده ځوانانو استعدادونو ته محتاج دی او په متې یې پر مخ درومي.

زما ټولو ورونو ته دا نصیحت دی چې د اسلامي خلافت په صف کې خپلې وړتیا او استعدادونه ونه سپموي، او هره برخه کې پوره کوشش وکړي، رباط وکړي، ټوپک وخوځوي خو تر څنګ یې باید خپل قلم هم تازه وساتي، او دا جهاد به په توره او دعوت سره پر مخ وړو ان شآءالله.).

کیسه رانه اوږده شوه رابه شم خپل هدف ته: نو موږ په اغز کې وو پلار ته مې د یوې اداري مشرۍ وسپارل شوه، او موږ جنګونو ته فارغ وو، په دغو ورځو شپو کې ملګرو د وزیرو تنګي د جنګ پلان ترلی وو، نو په دغه اوږد تشکیل کې عادل هم وزیرو تنګي ته د اشبالو په یوه ډلګۍ کې رخصت شو، عادل چې له مودو یې په زړه کې غوصه ساتلې وه نوره یې دلته په کم

کرایه ملېشو تشه کړه، او سختو ،سختو تعروضونو ته مخکې شو، کله چې یې سیمه د طالب ناپاک فوج څخه د رب په مدد پاکه او تصفیه کړه، نو بل طرف د افغان مرتدینو له راغلي قوي سره یې هم په جنګ کې پوره برخه واخیسته.

عادل وړوکی و، خو د هغه همت او حوصله دومره زیاته وه ، چې ټول ورته حیران وو، دا کمکی هلک نه ستړی کیده، او نه یې د جنګ او سنګر مینه په زړه کې کمیده، عادل له اوږدې مسافرۍ وروسته کورته راستون شو دلته یې مور ورته زیاته په تشویش وه، چې عادل له ملګرو چیرته په اسمانڅکو غرونو کې ورک نه شي، هغه ملګرو ته پیټی نه شي، خو خبره نه وه چې عادل هلته په خپل سر لوبی کولی او په هر جنګ کې له ملګرو مخکې روان وو،

عادل له دوه میاشتې مسافرۍ وروسته اُغز ته راستون شو په لیدلو یې مور زیاته خوشحاله شوه ، د عادل په بدن لا د ټوپک او درنې چانټې د پیټی نښې ورکې شوي نه وې چې له وړې دمې وروسته بیا د اغز خط ته لاړ او له خپلو ملګرو سره یې یو ځاې د اسلام حدود ساتل، دلته هم دومره وخت ایسار نشو چې له بل پلوه یوې استخباراتي ډلې د باندر او نازیانو په سیمه کې د اسلامي خلافت په خلاف خروج وکړ، پاڅون یې وکړ او بغاوت یې اعلان کړ، کله چې دغه جنګ ته ملګري رخصتیدل نو عادل هم خپله اسلحه ورته پاکه کړه پاتې نشو او ځان یې ورته ورساوه هلته هم له پوره تشکیل وروسته دلته په اغز کې ورته ضرورت شو، راغی او په یوه اداره کې یې خدمت شروع کړ، خو د عادل غوږونو کې د مرمیو او راکټونو شور هماغسې وو،زړه یې بیا غوښتل چې یو ګرم میدان ته ښکته شي، یوه شپه امریکایي داړه مارو د اغز په داخل کې چاپه ووهله،د بمبار یو وحشت یې جوړ کړ، خو عادل یو له هغه ملګرو څخه وو چې د چاپې تر ختمیدو ورسره وجنګیده هیڅ یې د ځان پروا ونکړه، څو څو کرت د هغه شاجورونه تش او ډک شو، د عادل ځینې ملګري شهیدان شول او عادل هم ژور ټپي شو، دوه ورځې له ملګرو ورک وو چې د عادل جسد به چیرته پروت وي، خو هغه زخمي وو او په یو ځاې کې پروت وو د تللو شیمه یې هم بدن کې نه وه، دوه ورځې وروسته ملګرو پیدا کړ روغتون ته یې انتقال کړ، خو د عادل زخمونه ژور وو دلته په نشتو امکاناتو او اسبابو د عادل تداوي هم ناشوني وه، عادل لاندي ښار ته په مخفي شکل انتقال شو، هلته یې د مجاهدینو په یوه خفیه پټنځاې کې تداوي یې شروع شوه، د وخت په تیریدو د عادل ټپونه په رغیدو وو، هغه چې د کور او ملګرو له حالې خبریده نو تمکین کې پوره حلاتو بدلون موندلی وو، پلار مو هم په دغه موده کې شهید شوی وو، تمکین ته د راتلو لارې هم پوره بندې شوې وې، بل طرف زه هم چې د خپل هدف لپاره لاندې ښار ته راغلی وم ،دلته اسیر شوم، کورنی مو هم دلته داسې حال کې وه چې موږ درې کسان وو نور ورونه مې واړه وو،ټول بې سرپرسته پاتې وو، اګر چې زموږ د یتیمانو او کونډو د کفالت اداره پوره فعاله وه ، خو زموږ پښو ته شیطان تیږې را اچولې او اندیښنه به مو لا زیاتیده.

نوعادل باندې امتحانات نور هم زیات شو، غمونه یې یو په دوه شو، زخمونه یې لا پوره نه وو روغ چې له ټپونو یې پټی خطا کړې او کنړ کې یې د مجاهدینو څنګ ته ځان ورساوه، متصل یې په خدمت پیل وکړ، دغه وخت لا د کنړ تمکین فعال وو، له یو پلوه جنګونه او له بل پلوه اداري نظام هم فعال روان وو، عادل د انتقالاتو کتیبې په څنګ کې ونیوه، عادل هم ملګرو سره په خدمت کې هیڅ سستي ونکړه، د اسلحو په انتقال کې پوره منډه وهله، او په جنګونو کې به یې پوره برخه هم اخیسته، کله چې طالبانو امریکایانو ته پوره تسلیمي ورکړه ، نو د تمکین له منځه وړل یې ورته سره کرښه تعین کړه، هماغه وو چې د ستر ائتلاف په ترڅ کې د کنړ تمکین هم د مجاهدینو له کنټرولې ووت، دا وخت نو عادل زلمی دی واده یې

هم کېږي دي، خو واده ورته د پښو زنځير جوړ نه شو او خپل جهاد ته يې ادامه ورکوله.

د تمکين له سقوطه وروسته عادل لاندې ښار ته راغی او ښاري ځلمو سره په يو ګروپ کې شامل شو، عادل يواځې د غر او سنګر ځلمی نه وو بلکې په لږه موده کې هغه د ښاري جنګ ورتيا پيدا کړه او دلته يې مرتدينو باندې وخت ناوخت له زمکې تندرونه راپاڅول او کله به يې د مرتدينو په روان موټر پوري ماينونه چسپول، له ډېرو مهارتو ترڅنګ عادل د موټر ډرايوري هم زده کړه اکثره وخت چې به کوم له خطره ډک کار وو نو په ځانته به ورتللو، او نور ملګري به يې له خطر سره نه مخ کول، زياته موده عادل په ښار کې وجنګيده، کله چې امريکا تالبانو ته د نکاح په مهر کې افغانستان ورکړ، او تالبان يې ورباندې کاغذي واکمن وبلل، نو لا تر دې دمه عادل ژوندی وو، يوه ورځ چې عادل، مخې ته يو سخت ماموريت پروت وو او بايد په ترسره کيدو کې يې ځنډ نه وای شوی، عادل موټر له اسلحې سمبال کړ، ملګرو ورته وويل موږ درسره ځو، خو عادل ونه منله او دغه لوی خطر يې په خپل سر ومانه، موټر ته کيناست او پښه يې ورکړه،

عادل ته نوري د جنت حورې انتظار کوي،نور د عادل ستړيا ختميدو ته رب د پای ټکی ږدي او په خپل نعمتونو يې نازوي، د دنيا له هرې ستړيا څخه د دمې ديرې ته د يخ سيورې لاندې دمه ږدي، په حوض کوثر خپله تنده ماتوي.

عادل جان د يو سفر په ترڅ کې د مرتدينو په يو چيک ور برابر شو،

شاته موټر کې ورسره اسلحه ده او خپله موټر ته ناست دی، خو دا ځلمی خبر نه دی چې نور نو د شهادت په دنګ منار پورته کيږي، کله چې عادل چيک پين کې ودريد مو مرتدين د تالاشۍ لپاره موټر ته نږدې شول، عادل چې په دې وپوهيده چې زما د موټر پلټنه کوي نو عادل هم نور وخت ضايع نه کړ له موټره ښکته شو او د يو مشرک په اسلحه يې ورګام کړ ترڅو له ځانه يې مخکې کړي ، خو له بلې خوا يو مرتد ورباندې له خپله ډاره مسلسل فايرونه وکړل چې بعضې مرمۍ عادل په مخامخ سينه وخوړلې او شهيد شو ان شآءالله تعالی، او له دنيا يې الله پاماني وکړه وتقبله الله تعالی

.عادل په خپل کم عمر له حسابه وتلې کارنامې وکړې، د هغه راتګ خلافت ته، د هغه جنګونه، زخمونه، خدمتونه او حتی د شهادت په درشل دننه کيدل زموږ د نوي ځوان کهول او نسل لپاره په عملي بڼه دعوت دی،عادل د خپل ژوند مقصد پيژندلی وو، او په دې لاره يې زياتې ستړياوې وګاللې ، د نورو ځوانانو لپاره يې د خپلو وينو ډيوې بلې کړې ترڅو په دې رڼه لار دده په پل کيږدي.

سوال ځواب

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو!
د مجلې په دې ګڼه کې هم د ځو پوښتنو ځوابونه وړاندې کوو په دې هیله چې که تاسې هم کومې پوښتنې لرئ نو د مجلې په ادرسونو یې له موږ سره شریکې کړئ.

پوښتنه: مجاهدینو په مینځ کې د درواغو افواګانې خپرول او د شکست خبرې خپرول څه نقصانات لري او حکم څه دی؟

ځواب: د مجاهدینو په منځ کې د دروغو افواګانې او د شکست خبرې خپرول ډېره لویه ګناه ده او دېته ارجاف وایي.

الله تعالی د داسې خلکو باره کې فرمايي:[وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا.(سورةالنساء: 83)

ژباړه: او کله چې راشي دوی ته خبر د امن یا د ویرې، نو دوی خپروي هغې لره او که رسولي وای دوی هغه خبره رسول الله ته او پوهه خلکو ته د دوی نه، نو خامخا پوهه شوي به وای په دې باندې هغه کسان چې معلوموي هغې لره ددوی نه او که چېرته نه وای فضل د الله تعالی په تاسو باندې او رحمت د هغه، نو خامخا تابعداري به کړې وای تاسو د شیطان، مګر لږو کسانو به نوی کړې.

قاسمي (رحمه الله) په مسلمانانو کې دداسې خبرو خپرولو ځلور نقصانات بيان کړي دی، چې اختصار يې په لاندې ډول دی:

۱ـ دغه قسم خبرې اکثر دروغ وي.

2ـ که چېرته دغه خبرې د امن وي نو نور زياتوالی هم ورسره کيږي، بيا چې کله دغه مبالغه او زياتوالی ريښتينی ثابت نه شي، نو د ضعيفه مؤمنانو په زړونو کې شک پيدا کيږي او که د ډار خبره وي، نو د ډېرو ضعيفه مسلمانانو د تشويش، پريشانی، حيرانتيا او د فتنې سبب ګرځي.

3ـ دا سبب ګرځي د زيات تحقيق کولو، چې ددې په وجه ډېر رازونه ښکاره کيږي.

4ـ که د مسلمانانو د امن خبره وي او خپره شي او کافرانو ته ورسيږي، نو هغوی به خپل تياری ونيسي لکه: د مجاهدينو د جنګي الاتو او يا د مجاهدينو د زياتوالي خبره وي، ځکه هره خبره چې د يو فريق لپاره د امن وي، نو د جانب مقابل فريق لپاره د خطر وي او که چېرته د ډار خبر وي او منافقان پکې مبالغه او زياتوالی وکړي، نو دا هم سبب د رعب او فتنې ګرځي، نو ددې وجې نه الله تعالی د داسې خبرو خپرولو بدي بيان کړې ده او منع يې ترې کړې. ملخصا (افاده الرازي محاسن التأويل: 3/235)

او په حديث کې نقل دي: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيِ الله عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي، قَالَا : الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ، يَكْذِبُ بِالْكَذْبَةِ، تُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ، فَيُصْنَعُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري: 6096

ژباړه: د سمره بن جندب (رضی الله عنه) نه نقل دي فرمايي: چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: ما د شپې خوب وليدو، چې دوه سړي راته راشي، نو دي دواړو راته وويل: هغه سړی چې تا وليدو چې وخکې يې څيرې کېدل، هغه دروغجن و، چې دروغ به يې ويل او بيا به ترېنه نقل کېدل، تر دې چې ډېر لرې ساحو پورې به ورسېدل، نو تر قيامته به ورسره دغه کار کيږي.

عمر بن الخطاب (رضی الله عنه) وايي:[حسب إمرئ من الكذب أن يحدث بكل ما سمع. (رواه ابن ابي شيبه) ژباړه: د سړي لپاره دومره دروغ کافي دي چې هر څه اوري نو هغه بيانوي .

او په حديث کې د شکي خبرو کولو نه هم منع راغلې .

په حديث د (ابوداو 4972)کې دي نبي (عليه السلام) فرمايي:[بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ : زَعَمُوا].

ژباړه: شکي او تخميني خبرې کول ډېره بده سورلي ده؛ د انسان لپاره.

امام خطابي (رحمه الله) وايي: چې شکي خبره هغې ته وايي چې سند او ثبوت نلري، بلکې هسې قيصې وي ،چې په ژبو جاري شوې وي، نو نبي (عليه السلام) دداسې خبرو بدي بيان کړې ده او د ثابت شوې او ثقه يعنې کره خبرې نقلولو باندې يې امر کړی دی. ملخصا (معالم السنن ۱۳۰/4)

نو مسلمان ته پکار دي چې بې ځايه خبرې خپرې نکړي، که د خير په نيت وي او که د شر په نيت وي، ځکه کچېرې د خير خبره وي او دروغ ثابت شي، نو د مسلمانانو زړونه ماتوي او که د خفګان خبرې وي، نو ضعيفه مسلمانان د جهاد نه کېنوي او قوي مؤمنان پريشانه کوي.

دويمه پوښتنه : د مجاهدينو په منځ کې دروغو او شکست د خبرو خپرول څه حکم لري؟

د دويمې پوښتنې ځواب: الله تعالی پخپل کتاب

کې د منافقینو په صفاتو کې بعضې صفات دا بیان کړي چې دوی د ویرې او شکست خبرې خپروي الله تعالی فرمایي:[وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا [12] وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِنْ يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا (سورة الأحزاب: 13)

ژباړه: او کله چې ویل منافقانو سرو او هغه کسانو چې په زړونو د هغوی کې شک و، وعده نه ده کړې مونږ سره الله او د هغه رسول مګر د دوکې او کله چې ویل: یوې ډلې ددوی نه اې مدینې والاو! نشته طاقت تاسو لره نو واپس شئ او اجازه غوښتله یوې ډلې ددوی نه د نبي)علیه السلام(نه، ویل یې چې زمونږ کورونه خالي دي او حال دا چې هغه خالي نه و، نه غواړي دوی مګر تښتېدل.

شیخ الاسلام ابن تیمیة (رحمه الله) وایي: ایت دلالت کوي په دې، چې کله په زړه کې مرض او منافقت وي، نو د هغې له وجې د امن په ریښتینو وعدو باندې په وخت د ډار کې شکونه پیدا کیږي، تر دې چې بیا د الله تعالی په ریښتینو وعدو ددرواغو ګومان کوي لکه: په دې واقعه کې داسې وشول.

بیا ددې ایت لاندې وایي: [وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا ...] نبي (علیه السلام) د مسلمانانو لښکر د سلع غره خوا کې جمع کړی و، چې دښمن او خپل مینځ کې یې خندق کنستلی و، نو یوې ډلې د منافقانو وویل: ستاسو لپاره دلته ځای نشته، ځکه چې دښمن زیات دی، نو مدینې ته واپس شئ.

دوهم قول: یا یې داسې وویل: چې تاسو طاقت د جنګ نلرئ نو د مشرکینو نه امن او پناه وغواړئ.

دریم قول: ستاسو لپاره په دین د محمد (صلی الله علیه وسلم) باندې طاقت نشته، نو شرک ته واپس شئ.

بیا وایي: همدا شان چې کله دښمنانو په مسلمانانو حمله وکړه ،نو په منافقانو کې بعضو وویل: اسلامي حکومت نور نشي پاتې کېدای، نو پکار ده چې تاتاریانو سره ملګري شو.

او بعضو خواصو پکې وویل: د شام په ځمکه زمونږ وسېدل نور نه کیږي، بلکې ددېنه به حجاز، یمن او یا مصر ته لاړ شو.

او بعضو وویل: بلکې مصلحت په دې کې دی چې تاتاریانو ته تسلیم شو، لکه څنګه چې عراق والا تسلیم شول او د هغوی د قانون لاندې به داخل شو .

نو دغه دري قسمه خبرې د تاتاریانو په جنګ کې شوې وې، لکه څنګه چې په غزوه احزاب کې شوې وې.

بیا ددې ایت لاندې وایي:[وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ] ددې ناکاره خلکو نه څه خلک و، چې ویل به یې په داسې حال کې چې خلک د نبي)علیه السلام(سره د سلع غره په خوا کې په داخل د خندق کې و او زنانه او ماشومان د مدینې په دېره کیو) غونډیو(و، نو منافقانو به ویل: اې د الله رسوله زمونږ کورونه خالي دي، یعنې د دښمن په منځ کې یې کوم حائل نشته. او حسن ویلي: چې ضائع کیږي د غلو نه پرې وېرېږو.

قتادة وایي: یعنې زمونږ کورونه دښمن ته نږدې دي، نو پخپل کور والاو باندې اطمینان نلرو، نو مونږ ته اجازه وکړه چې کورونو ته لاړ شو لپاره د حفاظت د زنانه او ماشومانو؛ نو الله جواب وکړ ،چې ددوی کورونه خالي نه

دي، ځکـه چـې الله يـې حفاظـت کـوي بلکـې دوی پـه دي بهانـه بانـدې د جهـاد نـه تښـتي. (مجمـوع الفتــاوی:450/28)

نـو خلاصـه دا شـوه چـې شکسـت خورونکـی بـه يـا خالـص منافـق وي، چـې دېتـه نفـاق اکـبر وايـي او يـا بـه يکـې يـو صفـت د منافقانـو وي چـې دېتـه نفـاق اصغـر وايـي؛ لـه دي وجـې نـه د سـورة التوبې بـل نـوم سـورة الفاضحـة دی، يعنـې هغـه سـورة چـې منافقـان يـې شرمـولي دي؛ لکـه: ابـن عبـاس (رضـی اللـه عنهـما(فرمايي:[التَّوْبَـةُ هِـيَ الْفَاضِحَـةُ، مَـا زَالَـتْ تَنْـزِلُ وَمِنْهُـمْ وَمِنْهُـمْ حَتَّـى ظَنُّـوا أَنَّهَـا لَـنْ تُبْقِـى أَحَـدًا مِنْهُـمْ إِلَّا ذُكِـرَ فِيهَـا. (متفـق عليـه)

ژبـاړه: سـورة توبـة شرموونکـی سـورة دی)منافقانـو لـره(وخـت پـه وخـت بـه نازليـده د منافقانـو صفات بـه يکـې بيانېـدل، تـر دې چـې دوی ګومـان وکـړ چې سـورة توبـة ددوی نـه هيڅـوک پـرې نـه ښـودل، مګـر پـه دې سـورة کـې ذکـر کـړی شـول.

نـو مسـلمانانو تـه پـکار دي چـې د منافقانـو د صفاتـو نـه ځـان وسـاتي.

دريمـه پوښـتنه : ايـا مجاهدينـو تـه جائـز دي چـې شکسـت خورونکـي خلـک ځـان سره جهاد تـه بوځي؟

د دريمـې پوښـتنې ځـواب: علـماوو ويـلي دي چـې شکسـت خورونکـي خلـک جهـاد تـه بوتلل حـرام دي، ځکـه چـې د دوی لـه وجـې نـه د مجاهدينـو زړونـه ماتيـږي او شکسـت او ويـره پـه صـف کـې پرېوځـي. اللـه تعالـى دا خـبره پـه دې ايـت کـې بيـان کـړې ده فرمايي:[وَلَـوْ أَرَادُوا الْخُـرُوجَ لَأَعَـدُّوا لَـهُ عُـدَّةً وَلَٰكِـنْ كَـرِهَ اللَّـهُ انْبِعَاثَهُـمْ فَثَبَّطَهُـمْ وَقِيـلَ اقْعُـدُوا مَـعَ الْقَاعِدِيـنَ [46].لَـوْ خَرَجُـوا فِيكُـمْ مَـا زَادُوكُـمْ إِلَّا خَبَـالًا وَلَأَوْضَعُـوا خِلَالَكُـمْ يَبْغُونَكُـمُ الْفِتْنَـةَ وَفِيكُـمْ سَـمَّاعُونَ لَهُـمْ وَاللَّـهُ عَلِيـمٌ بِالظَّالِمِيـنَ. (سـورةالتوبه:47)

ژبـاړه : کـه چېرتـه دوی جهـاد تـه د وتلـو اراده لرلی، نـو خامخـا دوی بـه هغـې تـه سـامان تيار کـړی وای، ليکـن اللـه تعالـى بـد ګڼـلي دي پورتـه کېـدل ددوی جهـاد تـه، نـو منـع يـې کـړل دوی لـره جهـاد تـه د وتلـو نـه او وويلـى شـو دوی تـه، کينـئ سره د کيناسـتونکو، کـه دوی وتـلي وای ستاسـو پـه لښـکر کـې، نـو نـه بـه وای زيـات کـړی دوی پـه تاسـو کـې مګـر نقصـان او خامخـا منډې بـه وهلـې وای دوی پـه مينـځ ستاسـو کـې پـه چغلخـورئ سره، دوی ستاسـو پـه لښـکر کـې اختـلاف غـوارې او پـه تاسـو کـې ددوی جاسوسـان دي او اللـه تعالـى ښـه پوهـه دی پـه ظالمانـو بانـدې.

ابـو حامـد غزالي(رحمـه اللـه) وايي:[وأمـا المخـذِّل للجيـش والمضعـف لقلوبهـم ينبغـي أن يخـرج مـن الصـف فـإن حـضر لم يسـتحق لا السـلب ولا الغنيمـة ولا الرضـخ فإنـه أسـوء حـالا مـن المنهزم...(الوسـيط في المذهـب: 544/4)

ژبـاړه: هـر چـې هغـه شـخص دی چـې شکسـت خـوروي او د لښـکر زړونـه کمـزوري کـوي، نـو پکار ده چـې د مجاهدينـو د صـف نـه ووېسـتل شي او کـه چېرتـه حـاضر شي، نـو د سـلب او غنيمـت مسـتحق نـه دی او نـه د هغـه ډالـی چـې امـير يـې د مجاهدينو لپـاره مقـرره وي، ځکـه دا د شکسـت زده انسـان نـه بدحالـه دی.

وقـال الإمـام النـووي (رحمـه اللـه): [يمنـع المخـذل مـن الخـروج في الجيـش فـإن خـرج رده فلـو قاتـل لم يسـتحق شـيئا ولـو قتـل كافـرا لم يسـتحق سـلبه والمخـذل مـن يخـوف النـاس بـأن يقـول عدونـا كثـير وخيولنـا ضعيفـة ولا طاقـة لنـا بهـم ... (روضـة الطالبـين: 240/١٠)

ژبـاړه: امـام نـووي (رحمـه اللـه) وايـي: شکسـت خورونکـی بـه لښـکر سره د وتلـو نـه منـع کولی شي، کـه ووتلـو نـو بېرتـه بـه يـې واپـس کـوي، کـه چېرته

يې جنګ وکړ، نو د هيڅ شي مستحق نه دی، که کافر يې قتل کړ، نو د هغې د سلب حقدار نه دی او شکست اچوونکی هغه چا ته وايي چې خلک ډاره وي او وايي چې زمونږ دښمن ډېر دی او زمونږ اسونه ضعيف دي او زمونږ ددوی سره د جنګ طاقت نشته.

امام ماوردي (رحمه الله) وايي: چې امام شافعي (رحمه الله) ويلي دي: څوک چې مؤمنانو کې شکست خوروي يا افواګاني خوروي او يا ددوی په خلاف د کفارو سره کومک کوي، نو خليفة به يې مجاهدينو سره د وتلو نه منع کوي، ځکه چې ددېنه مؤمنانو ته ضرر رسيږي او که چېرته غزا ته لاړ، نو حصه به يې نه وي . ماوردي (رحمه الله) وايي چې دا خبره صحيح ده، خليفة ته پکار دي چې د غازيانو تالاش وکړي کله چې غزا ته وځي، ددې لپاره چې غزا ته هغه څوک لاړ شي چې د هغې نه د فائدې اميد کيږي او هغه څوک واپس کړی شي، چې ضرر نه يې ويره کيږي. ځکه الله تعالی فرمايي:[لَو خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالا. ملخصا (الحاوی الکبير: ١٤/١٢٩)

ابوالحسين الشافعي (رحمه الله) هم دېته نږدې خبره کړې بيا هغه وايي: [فالمخذِّل هو أن يقول: بالمشركين كثرة وخيولهم جياد وسلاحهم جيِّد ولا طاقة لنا بهم لأنه يجبن الناس إذا سمعوا ذالك].

ژباړه: افواه خورونکي هغه چا ته وايي چې وايي: مشرکان ډېر دي او اسونه يې ښه دي او اسلحې يې ښې دي او زمونږ وس پرې نه رسيږي، ځکه دا خبرې چې خلک واوري نو بزدله کيږي.

په موجوده دور کې د افواهاتو مثالونه " لکه خلک دا وايي چې د کافرانو مرمۍ روغې لګيږي او جازونه(طياري) يې نوې دي او ټانګونه ورسره ډېر دي او هدف ويشتونکي يې ماهره دي وغيره...

بيا وايي:[والإرجاف هو أن يقول: وراء المشركين مدد ونصرة ووراءهم كمين وماشاكله].

ژباړه: ددرواغو تبليغات دادي چې وايي مشرکانو پسې کومک راځي او مخې ته کمينونه کوي وغيره....

(اوسني دور کې ددې مثالونه چې وايي د طيارو لښکرې به راشي او ټول کفار به رابانديې راجمع شي وغيره...)

بيا وايي که اعتراض وشي چې نبي (عليه السلام) سره خو به د منافقانو رئيس عبد الله بن ابی بن سلول هم جهاد ته وتلو او ډېرې د شکست خبرې به يې کولې؟

جواب: نو جواب دادی چې د نبي (عليه السلام) سره ډېر نيکان صحابه کرام و، چې د هغه د شکست خبرو ته به يې کومه توجو نه کوله په خلاف د نورو خلکو چې هغوی داسې نه دي. بله وجه داده چې الله تعالی به خپل نبي(عليه السلام) د منافقانو په چل او د هغوی د شکست په خبرو خبره ولو، نو څه ضرر به يې نشو رسولی په خلاف د نورو خلکو ..انتهی ملخصا (البيان في مذهب الشافعي: ١٢/١١٦)

خلورمه پوښتنه : د افواهاتو خپرونکو او شکست خپرونکو خلکو څه سزا ده ؟ يعني د مسلمانانو په خلاف د منفي تبليغاتو کونکو څه سزا ده ؟

د څلورمې پوښتنې ځواب: هر کله چې د افواه خورونکو او د شکست خبرو خپرونکو خلکو خطره ډېره زياته ده او د مسلمانانو په اجتماع باندې يې تاثير زيات دي خاصکر په مجاهدينو او د خط(رباط) په مؤمنانو، نو دداسې خلکو نيول او تعزيرول پکار دي، چې دداسې خبرو نه دوی هم منع شي او ددې پشان نور خلک هم منع شي.

دليل :الله تعالى فرمايي:[لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا [60] مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا [61] سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا (سورةالأحزاب: 62)

ژباړه: که چېرته منع نشو منافقان او هغه کسان چې په زړونو د هغوی کې مرض دی او د دروغو خبرو خپرونکي په مدينه کې، نو خامخا به تا ولمسوم ددوی جنګ ته، بيا دوی نشي وسېدلی تاسو سره په هغې کې مګر لږ، په دوی لعنت کړی شوی ،کوم ځای کې چې موندلی کېږي دوی، نيولی کېږي او وژلي کېږي به په وژلو سره، پشان د طريقې د الله تعالى په هغه کسانو کې چې مخکې تېر شوي دي ددوی نه او هيچرې به ته مونده نه کړې د الله طريقې لره بدلېدل.

جصاص (رحمه الله) ددې ايت باره کې وايي: [في هذه الآية دلالة على أن الإرجاف بالمؤمنين والإشاعة بما يغمهم ويؤذيهم يستحق به التعزير والنفي إذا أصر عليه ولم ينته عنه، وكان قوم من المنافقين وآخرون ممن لا بصيرة لهم في الدين، وهم الذين في قلوبهم مرض وهو ضعف اليقين، يرجفون باجتماع الكفار والمشركين وتعاضدهم ومسيرهم إلى المؤمنين فيعظمون شأن الكفار بذلك عندهم ويخوفونهم، فأنزل تعالى ذالك فيهم، وأخبر تعالى باستحقاقهم النفي والقتل إذا لم ينتهوا عن ذلك، فأخبر تعالى أن ذلك سنة الله وهو الطريقة المأمور بلزومها واتباعها... (أحكام القرآن: 5/245) ژباړه: په دې ايت کې دلالت دی په دې خبره چې په مسلمانانو کې د دروغو خبرې خپرول او هغه خبرې خپرول چې هغوی غمجن کوي او ضرر ورته رسوي، نو په دې سره د تعزير او د علاقې نه د شړلو مستحق ګرځي، کله چې پرې هميشوالی وکړي او منع ترې نشي او د منافقانو نه څه خلک و او نور خلک چې په دين کې يې پوهه نه لرله چې دا هغه خلک و، چې په زړونو کې يې مرض و، چې د يقين کمزوري يې وه، دوی به د کافرانو او د مشرکانو د راجمع کېدلو او د مؤمنانو په خلاف د يو بل سره ددوی کومک کولو خبرې کولې او دا خبرې به يې کولې چې دوی مؤمنانو ته راروان دي، نو د کافرانو شان به يې په دې دروغو خبرو سره مؤمنانو ته غټ ښکاره کولو او دوی به يې وېرول؛ نو الله دا ايت نازل کړ ددوی په باره کې او خبر يې په دې کې ورکړ چې دا خلک د شړلو او قتلولو مستحق دي، کله چې دداسې خبرو نه منع نشي؛ نو الله خبر ورکړ چې دا د الله هغه طريقه ده چې ددې په لزوم او تابعداری امر شوی.

او ابوالسعود (رحمه الله) " لنغرينّك بهم " په تفسير کې وايي: [لنأمرنّك بقتالهم وإجلائهم أو بما يضطرهم إلى الجلاء ولنحرضنّك على ذالك.)تفسير ابي السعود: ١١٥/7)

ژباړه: خامخا به مونږ تاته ددوی په جنګ او په شړلو امر وکړو او يا په هغه څه سره چې دوی شړلو ته مجبور کړي او تاته به په دې تيزي درکړو.

قال ابن هشام (رحمه الله): [بلغ رسول الله صلى الله عليه وسلم أن ناسا من المنافقين يجتمعون في بيت سويلم اليهودي وكان بيته عند جاسوم ، يثبطون الناس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم في غزوة تبوك فبعث إليهم النبي صلى الله عليه وسلم طلحة بن عبيد الله في نفر من أصحابه ، وأمره أن يحرق عليهم بيت سويلم، ففعل طلحة.(سيرة ابن هشام : 5/١٩٦)

ژباړه: ابن هشام (رحمه الله) وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته خبر ورسېدو چې د منافقانو نه څه خلک دي او د سویلم یهودي په کور کې راجمع کیږي، چې کور یې د جاسوم په خوا کې و، چې خلک یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه په غزوه تبوک کې منع کول، نو نبي (علیه السلام) په دوی پسې طلحه بن عبیدالله ولیږلو ورسره نور ملګري هم و او امر یې ورته وکړ، چې په دوی باندې د سویلم کور وسېزئ، نو طلحه)رضی الله عنه(دغه کار وکړ.

نو دغه منفي تبليغات کوونکي خلک که منافقان وي په نفاق اکبر سره او که په نفاق اصغر سره، په دوه قسمه دي.

١ـ هغه خلک چې پخپلو علاقو کې د کفارو نه وېره ول کوي.

2ـ هغه خلک چې په وخت د جنګ کې وېره ول کوي او منفي تبليغات کوي.

نو هغه کسان چې خلک پخپلو علاقو کې ډاره وي او د رعب او دهشت خبرونه خپروي او منفي تبليغات کوي، ددې لپاره چې څوک مجاهدينو سره يو ځای نشي، نو ددوی تعزير پکار دی چې دوی هم منع شي او نورو ته هم عبرت حاصل شي، که تعزير سره منع نشول، نو قتلول يې واجب دي؛ ځکه چې دا د الله طريقه ده چې دداسې خلکو باره کې يې بيان کړې ده الله تعالی فرمايي: [مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا [61] سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا.(سورةاحزاب: 62)

ژباړه: پر هغوی به له هرې خوا لعنت وي، هر چېرې چې وموندل شي، نيول کيږي به او په بده توګه به وژل کيږي، دا د الله کړنلاره ده چې د دغسې خلکو په باب له پخوا را روانه ده او ته به د الله په کړنلاره کې هيڅ تبديلي ونه مومې .

او که چېرې يې د مجاهدينو په مينځ کې د رباط او جنګ ساحو کې رعب خورولو او منفي تبليغات يې کول، نو د مجاهدينو مينځ نه يې ويستل واجب دي او تعزير ورته ورکول پکار دي او که چېرته جنګ کې حصه واخلي، نو په غنيمت او مال فيء کې به يې حصه نه وي، چې دې باره کې فقهاؤ تصريح کړې ده.

نو هر مسلمان ته پکار دي او بالخصوص مجاهدينو ته، چې

د خليفة سره په بيعت او اطاعت کې ثابت قدم پاتې شي او د مسلمانانو منځ کې خير خور کړي او يو بل ته د حق او د صبر

وصيت وکړي او يو بل سره په نېکيو کې همکاري وکړي.

پېښو څارل

د قبوري طالبانو مشرانو لکه د قاضيانو رئيس عبدالحکيم په يو صف کې د پاکستاني استخباراتو له رئيس سره لمونځ کوي، هغه چې زرگونه مسلمانان يې قتل او بنديان کړل او لايي هم د استخباراتو په زندانونو کې مسلمانان شکنجه کېږي، وژل کېږي او ربړول کېږي

طالبان د الله تعالی له دښمن، د صحابه وو او عائشې رضي الله عنهم له دښمن سره په يو ميز ناست وي، شپه او ورځ ,ورسره خبري کوي، په انځور کې طالبان او د رافضي ايران سفير دی، د دوی جهاد څه شو؟ د رسول الله صلی الله عليه وسلم له صحابه وو سره د دوی محبت چېرته دی؟ ای د الله دښمنانو تاسې دې هلاک شئ.

په کابل کې د جمهوري رافضي ایران د سفارت مشر، ځانګړي استازي او د شرکي انقلاب د جنرال حسن کاظمي قمي سره د ملا شهاب الدين دلاور کتنه، دواړه خواوو په دې لیدنه کې د طالبانو او روافضو د اړیکو پر پرمختګ ټینګار وکړ

د شیطان خمیني د انقلاب د بریا د لمانځلو په مناسبت په کابل کې د رافضي ایران په سفارت کې جوړې شوې غونډې ته د طالب ملیشو یو چارواکي شیرمحمد عباس ستانکزي وویل: د ایران او افغانستان تر منځ په ټولو برخو کې اړیکې او پرمختګ ضروري دی.

هغه خمیني چې امارت یې په خوشالۍ کې د انقلاب د بریا په موخه په ننګرهار کې د ایران په کونسلګرۍ کې غونډه نیولې وه، د اهل سنتو له سترو دښمنانو څخه دی، او خپل مشران په انبیاوو او پیغمبرانو هم غوره ګڼي، خمیني وایي: (زمونږ د مذهب له ضروریاتو څخه دادي چې زمونږ د امامانو داسې لوړ مقام دی چې نه ورته مقربې ملائکې رسیږي او نه رالیږل شوی نبي) مرتد خمیني همدارنګه وایي: (اسلامي او غیر اسلامي نړۍ تر هغې زمونږ په قوت اعتراف نه کوي تر څو مو چې مکه او مدینه نه وي نیولي، او زه چې کله مکې او مدینې ته فاتح داخل شوم نو لومړی دنده مې داده چې دوه بوتان ابوبکر او عمر له قبرونو څخه راوباسم) وایي: (هر نبي د دې لپاره راغلی چې په نړۍ کې عدل خپور کړي، مګر ټول انبیاء په خپل هدف کې پاتې راغلي دي، تر دې چې خاتم المرسلین هغه چې د بشریت د اصلاح، د عدل د تنفیذ او د خلکو د تربیت لپاره رالیږل شوی و هم په خپل وخت کې نه و بریالی شوی او إمام مهدي به په دغه ټولو کې بریالی کیږي) [مجلة طهران ټایمز

[1980/06/29

خمیني زندیق مرتد د صحابه وو باره کې وايي: (دا يوه فرصت طلبه او انتظار کوونکې ډله وه) دارنګه د صحابه کرامو باره کې وايي: (دا يوه مشهوره ډله چې د هغه (نبي عليه السلام) له وفات وروسته يې د واک او چوکۍ لپاره يو بل سره ښکر اړم کړی و) [کشف الأسرار ص ۱۲۳] والعياذ بالله.

دا ملحد دارنګه وايي: (مونږ د شيخينو او د قرآن سره د هغوی د مخالفتونو، د إله په احکامو د هغوی په لوبو، له ځانه حلال او حرام ګرځولو او د نبي صلی الله عليه وسلم د لور فاطمې پر ضد د هغوی د ظلم په اړه نه وايو، بلکې مونږ د إله او د دين په أحکامو د دوی جهل ته اشاره کوو) [کشف الأسرار للخميني ص ۱۲۶].

د أمير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه باره کې وايي: (د ابن خطاب خبرې په چل او دوکه ولاړې دي چې له کفر او زنديقيت څخه سرچينه اخلي) [کشف الأسرار للخميني ص ۱۳۷].

وايي: (هر چې عثمان، معاويه او يزيد دي، نو دا ټول ښه پېژني) هدف يې دادی چې دا نيکان نه وو، والعياذ بالله. [کشف الأسرار للخميني ص ۱۲۷].

خميني مرتد او خبيث زناکار و، هغه په خپل کتاب تحرير الوسيلة کې د وړه ماشومې څخه هم فايده اخيستلو ته حلال وايي، هغه وايي: (هر چې خوند اخيستل دي، لکه په شهوت سره لمس کول، غاړه اخيستل او پنډۍ نه شهوت پوره کول دې کې باک نشته، اګر که وړه ماشومه وي) [ج ۲ ص ۲۴۱]

قبرپرسته طالب ملېشې په افغانستان کې واک ته په رسېدو نشه شوي، تر دې چې الولاء والبراء يې هېره کړه او د ليونو او احمقانو په څېر وګرځېدل، تر دې چې نه پوهېږي څه کوي، د شېرمحمد عباس ستانکزي انځور ته وګورئ څنګه د سېکولر مرتد أتاتورک د انځور احترام کوي او تر سيوري لاندې يې ناست دی. سيکولر مرتد تر انځور او د سيکولر مرتد دولت تر بيرغ لاندې، آيا د شريعت له نظره دا سم دي؟ طالبان سره د دې چې د الله تعالی په قوانينو فيصلې نه کوي، او د افغانستان له حدودو بيرون د دين نوم نه غواړي، په نوره نړۍ کې له سيکولرانو سره د دوی مشکل نشته، طالبان د منافق لپاره څه يو ښه مثال دی.

د نشـه يـي توکـو قاچاقـبرې طالـب ملېشـي د اللـه تعالـى لـه دښـمن، د مسـلمانانو، ماشـومانو او تـور سرو د وژونکـي سره مصافحـه کـوي، د هغـوى سره روغبـړې کـوي چـې پـه زندانونـو کـې يـې زرګونه مسـلمانان بنديـان دي او شـپه او ورځ ربـړول کېـږي، ولا حـول ولا قـوة إلا باللـه.

د وطنـي طالبانـو د حکومـت د دفـاع وزيـر مـلا يعقـوب او لـوى درسـتيز قـاري فصيـح الديـن د تيـر افغـان مرتـد حکومـت لـه يـو شـمېر پوځـي جنرالانـو سره وکتـل.

زړه غمجـن کېږي او سـترګې اوښـکې تويـوي کلـه چـې مونـږ د اهل سـنتو ماشـومانو پـه عـراق کـې د روافضـو پـه زندانونـو کـې او مسـلمان ځوانان پـه خـوب او غفلـت وګـورو، إلـى الله المشـتکى، امـت بـه کلـه لـه غفلـت څخـه بيداريـږي، قسـم پـه اللـه اى روافضـو، پـه عـراق کـې مسـلمان زمـري شـته چـې د اللـه تعالـى پـه فضـل او قـوت سره بـه تاسـې ټوټـه ټوټـه کـړي.



په پاکستان کې د جماعت لا اسلامي امير د پاکستاني مرتدو پوځيانو په وژل شويو ژاړي.

د سيفي صوفيانو مرتده ډله د ځمکې په هر ځای کې او په ځانګړې ډول افغانستان او پاکستان کې د الله تعالی او مؤحدينو سرسخته دښمنان دي، د يادونې وړ ده چې 60% شپيته سلنه امارت له سيفي مشرکينو تشکيل شوی دی.

قبرپرسته تسليم شوي امارت ته امريکا څنګه د اونۍ څلويښت ميليونه ډالر رالېږي، حال دا چې د امريکا کوڅې د فقيرانو او مسکينانو څخه ډکې دي، آيا کافران د طالبانو امير ملا هيبتوف ته مفته پيسې رالېږي؟ که نه د طالبانو او امريکا ترمنځ منظمه همکاري شته چې په افغانستان کې د مجاهدينو او د جهاد د ختمولو لپاره دسيسې جوړې کړي؟

عـمار يــاسر د اســتاد يــاسر ځــوی، د وطنــي طالبانــو د حکومـت ملاتــړی د ســيکولر د سرلاري او د ســيکولريزم تــر بيــرغ لانــدې، والعيــاذ باللــه، د دې عــمار خوينـدو د پيښـور پــه ســلفي مدرســو کــې درس وايــه او دا هــم ســلفيت تــه منســوب و، پــه 2016 کــې غالبــا دوی د دوحــې ويــزې راغلــې او ټــول قطــر تــه لاړل او د قــبر پرســته امارتيانــو لپــاره يــې خپــل ديــن او عقيــده وپلورلــه، او عــمار يــاسر پــه هغــه څــه ډيــر ښــه پوهېــږي چــې زه يــې وايــم؟

مرتــد مــلا نعيــم وردګ چــې يــو وخــت يــې د پيښــور پــه إمـام أبـو حنيفـه معهـد کـې صحيـح عقيـده او عــربي ژبــه تدريســوله، د صحابــه وو د محبــت شــعارونه يــې پورتــه کــول او د أســتاد أحمــد ظاهــر اســلميار سره بــه يــې د (ديموکــراسي شرک او کفــر دی) پــه اړه بيانونــه کــول، خــو نــن د ديموکراســۍ او ســيکولريزم د بندګانــو او د صحابــه وو د دښــمنانو سره شــپه او ورځ پــه دوحــه کــې ملاقاتونــه کــوي.

تــر نــن ورځــې لا د ســوېډن مؤسســې پــه افغانســتان کــې د طالبانــو د وطنــي حکومــت پــه ســيوري کــې کار کــوي، سره د دې چــې ســوېډن د قــرآن بــې عــزتي وکــړه، هغــه يــې وســوځاوه او د هغــې ورقــې يــې ځيــرې کــړې.

ملا متقي د الله د دښمن د ملل ملحده (ملګرو ملتونو) د سرمنشي له نائب مارټن ګریفیث سره د یو لوړپوړي پلاوي سره راغلی و وکتل.

د سره صلیب او هلال أحمر مؤسساتو د نړیوال اتحاد رئیس د الله دښمن الکساندر ماتیو د قبرپرسته طالب ملېشو د بهرنیو چارو له وزیر ملا متقي سره وکتل.

شعبان
١۴۴۴ هـ
ویډیویي
خپرونه
اسلامي نظام که د امریکا دام
دا د هغه علمي، تحقیقاتي، مستندې او مدللې ویډیو نوم دی، چې د طالب
مرتدینو په ګډو اسلام ماتونکو کړنو نه یوازې د قران او سنت په رڼا کې بحث
شوی، بلکې ددې ویډیو په لیدو به لیدونکي په عملي شکل د طالب مرتدینو د کفر
بیلګې وګورې او په لیدو به یې نور خلک څه ، چې خپله طالب مرتدین هم په دې
قانع شي او دا به په پټه ځان سره تسلیم کړي چې دوی مرتدین دي که څه هم د کبر
او عناد له امله په خپل ردت اعتراف نه کوي.
ډیر ژر...
له العزائم خپرندویه ادارې څخه ان شاءالله
مؤسسة العزائم الإعلامية
یې وړاندې کوي

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي
العزائم
ارک
باذن الله تعالی
به مو قبرستان ګرځوو